ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه

Malalay Institute of Higher Education


# ملالۍ


علمي او څېړنيزه مجله

دوهم کال، دوهمه ګڼه، کب، ۱۴۰۱ ل.



## کتنپلاوی:

- پوهنوال دوکتور محمد مزمل اسلامي
- پوهنوال دوکتور مصباح الله عبدالباقي
- پوهنوال دوکتور بلال احمد رحيمي
- پوهندوی دوکتور نجيب الله صالح
- پوهنمل ډاکټر محمد هارون ستانکزی
- پوهنيار حبيب الرحمن رحماني
- پوهنيار حکمت الله مُلکي
- استاد عبدالرحمن سعيد

# ملالۍ

**علمي او څېړنيزه مجله**

ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه

علمي چارو معاونیت

څېړنیز مرکز آمریت

**مجلې نوم:** ملالۍ علمي او څېړنیزه مجله

**د امتیاز څښتن:** ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسه

**مسئول مدیر:** پوهنیار حبیب الرحمن رحماني

**ډیزاین:** محمد فهیم وقار

**کال:** کب، ۱۴۰۱ ل.

**ګڼه:** دوهمه

**ګچه:** 10.4 x 7.6

**د مخونو شمېر:** ۱۱۸

**پته:** دوهمه عینو مېنه، ختیځ لور ته، ۲۸ فرعي سړک. کندهار، افغانستان.

**برېښنالیک:** Info@malalay.edu.af

**د اړیکي شمېره:** 0703300634

**د چاپ ځای:** رحیمي مطبعه کندهار

**د چاپ حقوق ئې محفوظ دي.**

## د دې ګنې خېړونکي

| شمېره | خېړونکی | دنده | موبایل شمېره | برېښنالیک |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | سمیع الله عزام | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد | 0703931702 | samiullah.ezam@gmail.com |
| ۲ | عبدالرحمن اڅکزی | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد | 0704782018 | achakzaiabdulrahman@gmail.com |
| ۳ | امین الله سالک | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد | 0704006019 | aminullah.salik@gmail.com |
| ۴ | خدای نور شریف زی | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد | 0782915746 | sharifzai788@gmail.com |
| ۵ | عبدالله محمدي | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد | 0770078989 | Abdullahmohammadi784@gmail.com |
| ٦ | محب الله شُبیر | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد | 0706667703 | mshoubair@gmail.com |
| ۷ | نصرت الله حبیب زی | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد | 0788848160 | nasrathabibzai012@gmail.com |
| ۸ | ډاکټر احمد شاه عمر | طب پوهنځي رئیس | 0700302681 | dr.ahmadshah31@gmail.com |
| ۹ | ډاکټر محمد ایمل رحیمي | د کلینیک څانګي امر | 0700906116 | aimal.rahemi786@gmail.com |
| ۱۰ | وکیل احمد هیوادمل | د پارا کلنیک څانګي امر | 7063400630 | W.hewadmal@gmail.com |
| ۱۱ | شجاع آرین | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد | 0798527829 | shujaaryen@gmail.com |

# د پیل خبري

الحمد لله الذي علم بالقلم ، علم الإنسان ما لم يعلم ، والصلاة والسلام على نبي الأمم ، سيدنا محمد الأجل الأكرم ، وعلى آله وصحبه ، ومن تبعهم بإحسان إلى اليوم الأعظم. قال الله تبارك وتعالى في كلامه العزيز.

اعوذبالله من الشيطن الرجيم ، بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ.

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (١) خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ (٢) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (٣) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (۴) عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ (۵).

په پیل کې ټولو لوستونکو ته د ملالۍ علمي څېړنيزي مجلې د دوهمي ګڼې د چاپ او خپرېدو مبارکي وایم او ترڅنګ یې له ټولو استادانو او اداري کارمندانو څخه د زړه له کومي مننه کوم، په ځانګړې ډول د څېړنیز مرکز آمــر او د مــجــلې مــدیــر محترم پوهنیار حبیب الرحمن رحماني صاحب، د نشراتو او فرهنګي چارو آمر محمد فهیم وقار او د دغه علمي مجلې له کتنپلاوي څخه چې د مجلې په تهیه، ترتیب، تصحیح او سمونه کې یې شپه او ورځ زیار ګاللی دئ.

علمي څېړني د علومو د تولید او پراختیا په برخه کې ځانګړی ځای لري، د انتاج او تولید په کمیت او کیفیت یې اغېز مثبت وي او د ټولنو په حیاتي برخه کې له بنسټیزو عواملو څخه شمېرل کېږي. څېړني ستونزي تشخیصوي، حل لاري یې څرګندوي او ټولني د سوکالۍ په لور بیایي. په اوسني عصر کې څېړنه په نړۍ واله کچه مهمه موضوع ګڼل کېږي، ځکه آرام، پرمختللی او له نوښتونو ډک ژوند یوازي د علمي څېړنو له ترسره کولو وروسته ممکن دئ. څېړني پېچلي موضوعات واضح کوي، حقایق څرګندوي، د سم او ناسم ترمنځ تفکیک ته لاره هواروي او د څېړني د موضوع پوښتني جوابوي خو په هغه صورت کې چې ارقام یې سم را ټول، تحلیل او نتایج یې له ذیربط مراجعو سره شریک سي. څېړني د تحصیلي بنسټونو له محوري دندو څخه شمېرل کېږي، د غوره تحصیلي مرکز د اعتبار اخیستلو معیار څېړني دي، هر تحصیلي مرکز د څېړنو له پاره بودجه ځانګړې کوي؛ اشخاص ګماري، استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو ته په دې برخه کې د کار کولو تر څنګ روزنه ورکوي.

ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسې علمي څېړنو ته پوره پاملرنه کړې ده؛ د علمي څېړنو له پاره یې کافي بودجه، مجهز مرکز او مسلکي اداري تشکیل رامنځ ته کړی دئ. د نېکمرغۍ ځای دئ چې د ملالۍ علمي څېړنیزي مجلې دوهمه ګڼه چاپیږي، په دې ګڼه کې په بېلابېلو طبي، حقوقي او ټولنیزو موضوعاتو څېړني ترسره سوي دي او زه مطمین یم چې د نتایجو له برکته یې علوم په کمي او کیفي لحاظ تقویه کېږي. ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسې د څېړنو په برخه کې خپل ماموریت ترسره کړ، نو لازمه ده چې اړوند مراجع له دې سترياوو څخه د ټولني په پرمختګ کې ګټه واخلي او پرېنږدي چې د استادانو، اداري کارمندانو او محصلانو خوارۍ خپل هدف ته و نه رسېږي.

په پای کې یوځل بیا ټولو لوستونکو او د ملالۍ لوړو زده کړو مؤســســې اســتادانو، اداري کارمندانو او محصــلانو ته د ملالۍ علمي څېړنیزي مجلې د دوهمي ګڼې د چاپېدو مبارکي وایم، له الله تعالی جل جلاله څخه غوښتنه کوم چې زموږ لیکوالانو او باحثینو ته د جدي بحثونو او لیکنو له لاري د علم په رشد او پرمختګ کې د خپلي ونډې درلودلو توفیق ورکړي.

**استاد عبدالرحمن سعید**

**د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې علمي مرستیال او سرپرست رئیس**

## د مطالبو فهرست


**د کندهار دولتي ښاري ښوونځیو د نارینه زده کوونکو د سویې ټیټوالي عوامل............................... 1**

عبدالرحمن اڅکزی او امین الله سالک

**په کندهار ښار کي د قومي شوراگانو او قومي بې اتفاقی تر منځ اړیکه - پیوسته څېړنه .................. 12**

محب الله شُبیر

**کندهار کي پر ماشومانو د شاقه کار اغېز ................................................ 25**

سمیع الله عزام

**په کندهار ولایت کي د آنلاین زده کړیز بهیر د عدم مؤثریت عوامل ........................................ 37**

عبدالله محمدي

**په کندهار ښار کي د داخلي بې ځایه سویو د وظیفوي مشغولتیا څرنگوالی ............................ 49**

نصرت الله حبیب زی

**په کندهار کي د جرایمو پر زیاتوالي د بېکارۍ اغېز ............................................. 61**

عبدالرحمن اڅکزی

**د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو له خدماتو څخه د زده‌کوونکو رضایت ........................................ 73**

خدای نور شریف زی

**د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د طب پوهنځي په محصلانو کښي د خوب کیفیت ........................... 89**

ډاکټر احمد شاه عمر (MD,MPH)

**د کندهار ښار له خصوصي روغتونو څخه د ناروغانو رضایت ................................................100**

د طب پوهنځي محصلان

**د کندهار په ولایت کي لوړو زده‌کړو ته د دوولسم ټولگي زده‌کوونکو دلېوالتیا کچه .......................110**

د حقوق او سیاسي علومو پوهنځي محصلان

# د کندهار دولتي ښاري ښوونځیو د نارینه زده کوونکو د سویې ټیټوالي عوامل

عبـدالرحمن اڅکزی او امین الله سالک
ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسې، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استادان
abdulrahmanachakzai2019@gmail.com
0704782018
aminullah.salik@gmail.com
0704006019

**لنډيز**

ټولني ته د غوره، مسلکي او په ملي او اسلامي روحیه د روزل سویو اشخاصو په وړاندي کولو کي د هغوی د سویې ټیټوالی او لوړوالی بنسټیز رول لري. د دې څېړني موخي دا وې چي د کندهار دولتي ښاري ښوونځیو د نارینه زده کوونکو د سویې د ټیټوالي عوامل معلوم سي چي تر ډېره یادو موخو ته رسېدلي یو. داچي ځیني عوامل شتون لري چي د زده کوونکو د سویې پر ټیټوالی او لوړوالی مستقیم اغېز لري، نو دا هر څه د یادي موضوع پر اهمیت دلالت کوي او اړتیا را منځ ته کوي چي په دې عنوان څېړنه وسي. بناءً، دغه څېړنه د کندهار د دولتي ښاري ښوونځیو د نارینه زده کوونکو د سویې ټیټوالي د عواملو اړوند تر سره سوې او لازم معلومات پکښې را ټول سوي دي. دا یوه میداني څېړنه ده چي ډاټا ئې د کندهار دولتي ښاري ښوونځیو د لیسې دورې د ۱۸۰ نارینه زده کوونکو څخه د پوښتنلیکونو په واسطه را ټوله سوې ده. تر لاسه سوې ډاټا د SPSS په واسطه تحلیل سوې ده چي په پایله کي یې د زده کوونکو د سویې د ټیټوالي بېلا بېل عوامل لکه د کورنۍ، استادانو او ښوونځي له خوا نه تشویق، د اقتصادي ستونزو زیاتوالی، د درس سره نه علاقه، په واسطه کامیابېدل، د زده کوونکو له لخوا د ګېمونو، فلمونو، تلیفون او انټرنیټ زیات کارول، د کورنۍ او مشرانو نه پاملرنه، د استادانو بې غوري، د مسلکي استادانو کمښت او پر خپلو مضامینو یې نه حاکمیت، د مناسب درسي چاپیریال نه شتون، د زده کوونکو او استادانو له خوا غیر حاضري، د درسونو زیات لوډ، د عملي، لابراتواري او ورزشي فعالیتونو نه شتون/ کموالی، د درسي کتابونو کمښت او په ټولنه کي د باسواده کسانو بې کاري پېژندل سوي دي چي په پایله کي یې هر کال د کانکور له لاري یو شمېر زده کوونکي د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو په موخه پوهنتونو ته لار نه سي موندلای.

**کلیدي کلمې:** زده‌کوونکی، سویه، ښاري ښوونځي، عوامل

## پېژندنه (Introduction)

زده کړه او تعلیم د ټولني د هر فرد اساسي حق دئ. د افغانستان د اساسي قانون له مخي اساسي تعلیمات د هیواد پر هر تبع اجباري دي، نو والدین، ټولنه او دولت مکلفیت لري چي د ټولني ځوان نسل ته د تعلیم او تربیې زمینه برابره کړي. د ۱۳۸۲اساسي قانون، ۴۳ ماده دې موضوع ته داسي اشاره کوي: (زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دئ چي د لیسانس تر درجې پوري وړیا د دولت له خوا تأمینېږي. دولت مکلف دئ چي په ټول افغانستان کي د متوازن معارف د عامولو او د منځنیو اجباري زده کړو د تأمین له پاره اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبیق کړي او د مورنیو ژبو د تدریس له پاره په هغو سیمو کي چي پرې خبري کېږي لاره هواره کړي.). البته، زده کړه یوازي د نارینه وو، نه بلکي د ښځو حق هم دئ. د اساسي قانون ۴۴ ماده: (دولت مکلف دئ د ښځو د زده کړو د پراختیا او توازن د ایجاد په منظور د کوچیانو د زده کړو د ښه والي او په هیواد کي د بې سوادۍ د له منځه وړلو له پاره اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبیق کړي). همدا زده کړه ده چي پر مټ یې کولای سو د ځان او نورو حقوق او وجایب و پېژنو او د ټولني په پرمختګ کي خپل مسؤلیت په سم شکل اداء کړو. له همدې امله اساسي قانون د زده کړي حق د هر افغان له پاره په رسمیت پېژندلی او دولت یې مکلف کړی دئ چي د خپلو امکاناتو په نظر کي نیولو سره افرادو ته په هر ځای او هر وخت کي د متوازني زده کړي زمینه برابره کړي. د اساسي قانون ۱۷ ماده: (دولت په بېلا بېلو سطحو کي د معارف د ودي او د دیني زده کړو د پراختیا، د جوماتونو، مدرسو او دیني مرکزونو د وضعي د ښه والي او تنظیم له پاره لازم تدبیرونه نیسي).

زده کړه د اسلام په مبارک دین کي هم له بنسټیزو حقوقو او ارزښتونو څخه ګڼل کېږي چي پر مټ یې انسان کولای سي ځان او خپل رب په ښه توګه وپېژني. د قرانکریم لومړنی پیغام چي بشریت ته یې راوړ زده کړه او علم وو. الله جل جلاله فرمایي: (اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (١) خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ (٢) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (٣) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (٤) عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ (٥).) ﴿العلق: ١- ٥﴾. ژباړه: اې پیغمبر صلی الله علیه وسلم! و وایه د خپل رب په نوم چي هغه ټول مخلوقات پیدا کړي دي. د کلکي سويویني له یوې ټوټي څخه یې انسان هست کړ، ولوله، او ستا رب ډېر مهربان دئ، چي هغه د قلم په مرسته انسان ته علم وښودئ، انسان ته یې هغه علم ورکړ چي هغه پرې نه پوهېدئ. په هر صورت، د دې له پاره چي زده کړیز او تعلیمي سیستم په سم شکل مخته ولاړ سي او د افرادو یاد حق په صحیح ډول تأمین سي، نو دولت د معارف قانون چي ۱۱ فصلونه او ۵۲ مادې لري د ۳/۵/۱۳۸۷ل. کال په ۹۵۵ ګڼه رسمي جریده کي خپور کړی دئ چي د تطبیق مرجع یې د پوهني وزارت دئ او بنسټیزي موخي یې عبارت دي له: د ټولیز، متوازن او عادلانه ښوونیز او روزنیز نظام رامنځ ته کول، د اسلامپالني، وطنپالني او ملي یووالي د روحیې پیاوړتیا، د دیندارو او د ټولني له پاره د ګټورو غړو په توګه د اطفالو او تنکیو ځوانانو روزل ... .

اوس په ټول افغانستان او په ځانګړي ډول په کندهار کي د بېلا بیلو عواملو (په سیاسي او اقتصادي برخو کي د دولت انزوا، د مسلکي بشري قوې فرار، د کرونا ناروغۍ خپرېدا، د بېکارۍ د کچي زیاتوالی، د نظام تغیرېدل او داسي نورو) له امله زده کړه ییز سیستم ټکنی سوی دئ. که څه هم فعلاً په کندهار کي دولتي ښاري ښوونځۍ د زده کوونکو پر مخ خلاصي دي، خو د امکاناتو د نه شتون او په ټولنه کي د حاکم غربت له امله په مناسب او معیاري شکل ښوونیز خدمات ټولني ته نه سي وړاندي کولای، نو هغه موخه (د دیندارو او ټولني له پاره د ګټورو غړو په توګه د اطفالو او تنکیو ځوانانو روزل... ) چي د معارف په قانون کي دولت د ښوونیز سیستم له تطبیق څخه درلوده لاسته نه راځي. ځکه همدا اوس فعلاً پر بشپړ او هر اړخیز نصاب او مسلکي ښوونکو نه لرلو سربېره د کندهار دولتي ښوونځیو درې لکه زده کوونکي درسي کتابونه نه لري چي په پایله کي یې د زده کوونکو د سویې ټیټوالی رامنځ ته کېږي. ځکه په کانکور کي په کم تعداد د زده کوونکو کامیابېدل، په ځانګړي ډول د خپلي خوښي وړ پوهنځۍ ته، لوړي

زده کړې نه کول یا په جریان کې پرېښودل، په کاري محیط کې د دندې په تر لاسه کولو نه توانېدل او داسې نورو څخه په واضح ډول ښکاري چې د نوموړو زده کوونکو سویې ټیټې دي.

### د څېړني ستونزه (Research Problem)

د بېلا بېلو عواملو له امله د دولتي ښاري ښوونځیو د نارینه زده کوونکو د سویې ټیټوالی او د یاد ټیټوالي د عواملو نه څرګندتیا هغه ستونزه وه چې دا اړتیا یې رامنځ ته کړه، تر څو په یاده برخه کې څېړنه وسې او د کندهار دولتي ښاري ښوونځیو د نارینه زده کوونکو د سویې د ټیټوالي اړوند ربښتینې ډاټا را ټوله، تحلیل او د یوې منظمې څېړنې په شکل ټولنې ته وړاندې سي.

### د څېړني اهمیت (Significance of the study)

د هیواد جوړولو او ټولنې ته د مسلکي او غوره خدماتو تر سره کولو له پاره او په اسلامي او ملي روحیه د روزل سوو اشخاصو په وړاندې کولو کې د سویې د کچې ټیټوالی او لوړوالی بنسټیز رول لري. متاسفانه نن ورځ په افغانستان او په ځانګړې ډول د کندهار د دولتي ښاري ښوونځیو د نارینه زده کوونکو سویه د بېلا بېلو عواملو له امله ټیټه سوې ده چې په پایله کې یې د شریعت او قانون د غوښتنو او د ټولنې د اړتیاوو پر خلاف غیر مسلکي، غیر متعهد او په ټیټه سویه فارغ زده کوونکي ټولنې ته وړاندې کېږي چې د ټولنې د خدمت او ګټو د خوندیتوب پر ځای برعکس د ټولنې د اوږو بار ګرځي. بناءً، دا چې د سویې د ټیټوالي او کموالي کچه د جرایمو په زیاتوالي/کموالي او د ټولنې په جوړولو/ خرابولو کې رغنده رول لري. نو دا هر څه د یادي موضوع پر اهمیت دلالت کوي او دا اړتیا را منځ ته کوي چې په دې عنوان څېړنه وسي او  هغه عوامل را برسېره سي چې د دولتي ښاري ښوونځیو د نارینه زده کوونکو سویو د ټیټوالي لامل ګرځېدلي دي.

### د څېړني موخه  (Research Objective)

د کندهار دولتي ښاري ښوونځیو د نارینه زده کوونکو د سویې ټیټوالي عوامل معلومول.

### د څېړني پوښتنه (Research Question)

د کندهار دولتي ښاري ښوونځیو د نارینه زده کوونکو د سویې ټیټوالي عوامل څه دي؟

## د څېړني اړوند پخوانیو آثارو ته کتنه  (Literature Review)

که څه هم  د کندهار ښاري دولتي ښوونځیو د نارینه زده کوونکو د سویې ټیټوالي عواملو اړوند کومه مشخصه څېړنه یا لیکنه شتون نه لري، مګر بیا هم ځیني لیکني شتون لري چې دلته یې د ځینو یادونه کېږي.  منصوري ( ۲۰۱۳م). هیواد کې د کوچیانو او کارکوونکو غریبو ماشومانو د تعلیم ستونځې او د حل یو څو پیشنهادي لارې بیان کړې دي. په دې لیکنه کې د کوچیانو او غریبو کارکوونکو د تعلیم ستونځې لکه کوچیتوب او کورنۍ فقر او ناخوالې او هم یې د حل ځیني پیشنهادونه لکه یوازې ابتدایه تعلیم، یو معلمه سیار دهاتې ښوونځۍ، مضمون واره ښوونځۍ، تعلیمي ستېشنونه، لیلیه لیسې او داسې نور پکې توضیح او تشریح سوي دي.

نادم (۲۰۱۹م) د کندهار ښوونځیو زده کوونکي د کتابونو له کمښت سره مخ دي. په دې راپور کې د کتابونو نه شتون او د زده کړو په برخه کې یې پر منفي اغېز بحث سوی دئ. ندا (۲۰۱۹م) چرا شاګردان مکاتب دولتی نمی توانند در مسابقات بین المللی شرکت کنند؟. په دې راپور کې پر هغه عواملو بحث سوی دئ چې له امله یې د  مکاتبو شاګردان نه سي کولای چې په نړۍ والو مسابقاتو کې ګډون وکړي. دوی د تدریس ټیټ کیفیت او د درسي لوازمو نه شتون د نه ګډون عوامل یاد کړي دي. آوا، مکاتب دولتی از کیفیت پایین برخوردار اند. په دې راپور کې د هیواد د بچیانو د تعلیم او تربیې په برخه کې د یوې قوي او ملي ارادې نه شتون او

د پوهنې وزارت عدم توجه د دوی د کیفیت د کموالی لامل ګڼل سوی دئ. نورمدین بلخېل (۲۰۱۸/۲/۳م) په ټولګي کي ځيني ښوونکو ته ولي زده کوونکي غوږ نه نيسي؟ په دې ليکنه کي پر تدريس د استاد نه حاکميت، لازمه اماده ګي نه نيول، د ږغ لوړوالی او ټيټوالی، د شاګردانو له سوې سره مناسب تدريس نه کول، لغت پراني، د عقايدو توپير او داسي نور عوامل يې په ټولګی کي ښوونکي د شاګردانو د غوږ نه نيولو لامل بللي دي.

نصيب الله ذکي(۲۰۲۲/٦/۱۰م) له ښوونځي څخه د زده کوونکو د تېښتي لاملونه. په دې ليکنه کي د کورنۍ نه پاملرنه، ناوړه او بد ملګري، په کورني چاپيريال کي د عاطفې نه شتون، د ماشومانو د تګ او را تګ اړوند د مناسب کنټرول نه شتون، کمزورۍ اقتصادي حالت، د تفريحي فرصتونو نه شتون، کورنی تاوتريخوالی، لازم نظارت نه شتون، په ناوړه نومونو د زده کوونکو مخاطب کول، د مور او پلار له لاسه ورکول، د پر تدريس د استاد نا حاکميت، د ښوونځي د چاپيريال نه خونديتوب، د زده کوونکو له سويو سره د نصاب نه برابروالی، له کوره بهر د پلار ډېره بوختيا، په ټولګيو کي د زده کوونکو د شمېر زياتوالی، د کور او ښوونځي ترمنځ اوږد واټن او داسي نور له ښوونځي څخه د زده کوونکو د تېښتي لاملونه ګڼل سوي دي. خو د زده کوونکو د کورنيو او زده کړه ييزو مشکلاتو پېژندل او حلول، د پرامنه تفريحي او زده کړه ييزه چاپيريال برابرول، د والدينو کنټرول او څارل او زده کوونکو ته د يو ښه ذهنيت ورکول يې بيا له ښوونځي څخه د زده کوونکو د تېښتي د مخنيوي لارو چارو په توګه وړانديز کړي دي.

په پورتنيو څېړنو، ليکنو او راپورونو کي د کوچيانو، او کارګرو غريبو زده کوونکو پر تعليمي ستونزو، د کتابونو نه شتون، فقر او کورنۍ ناخوالو، په ټيټ کيفيت تدريس، د دولت پر عدم توجه  او ځينو نورو موضوعاتو عام بحثونه سوي دي،  خو په ځانګړي ډول د کندهار دولتي ښاري ښوونځيو د نارينه زده کوونکو سويې ټيټوالي د عواملو اړوند ليکنه/ څېړنه شتون نه لري، ځکه نو ياده موضوع د څېړني له پاره وټاکل سوه، ترڅو د کندهار دولتي ښاري ښوونځيو د نارينه زده کوونکو د سويې ټيټوالي عواملو په هکله کره او رښتيني معلومات راټول او د يوې منظمي او باکيفيته څېړني په شکل ټولني ته وړاندي سي.

## مواد او ميتودونه (Materials & Methods)

دا يوه مختلطه (کمي او کيفي) ميداني څېړنه ده چي د ۱۴۰۰ل. کال له جدي څخه د ۱۴۰۱ کال تر سرطان پوري د اووه مياشتو په ترڅ کي د کندهار دولتي ښاري ښوونځيو د نارينه زده کوونکو سويو د ټيټوالي عواملو معلومولو په اړه ترسره سوې ده. په دې څېړنه کي د کندهار له دولتي ښاري ښوونځيو څخه چي ټول تعداد يې (۵۹) ليسې دي چي د ليسې دورې د ټولو زده کوونکو تعداد يې (۱۵۲۲۸) دئ. د ياد شمېر ليسو څخه يې(۴۰) د نارينه زده کوونکو دي چي د ياد شمېر لېسو د لسم، يوولسم او دوولسم ټولګيو زده کوونکي دڅېړني نفوس شمېرل کېږي. له پورته ذکر سوو (۴۰) ليسو څخه د احتمالي (ترتيبي) نمونه ټولووني/ Probability - Systematic Sampling په اساس (۱۰) ښوونځي ټاکل سوي دي. البته؛ د يادو (۴۰) ښوونځيو د ليسې دورې (لسم – ۵۹۷۹ تنه، يوولسم – ۵۰۰۰ تنه او دولسم – ۴۲۴۹ تنه) وو چي د نارينه زده کوونکو مجموعي شمېر يې د (۴۰) ښوونځيو له حسابه (۱۰۳۲۴) تنه دئ چي  (۱۰٪) يې (۲۵۸) تنه دي. د ډاټا ټولوني له پاره د پوښتنليک څخه استفاده سوې ده چي د پوښتنليک لمړۍ برخه لنډه مقدمه لرل، دوهمه برخه يې د جواب ويونکو د ځانګړتياوو په اړه وه او درېيمه برخه يې د څېړني پوښتنو ته چي د هو او نه، خو جوابه  او خلاصي پوښتني يې لرلې ځانګړې سوې وه. داچي په څېړنه کي د موجودو محدوديتونو (چي په مناقشه کي يې يادونه سوې) له امله يې اندازه (۷٪) ته چي (۱۷۲) کسان کېږي را کمه سوې ده او پوښتنليکونه د ۱۷۲ تنو زده کوونکو له خوا جواب سوي دي. راټوله سوې ډاټا د IBM SPSS 26 په واسطه تحليل او په جدولونو کي تنظيم سوي ده. په څېړنه کي حقوقي او اخلاقي اړخونو ته پوره توجه سوې ده.

## نتايج (Results)

د پوښتنليک لمړۍ برخه د جواب ويونکو اړوند معلوماتو ته ځانګړې سوې وه، چې د هغه له مخي د پوښتنليک د جوابوونکو د ځانګړتياوو په اړه په لاندي جدول کي معلومات ليکل سوي دي.

لومړی جدول: د جواب ويونکو ټولنيز معلومات (نمونه = ۱۷۲)

| د متحول نوم (Variable) | تعداد ( Frequency) | فيصدي (Percentage %) |
|---|---|---|
| **ښوونځي** | | |
| ظاهرشاهي لېسه | ۱۷ | ۹,۹ |
| عظيم الله لېسه | ۱۵ | ۸,۷ |
| عبدالاحد کرزي لېسه | ۱۹ | ۱۱ |
| عبدالقديم پتيال لېسه | ۱۸ | ۱۰,۵ |
| احمدشاه بابا لېسه | ۱۹ | ۱۱ |
| حاجي ميرويس خان نيکه لېسه | ۱۸ | ۱۰,۵ |
| سيدجمال الدين افغان لېسه | ۱۹ | ۱۱ |
| عربو کلا لېسه | ۱۸ | ۱۰,۵ |
| مشرقي لېسه | ۱۲ | ۷ |
| صوفي صاحب ذکور لېسه | ۱۷ | ۹,۹ |
| **ټولګي** | **شمېر** | **فيصدي** |
| لسم ټولګی | ٦٦ | ۳۸,۴ |
| يوولسم ټولګی | ۵۰ | ۲۹,۱ |
| دوولسم ټولګی | ۵٦ | ۳۲,٦ |
| **په ټولګي کي درجه** | **شمېر** | **فيصدي** |
| ۱ - ۱۰ | ۱۱۸ | ٦۸,٦ |
| ۱۰ - ۲۰ | ۴۱ | ۲۳,۸ |
| ۲۰ - ۳۰ | ۱۰ | ۵,۸ |
| ۳۰ - ۴۰ | ۳ | ۱,۷ |
| **عمر / سن** | **شمېر** | **فيصدي** |
| ۱۵ – ۱۸ | ۱۲ | ۷ |
| ۱۹ – ۲۰ | ۱۰۰ | ۵۸,۱ |
| ۲۱ – ۲۵ | ۵۸ | ۳۳,۷ |
| له ۲۵ لوړ | ۲ | ۱,۲ |
| **مدني حالت** | **شمېر** | **فيصدي** |
| مجرد | ۱٦۴ | ۹۵,۳ |
| متاهل | ۸ | ۴,۷ |

| اقتصادي حالت | شمېر | فيصدي |
|---|---|---|
| ډېرښه | ۱۰ | ۵,۸ |
| ښه | ۴٦ | ۲٦,۷ |
| متوسط | ۷۳ | ۴۲,۴ |
| کمزوری | ۲۵ | ۱۴,۵ |
| ډېرکمزوری | ۱۸ | ۱۰,۵ |

د پوښتنليک دوهمه برخه د څېړنې اړوند پوښتنو ته ځانګړې سوې ده چي تحليلي بڼه ئې په لاندي جدول کي راوړل سوې ده.

**دوهم جدول: هو او نه پوښتني**

| پوښتنه | جواب | تعداد | فيصدي |
|---|---|---|---|
| په ښوونځي کي د لاسته راوړنو او ستونزو په اړه د والدينو پوښتنه کول | هو | ۱۱۴ | ٦٦,۳ |
| | نه | ۵۸ | ۳۳,۷ |
| د ښوونځي د اداري له لوري د تدريسي لوازمو او امکاناتو برابرول | هو | ٦۳ | ۳٦,٦ |
| | نه | ۱۰۹ | ٦۳,۴ |
| د برابرو سويو امکاناتو په واسطه د درسي اړتيا پوره کېدل | هو | ٦۵ | ۳۷,۸ |
| | نه | ۱۰۷ | ٦۲,۲ |
| د ښوونځي له لوري په سياليو کي د ګډون زمينه | هو | ۵۵ | ۳۲ |
| | نه | ۱۱۷ | ٦۸ |
| د اداري له لوري د ورزش او لوبو د زمينې برابرېدل | هو | ۸۵ | ۴۹,۴ |
| | نه | ۸۷ | ۵۰,٦ |
| د ښوونځي د مدير يا سرمعلم له لوري له ټولګي څخه نظارت | هو | ۱۳۱ | ۷٦,۲ |
| | نه | ۴۱ | ۲۳,۸ |
| د درسي کتابونو بشپړوالی | هو | ۷۳ | ۴۲,۲ |
| | نه | ۹۹ | ۵۷,٦ |
| د پوهنې رياست له لوري ستونزو ته رسيده ګي | هو | ۳۲ | ۱۸,٦ |
| | نه | ۱۴۰ | ۸۱,۴ |
| د استادانو مسلکي والی | هو | ۱۳۰ | ۷۵,٦ |
| | نه | ۴۲ | ۲۴,۴ |
| د درس ترڅنګ د کورسونو (انګليسي، کمپوټر او نور...) تعقيب | هو | ۴۷ | ۲۷,۳ |
| | نه | ۱۲۵ | ۷۲,۷ |
| د ښوونځي ترڅنګ بل کار/ دنده | هو | ۱۲۳ | ۷۱,۵ |
| | نه | ۴۹ | ۲۸,۵ |

درېيم جدول: څو جوابه پوښتني

| پوښتنه | جواب | تعداد | فيصدي |
|---|---|---|---|
| له ښوونځي څخه تر فارغېدو وروسته پلان | لوړي زده کړي کوم | ۱۰۵ | ٦۱,۵ |
| | دنده پيداکوم يا ازاد کاروبار کوم | ٦۷ | ۳۸,۹۵ |
| د تعليمي کال په جريان کي له ښوونځي او زده کړييز چاپيريال څخه د والدينو ليدنه او نظارت | يو ځل | ۹٦ | ۵۵,۸ |
| | دوه ځلي | ۳۲ | ۱۸,٦ |
| | دري ځلي | ۲۰ | ۱۱,٦ |
| | څلور ځلي | ۲۴ | ۱۴ |
| ښوونځي ته نه تللو، ناکامېدلو، غير حاضرۍ کولو يا نمرو د کموالي په صورت کي د کورنۍ غبرګون | بد وي | ۹۸ | ۵۷ |
| | بې تفاوته وي | ۲۲ | ۱۲,۸ |
| | ښه وي | ۵۲ | ۳۰,۲ |
| د استادانو له تدريس څخه رضايت | راضي يم | ۹۵ | ۵۵,۲۳ |
| | راضي نه يم | ۷۷ | ۴۴,۷٦ |
| د استادانو له تدريس څخه د نه رضايت دليل | غير مسلکي دئ | ۵۳ | ۳۰,۸ |
| | تدريس ته امادګي نه نيسي | ۴۱ | ۲۳,۸ |
| | ډيري غيرحاضرياني کوي | ۲۵ | ۱۴,۵ |
| | په اړوند مضمون حاکميت نه لري | ۲۷ | ۱۵,۷ |
| | تحصيلي درجه يې ټيټه ده | ۴ | ۲,۳ |
| | درسي ميتود يې معياري نه دئ | ۱٦ | ۹,۳ |
| | د زده کوونکو ترمنځ تبعيضي چلند | ٦ | ۳,۵ |
| په ټولګي کيګروپي او عملي کارونه کول | هر وخت يې کوي | ۱۷ | ۹,۹ |
| | ځيني وختونه يې کوي | ۱۰۷ | ۵۹,۹ |
| | هيڅ وخت يې نه کوي | ۵۲ | ۳۰,۲ |
| هغه لوبي او وسايل کوم چي زده کوونکي لاس رسی ورته لري | ګېمونه | ۴۰ | ۲۳,۳ |
| | فوټبال | ۵۰ | ۲۹,۱ |
| | کرکيټ | ۴۷ | ۲۷,۳ |
| | واليبال | ۳ | ۱,۷ |
| | کلب | ۱۵ | ۸,۷ |
| | فلم او سريال | ٦ | ۳,۵ |
| | سندري او ترانې | ۱۱ | ٦,۴ |

څلورم جدول: له ښوونځي څخه  تر فارغېدو وروسته پلان او اقتصادي حالت ترمنځ اړيکه

| اقتصادي حالت | ښه او متوسط اقتصادي حالت | کمزوری اقتصادي حالت |
|---|---|---|
| تر فارغېدو وروسته څه غواړئ چې ترسره يې کړئ؟ | | |
| لوړې زده کړې کوم | ۸۱ | ۲۴ |
| دنده پيدا کوم يا آزاد کاروبار کوم | ۴۸ | ۱۹ |

پنځم جدول: د استادانو مسلکيتوب او د هغوی له تدريس څخه رضايت

| د استادانو مسلکي والی | هو | نه |
|---|---|---|
| د استادانو له تدريس څخه څومره راضي ياست؟ | | |
| راضي يم | ۸٦ | ۹ |
| راضي نه يم | ۴۴ | ۳۳ |

د پورتنيو پوښتنو ترڅنګ په پوښتنليک کې دوې خلاصې پوښتنې هم راوړل سوې وې، ترڅو زده کوونکي په آزاد ډول د هغوی د سويې د ټيټوالي د عواملو او د سويې د لوړوالي اړوند خپل نظرونه شريک کړي چې زياترو يې خپل نظرونه په لاندې ډول ليکلي وو.

### ستاسي په نظر د زده کوونکو د سويې د ټيټوالي عوامل څه دي؟

د پورتنۍ پوښتنې په جواب کې اکثريت زده کوونکو خپل نظرونه په دې ډول ليکلي وو؛ د کورنۍ، استادانو او ښوونځي له خوا نه تشويق، د اقتصادي ستونزو زياتوالی، د درس سره نه علاقه، په واسطه کامیابېدل، د زده کوونکو له لخوا د ګېمونو، فلمونو، تليفون او انټرنيټ زيات کارول، د کورنۍ او مشرانو نه پاملرنه د زده کوونکو پر سويې مستقيم اغېز کړی دئ. ددې ترڅنګ هغوی ليکلي چې د استادانو بې غوري، د مسلکي استادانو کمښت او پر خپلو مضامينو د استادانو نه حاکميت نوري هغه ستونزي دي چې زده کوونکي نه سي کولای په مؤثره توګه تعليم او تربيه ترلاسه کړي. سربېره پردې، د درس له پاره د مناسب چاپيريال نشتون، د زده کوونکو له خوا غيرحاضري، د درسونو زيات لوړ، د عملي، لابراتواري او ورزشي فعاليتونو نشتون، د درسي کتابونو کمښت او په ټولنه کي د باسواده کسانو بې کاري نور هغه لوی عوامل دي چې د زده کوونکو پر زده کړو او د هغوی پر سويې يې منفي اغېز کړی دئ.

### د زده کوونکو د سويې د لوړوالي له پاره بايد څه وسي؟

د پورتنۍ پوښتني په جواب کې زيات زده کوونکي په دې نظر وو چې بايد زده کوونکي د کورنۍ، استادانو او ښوونځي له خوا تشويق سي تر څو يې د درس سره علاقه زياته سي. استادان دي په درسو کې د ګروپي کارونو ترڅنګ نور ميتودونه هم وکاروي او د زده کوونکو څخه دي د تېر درس پوښتنې وکړي او کورنۍ دندي دي ورکړي. ددې ترڅنګ، زده کوونکو ته دي د اړتيا وړ درسي لوازم اماده سي او د دوی د استعدادونو د راښکاره کولو له پاره دي د هغوی ترمنځ سيالۍ او نور تشويقي پروګرامونه جوړ سي. د کورنۍ او مشرانو له خوا دي په منظم ډول و څارل سي. استادان دي مسلکي سي او په ټولګي کې دي ډېر کار په زده کوونکو وسي. په ساينسي مضامينو کې دي په زده کوونکو د عملي کارونو له پاره لاربراتوارونه جوړ سي. سربېره پردې، د زده کوونکو والدين دي مکاتبو ته وخت پر وخت راوغوښتل سي او د هغوی د اولادو د زده کړو په اړه دي معلومات ورکول سي. دوی دا هم ليکلي دي چې؛ د معارف رياست او د مکتب د مديريت له خوا دي د ټولګيو څخه منظم نظارت وسي.

## مباحثه/ مناقشه(Discussion)

د دې څېړنې په پای کې ویلای سو هغه پوښتنې چې د کندهار دولتي ښاري ښوونځیو د نارینه زده کوونکو سویې د ټیټوالي د عواملو اړوند له مونږ سره موجودې وې، د دې څېړنې په مرسته واضح سوې چې د زده کوونکو له لخوا د ګېمونو او فلمونو زیات کارول (۲٦،۸٪)، د کورنۍ او مشرانو نه پاملرنه (۵۵،۸٪)، د استادانو بې غوري، د مسلکي استادانو کمښت (۳۰،۸٪) ، پر خپلو مضامینو یې نه حاکمیت (۱۵،۷٪)، د درسي کتابونو کمښت (۵۷،٦٪)، د پوهني ریاست له لوري اړوند ستونزو ته نه رسیده ګي (۸۱،۴٪)، د مناسب درسي چاپیریال نه شتون، د زده کوونکو او استادانو له خوا غیر حاضري، د درسونو زیات لوډ، د عملي، لابراتواري او ورزشي فعالیتونو نه شتون/ کموالی، د کورنۍ، استادانو او ښوونځي له خوا نه تشویق، د اقتصادي ستونزو زیاتوالی، د درس سره نه علاقه، په واسطه کامیابېدل، په ټولنه کې د باسواده کسانو بې کاري او هغه ستر او بنسټیز عوامل وو چې د زده کوونکو د سویو پر ټیټوالي یې مستقیم اغېز کړی دئ. د دې تر څنګ د کورنۍ، استادانو او ښوونځي له خوا د زده کوونکو تشویق، په ښوونځي کې عملي او ګروپي کارونه، د زده کوونکو د اړتیا وړ درسي لوازمو اماده کول، د زده کوونکو ترمنځ سیالۍ او تشویقي پروګرامونه په لار اچول، د کورنۍ او مشرانو له لوري په منظم ډول د زده کوونکو څارل، د استادانو مسلکي والی او د معارف ریاست او نورو باصلاحیته مقاماتو له لوري وخت پر وخت د ښوونځیو، استادانو، د زده کوونکو د درسي کیفیت او لوازمو اړوند څارنه د دوی په نظر هغه حل لاري وې چې د زده کوونکو د سویې په لوړوالي کې اغېزمنه مرسته کولای سي. البته، د دې څېړنې تر سره کولو پر مهال ځینو ستونزو شتون درلود چې عبارت وې له: د زیات نفوس څخه د مناسبي نمونې ټاکنه، د بشري قوې کمښت، د څېړنې او اهمیت په هکله یې د عامه پوهاوي نه شتون، د پوښتنلیکونو په جوابولو کې د زده کوونکو نه لېوالتیا، د وخت کموالی او د اداري او تدریسي کارونو د حجم زیاتوالی او داسي نور.

## پایله(Conclusion)

د پورتنې څېړنې په پای کې دې پایلې ته رسېږو چې، زده کړه او تعلیم د ټولنې د ټولو افرادو اساسي حق دئ. کورنۍ، ټولنه او دولت مکلف دي چې ځوان نسل ته د تعلیم او تربیې زمینه او مناسب درسي چاپیریال برابر کړي، ځکه ټولنې ته د مناسبو اشخاصو په وړاندې کولو کې د هغوی د سویې ټیټوالی او لوړوالی بنسټیز رول لري. ځکه ټولنې ته د مسلکي، غوره او په ملي او اسلامي روحیه د روزل سویو اشخاصو وړاندې کول د دولت مکلفیت دئ، خو له بده مرغه نن ورځ د دولتي ښوونځیو څخه په پوره ځانګړنو سمبال اشخاص نه فارغېږي چې په پایله کې ټولنې ته د خدمت پر ځای د اوږو بار ګرځي. د دې څېړنې موخه دا وه چې د کندهار د دولتي ښاري شوونځیو د نارینه زده کوونکو د سویې ټیټوالي عوامل معلوم سي چې دې موخې ته رسېدلي یو. یعني؛ د دې څېړنې په مرسته دا واضح سول چې د کورنۍ، استادانو او ښوونځي له خوا نه تشویق، د اقتصادي ستونزو زیاتوالی، د درس سره نه علاقه، په واسطه کامیابېدل، د زده کوونکو له لخوا د ګېمونو، فلمونو، تلیفون او انټرنیټ زیات کارول، د کورنۍ او مشرانو نه پاملرنه، د استادانو بې غوري، د مسلکي استادانو کمښت او پر خپلو مضامینو یې نه حاکمیت، د مناسب درسي چاپیریال نه شتون، د زده کوونکو او استادانو له خوا غیر حاضري، د درسونو زیات لوډ، د عملي، لابراتواري او ورزشي فعالیتونو نه شتون/ کموالی، د درسي کتابونو کمښت او په ټولنه کې د باسواده کسانو بې کاري د کندهار دولتي ښاري ښوونځیو د نارینه زده کوونکو د سویې ټیټوالي لامل سوي دي. همدا راز؛ د څېړنې پایلو ښودلې چې د زده کوونکو تشویق، عملي او ګروپي کارونه، د اړتیا وړ درسي لوازمو اماده کول، د سیالیو او تشویقي پروګرامونو په لار اچول، د زده کوونکو څارل، د مسلکي استادانو استخدام هغه فکتورونه دي چې د زده کوونکو د سویې د لوړوالي لامل کېږي.

**وړاندیزونه:** کورنۍ او مشران باید په منظم ډول د خپلو اولادونو زده کړه پېژ بهیر وڅاري. د پوهني ریاست باید په دولتي ښوونځیو کي مسلکي استادان استخدام کړي. د پوهني ریاست دي د مؤسساتو په مرسته د دولتي ښوونځیو درسي کتابونه او لوازم برابر او څارنه دي پې وکړي. دولت باید باسواده کسانو ته د کار زمینه برابره کړي، ترڅو خلک زده کړو ته زړه ښه کړي. اړوند ارګانونه دي بېلابېلي ستراتیژیاني په کار واچوي ترڅو د سویې په لوړوالي کي ښه ثابت سي. د ښوونکو د سویو د ټیټوالي عوامل دي په راتلونکو څېړنو کي معلوم کړل سي. استادان دي د زده کوونکو د سویو د لوړوالي له پاره اړین مهارتونه مطالعه کړي. په راتلونکو څېړنو او سروې ګانو کي دي د نمونې زیاته اندازه وټاکل سي، د پوښتنلیک ترڅنګ دي د مرکې میتود هم وکارول سي.

## ماخذونه (References)

اساسي قانون (۱۳۸۲ل). ۸۱۸ ګڼه رسمي جریده. ۱۷، ۴۳ او ۴۴ مادې.

بلخېل، نورمدین (3-2-2018)، nan. Asia. په ټولګی کي ځیني ښوونکو ته ولي زده کوونکي غوږ نه نیسي؟

خبرگزاری صدای افغان (آوا)، avapress.com (مکاتب دولتی از کیفیت پایین برخوردار اند/ راپور).

ذکي، نصیب الله 10-2022-june، dawatmedia24.com، له ښوونځي څخه د زده کوونکو د تېښتي لاملونه.

قانون معارف (۱۳۸۷ل). ۹۵۵ ګڼه رسمي جریده ۲ ماده.

منصوري، امیر محمد، ۲۰۱۳/۹/٦ م. https://rohi.af (په هیواد کي د کوچیانو او کارکوونکو غریبو د ماشومانو د تعلیم ستونځي او د حل یو څو پیشنهادي لاري/ لیکنه).

نادم، بشیر احمد، (۲۰۱۹اکتوبر، ۱ م.)،Pajhwok.com (د کندهار ښوونځیو زده کوونکي د کتابونو له کمښت سره مخ دي/ راپور).

ندا، فرشته، آزادۍ راډیو، ( ۱۳۹۲/ ۱۲/ ۱۱ل.)/ da.azadiradio.com (چرا شاگردان مکاتب دولتی نمی توانند در مسابقات بین الملی شرکت کنند؟/ راپور).

# Factors of Low Achievement of Male Students at Urban Public Schools of Kandahar

Abdul Rahman Achakzai
abdulrahmanachakzai2019@gmail.com
Phone: 0704782018
Aminullah Salik
aminullah.salik@gmail.com
Mobile phone: 0704006019
Lecturers of the faculty of law and political science

## Abstract

The level of achievement of students can have a fundamental role in presenting them as the best, professional and trained people in the national and Islamic spirit to the society. The aim of this research was to find out the reasons for the low achievement of male students in Kandahar city public schools and we have mostly reached the desired goals. Therefore, this research has been conducted and the necessary information has been collected related to the factors of low achievement of male students of public urban schools in Kandahar. This is a field study and 180 questionnaires were distributed to male high school students of Kandahar public urban schools and answered by them. The obtained data has been analyzed by SPSS. In the result various different factors of the low level of students' achievement have been recognized such as lack of encouragement from family, teachers and school, economic problems, lack of interest in learning, passing them freely, usage of games, watching movies, using telephone and internet, neglect of family and elders, negligence of teachers, shortage of professional teachers and lack of control over their subjects, lack of proper teaching environment, Absentees by students and teachers, overload of lessons, lack of practical, laboratory and sports activities, shortage of textbooks and unemployment of literate people in the society have been recognized as a result of which every year through *Kankur* some students can not find their way to universities to get higher education.

**Keywords:** factors, students, urban schools, low acheivement

# په کندهار ښار کي د قومي شوراګانو او قومي بې اتفاقۍ تر منځ اړيکه - پيوسته څېړنه

محب الله شُبير
د سياسي علومو او نړۍ والو اړيکو څانګي استاد
mshoubair@gmail.com / +93 (0) 706667703

## لنډيز

جرګه (شورى) د افغانانو هغي تاريخي او عنعنوي او دوديزي غونډې ته وايي، چي له اوږدو مودو راهيسي زموږ د ولس ټولنيزي ستونزي حلوي. اتفاق يو ټولنيز رواني حالت دئ چي د يوځايوالي له پاره استفاده کېږي او د هغه اړيکي له پاره استفاده کېږي چي د ټولني خلګ سره موښلوي. ددغه څېړني موخه په کندهار ښار کي د قومونو تر منځ پر احساساتي، مسلکي او منفي پيوستونو د قومي شوراګانو اغيز معلومول وو. په دغه څېړنه کي د (Correlational) مطالعاتي ډيزان څخه استفاده سوې، سمپل د کوکران فورمول په اساس ټاکل سوى او په دې اړه مخکنۍ څېړني د زيلر او اسلوسي دي چي په دې څېړنه کي يې ميتود استفاده سوى دى. په کندهار کي قومي شوراګاني موجودي او په پراخ ډول فعاليت کوي. هر قوم جلا جلا شوراګاني لري؛ دا چي په کندهار کي تر دېرش ډېر قومونو څه کم دوه مليونه وګړي ژوند کوي، نو قومي شوراګانو دغه غټه کتله تر دېرش زياتو برخو باندي وېشلې ده. په کندهار کي قومي شوراګانو د قومونو ترمنځ پر احساساتي، مسلکي او منفي پيوستون اغېز اچولی، خو دغه اغېز دومره نه دئ چي په علمي توګه قضاوت ور باندي وسي. دغه اغېز د دې څېړني په پايله کي په لاس راغلی چي د درو سره وو پيوستونونو د (significance) قيمتونه تر (۰,۰۵) لوړ و او زموږ ابتدائي فرضيي يې تائيد کړى؛ او دا پايله يې په لاس راکړې چي قومي شوراګاني په کندهار کي د خلګو تر منځ د احساساتي، مسلکي او منفي اتفاق سره اړيکه نه لري.

**کليدي کلمات:** قومي شورا، بې اتفاقي، احساساتي پيوستون، مسلکي پيوستون، منفي پيوستون

## پېژندنه (Introduction)

په ۲۰۰۹ میلادي کال کي د ویکي لیکس ویب پاڼي د امریکا د خارجه وزارت اړوند ځیني اسناد خپاره کړل. په دغو اسنادو کي ځیني د امریکا د هغه وخت د بهرنیو چارو د وزیري، هنري کلنټن د ایمیلونو اړوند وه چي په نړیواله سطحه ډېر جدي عکس العمل ورته ښکاره سو. د هنري کلنټن په ایمیلونو کي ځیني د افغانستان اړوند وه چي په هغه وخت کي د امریکا له پاره جدي مسئله ګڼل کېده. هنري کلنټن له خپل یوه استازه سره په ایمیلونو کي دا څرګنده کړې وه چي په افغانستان کي باید قومي شوراګاني تقویه سي، تر څو د دوی په وړاندي مزاحمت کم کړل سي او قومونه ووېشل سي (Wikileaks, 2009).

قومي شورا له دوو کلمو جوړه ده، چي یو یې قوم او بله یې شورا ده. قوم د خلګو هغه ډله ده چي اکثره وخت د ګډو کورنیو په شکل څرګندېږي، یوځای اوسېږي، یوه ژبه، کلتور او تاریخ لري؛ اکثره وخت په ښارونو کي ژوند نه کوي (Cambridge, 2022). شورا په لغت کي د استخراج په مفهوم استفاده سوې (Dehkhuda, 1998) او په اصطلاح کي هر ډول همفکري او د نظریاتو تبادله ده یا یو الزامي تړون نښه ده چي د افرادو د یوې مجموعي څخه صادرېږي (Alshavi, 1379) او (Qarshi, 1354). که څه هم د افغانستان د اساسي قانون له مخي، هر څوک کولای سي قومي شورا جوړه او فعالیت وکړي (عدلیې وزارت, ۱۳۸۲)، ولي په افغانستان کي د دغسي شوراګانو فعالیتونه او په افغانستان کي رامنځ ته سوي ناخوالي بې اړیکي نه سي ګڼل کېدای. بله دا چي په افغانستان کي قومي شوراګاني جوړي سوي، د حکومت او نړیوالو ائتلافونو له خوا یې حمایه سوې، خو د دغه شوراګانو پر اغېز کومه علمي څېړنه نه تر سترګو کېږي. دا چي د هنري کلنټن او په افغانستان کي د قومي شوراګانو د جوړېدو تر منځ تړاو سته یا نه، تر اوسه دا خبره مستنده سوې نه ده، خو دا جوته ده چي له ۲۰۰۱ کال وروسته په افغانستان کي د قومي شوراګانو جوړښت په چټکۍ سره پر مخ تللی دئ او له همدغه کلونو راهیسي په افغانستان کي اداري فساد، ناامني، قاچاق، عصبیت او نوري ستونزي زیاتي سوي دي (Government, 2013). قومي شوراګاني ممکن پر مختلفو ټولنیزو او سیاسي جوړښتونو او اړیکو تاثیرات ولري، خو د دغه پدیدې تاثیر پر اتفاق او بې اتفاقۍ ډېر د پام وړ بلل کېږي؛ دا ځکه چي په اتفاق کي موږ د یووالي او موږ والي احساس کوو. دا د هغه اړیکي له پاره استفاده کېږي چي د ټولني خلګ سره مونښلوي (Indira Ghandi, 2020).

اتفاق د عمومي کلتور او موخو منل، د اتحاد احساس، د شخړو نه شتون او عموماً د نورو په اړه مثبت فکر در لودلو ته ویل کېږي او بې اتفاقي د دغه حالت معکوس ته ویل کېږي (Smelser, 2015). په کندهار ښار کښي قومي شوراګاني زیاتي فعالي دي. پورتنۍ انګېزې او په کندهار ښار کي د قومي شوراګانو کثرت دې ته وهڅولم تر څو د قومي شوراګانو تاثیر د قومونو ترمنځ پر بې اتفاقۍ معلوم کړم. دا ځکه چي قومي شوراګاني په غیر مستقیم ډول د کندهار ښار نفوس، څومره چي د قومونو شمېر دئ، په هماغه کچه وېشلی دئ او د خلګو وېشل په ټولنه کي د بدو پایلو د رامنځ ته کېدو نښاني وي.

د قومي شوراګانو او اتفاق ترمنځ اړیکه ما په بله کومه مقاله کي په واضح شکل نه ده لیدلې، ځکه د قومي شورا او بې اتفاقۍ په اړه واضح څېړنه موندل ستونزمنه ده؛ خصوصاً په افغانۍ ټولنه کي چي څېړنه په کښې په ابتدائي پړاو کي ده. له دې محدودیت سره - سره ځینو څېړونکو د قوم او کله - کله د بې اتفاقۍ په اړه څېړني کړې. په دغه څېړنه کي یوه څېړنه د محمد علي ده چي قوم او قوم ګلوي یې یوه منفي پدیده ګڼلې ده چي د افغانستان پر سیاست یې اغیز شیندلی دئ. دا مقاله محمدعلي میرعلي بیداخوایدي او محمد حسنی لیکلې چي د (توسعه سیاسی افغانستان و نقش بازدارنده قومیت گرایی در شکل گیری آن) په نوم خپره سوې ده (محسني, ۱۳۹۵). په دغه مقاله کي په افغانستان کي قوم او قوم ګلوي یوه منفي پدیده ګڼل سوې او په افغانستان کي دا پدیده د قومونو ترمنځ د نفاق اچوونکي عامل او بې اتفاقۍ لامل په توګه بلل سوې ده. چون په دغه څېړنه کي اول لاس معلومات نه دي استفاده سوي، د خلګو پر بې اتفاقۍ د قوم تاثیر، د بې اتفاقۍ د اندازه کولو تګلاره یا هم د قومونو او بې اتفاقۍ ترمنځ اړیکه، نه دي

واضح سوي، نو فقط په قومي جوړښت او بې اتفاقۍ په مواردو کي له دغه څېړني استفاده سوې ده. همدا راز د افغانستان د قومونو تر منځ د ژبني، مذهبي قومي اختلافاتو د شدت په اړه موږ د بلي څېړني يادونه هم کولای سو. پر دغه موضوع پرته له دې چي د افغانستان د قومونو تر منځ تفاوت ته قايل سي، بحث ور باندي سوی دئ. په دغه څېړنه کي د افغانستان په سياسي ناکامۍ کي د قومي سياستونو رول رااخيستل سوی او په هغه کي يې خارجي عنصر ته زياته پاملرنه کړې ده. په دې اړه د حفيظ الله حفيظ په نوم د يوه څېړونکي څېړنه قابل د بحث ده چي د (بررسی تطبيقی نقش ايران و عربستان سعودی در مديريت منازعه افغانستان (۲۰۰۱ - ۲۰۱۷)) (حفيظ, ۱۳۹۷). دغه څېړنه د قومونو تفاوت او د هغوی تر منځ د اتفاق او بې اتفاقۍ په اړه د قومي شورا د رول په اړه هيڅ موارد نه دي رااخيستي، اما د قومونو نفاق ته اشاره سوې ده.

## د څېړني اهميت (Significance of the study)

دا چي په کندهار کي تر ۳۰ ډيري قومي شوراګاني فعاليت کوي، دا احتمال وو چي قومي شوراګانو د خلګو ترمنځ د بې اتفاقۍ اړيکه قوي کړې او د کندهار تر دوه مليونه زيات نفوس يې پر برخو وېشلی دي. دا څېړنه په دې خاطر سوې، تر څو د کندهار په خلګو کي د اتفاق کچه او پر هغه د مؤثر عامل په توګه د قومي شورا تاثير معلوم کړل سي؛ تر څو هغه احتمالي خطرونه چي د کندهار خلګ ورسره مخ کېږي، محاسبه سوي او مسؤلين وکولای سي، مخنيوی يې وکړي. د دې څېړنی بل اهميت دا دئ چي د ټولنپوهني او سياسي ټولنپوهني په برخه کي به د کندهار ښار مربوط نوي معلومات اضافه سوي او که چېري څوک وغواړي د اتفاق مربوط مسايل په ټولنه کي محاسبه کړي، دغه څېړنه به ډېره مرسته ورسره وکولای سي.

## د څېړني موخه (Research Objective)

په کندهار ښار کي د قومونو تر منځ پر احساساتي، مسلکي او منفي پيوستونو د قومي شورا اغېز معلومول؛

## د څېړني پوښتنه (Research Question)

د مخکنيو څېړنو له ميتودونو، فکټورونو او تګلارو څخه په استفاده د څېړني پوښتنه په لاندي ډول غوره سوې ده.

په کندهار کي د قومي شوراګانو او د قومونو د بې اتفاقۍ تر منځ اړيکه سته که نه، که وي نو څه ډول اړيکه موجوده ده؟

## د څېړني فرضيه (Research Hypothesis)

په دغه څېړنه کي يو مستقل او درې تابع متغيرونه دی، چي مستقل متغير يې قومي شورا او تابع متغيرونه يې مسلکي، منفي او احساساتي پيوستونونه دي، له همدې امله قومي شورا د درو ګونو پيوستونو سره په ارتباط مطالعه سوې او لاندي درې فرضيې ليکل سوي:

۱- ګمان کېږي چي په کندهار کي قومي شوراګانو د قومونو تر منځ پر بې مسلکي پيوستون اغېز ولري.

۲- احتمال د دې سته چي په کندهار کي قومي شوراګاني د قومونو تر منځ پر احساساتي پيوستون اغېز ولري.

۳- ګمان کېږي چي په کندهار کي قومي شوراګاني د قومونو تر منځ پر منفي پيوستون اغېز ولري.

## مواد او میتودونه (Materials & Methods)

د بې اتفاقۍ د کچې معلومول ستونزمنه ده؛ ځکه په دې اړه ډېرې څېړنې نه دي سوي. د ډېرو څېړنو د نه شتون له امله د دغه څېړنې له پاره د میتود پیش بیني کول هم ستونزمن کار دئ. هغه څېړني چې د بې اتفاقۍ د کچې د اندازه ګیرۍ له پاره استفاده سوي دي، له جملې څخه یې یوه د کارمن او زیلر ده. هغه په تولنه کې د بې اتفاقۍ غوندې مفاهیمو د اندازه کولو له پاره درې نقطې په پام کې نیولې. اول د اتفاق په اړه د تیوریکي مفاهیمو تر منځ په دقیق ډول د تعریف د ساحو تشخیص، دویم د مفاهیمو د اندازه کولو له پاره د علمي بنسټونه واضح کول او آخر، د مفاهیمو د تعریف او شواهدو تر منځ ترلتیا (G & Zeller, 1979). په دغه څېړنه کې اول د بې اتفاقۍ او قومي شورى له پاره دقیق تعریفونه وړاندې کړل سوي، وروسته د بې اتفاقۍ د اندازه کولو له پاره د علمي بنسټ په توګه د سیتنکیا اسلوسي د څېړنې له پوښتنلیک څخه چې په ترکیه کې یې د نرسانو تر منځ د اتفاق په اړه ترتیب سوی، استفاده سوې ده. د دغه پوښتنلیک Cronbach's Alpha ارزښت 0.8 دئ (Uslusoy & Alpar, 2013). دغه پوښتنلیک څلور برخې لرې چې یوه یې د ډیموګرافیک معلوماتو له پاره ځانګړې سوې او درې نورې یې د د قومي شورا او بې‌اتفاقۍ ترمنځ د اړیکو اړوند دي. وروسته درې برخې په احساساتي پیوستون (Alpha=0.82 Cronbach's)، مسلکي پیوستون ( Cronbach's Alpha=0.88) او منفي پیوستون (Cronbach's Alpha=0.84) وېشل سوي. دغه وېشنه هم د اسلوسي د څېړنې پر اساس سوې ده (Uslusoy & Alpar, 2013).

د پوښتنلیک د پوښتنو له پاره Likert scale سټایل باندې انتخابونه وړاندې کړل سوي چې همېشه، اکثره وخت، کله - کله، ډېر کم او هیڅ کله باندې مشتمل دي. وروسته د دغه ډاټا د Cutoff Point د معلومولو له پاره د درې سره برخو جلا جلا Mean محاسبه سوي او وروسته پر High, Mid & Low باندې وېشل سوي.

دا چې په کندهار ولایت کښې دقیق نفوس نه دی معلوم، نو په همدې خاطر د سمپل ټاکلو له پاره د Fisher د فرمول $n = Z^2P(1-q)/e^2$ په اساس د سمپل شمېر 252 تنه ټاکل سوی (Ihtisham, 2022). په دغه فرمول کې n د سمپل اندازه، Z په زیډ ټېبل کې Confidence Score دئ چې د 95% هغې (1.96) کېږي، e د سمپل ایرر/غلطي ده چې 5% (0.5) نیول سوې، p په نفوس کې حداکثر تغییر 20% نیول سوی (0.2) او q ثابت دی چې د 1-p څخه په لاس راځي، قیمت یې 0.8 دئ. دا چې د کندهار ښاروالۍ د معلوماتو پر اساس په کندهار کې 15 ناحیې دي، نو د ټولو ناحیو څخه د معلوماتو راټولو له پاره د سمپل شمېر پر 15 تقسیم کړل سوی چې د هرې ناحیې له پاره 17 نفره سمپل ټاکل سوی دئ. د ډاټا راټولو له پاره د 8 تنه روزل سوو کسانو څخه استفاده سوې ده چې دغه کسانو ته یوځل ټریننګ ورکول سوی دئ. ډاټا د ۱۴۰۰ د قوس او جدي میاشتو کې راټوله سوې ده. د ډاټا د تحلیل له پاره له IBM SPSS 26 څخه استفاده سوې ده. داچې د ډاټا نارملې ټیست کې د درو سره (p value=0.0) راوتلې، چې (Null Hypothesis) یې ردوي، نو له همدې امله د (Nonparametric) ټیستونو کې د ( Mann-Whitney U test) هغې څخه استفاه سوې ده او پایلې یې محاسبه سوې دي.

## نتايج (Results)

په کندهار کي د قومي شوراګانو د وضعيت او بې اتفاقۍ تر منځ د اړيکي د معلومولو له پاره چي کوم متغيرونه استفاده سوي، د هغه احصائيه په لاندي ډول ده.

لمړی جدول: د جواب ويوونکو ځانګړتياوي

| ډيموګرافيکس | | | |
|---|---|---|---|
| مشخصات | ارزښتونه | فيصدي ٪ | شمېر |
| جنسيت | نارينه | ۱۰۰ | ۲۵۲ |
| | ښځينه | ۰ | ۰ |
| عمر | ۱۵-۲۰ | ۳۱ | ۷۸ |
| | ۲۰-۳۰ | ۵۱ | ۱۳۰ |
| | ۳۰-۴۰ | ۹ | ۲۳ |
| | +۴۰ | ۸ | ۲۱ |
| قومي شورا لرئ | هو | ۷۳ | ۱۸۵ |
| | نه | ۲۷ | ٦۷ |
| په قومي شورا کي غړيتوب | هو | ۳۵ | ۸۹ |
| | نه | ٦۵ | ۱٦۳ |
| قومي شورا کي ګډون | همېشه | ۱۹ | ۴۹ |
| | اکثره وخت | ۱۵ | ۳۷ |
| | کله کله | ۱۴ | ۳۴ |
| | کم وخت | ۸ | ۲۱ |
| | هيڅ کله نه | ۴۴ | ۱۱۱ |

### په کندهار کي د قومي شوراګانو وضعيت

د څېړني له مخي په کندهار کي اکثره قومونه قومي شوراګاني لري؛ يوازي څلور داسي قومونه موندل سوي چي سل فيصده جواب ويونکي يې وايي، دوی قومي شورا نه لري. دا چي په کندهار کي د قومي شوراګانو شمېر، په هغه کي د خلګو د ګډون کچه او رسمي غړيتوب په څه ډول دی، د څېړني په دغه برخه کي به دغه درې اساسي پوښتني جواب سي. دا درې پوښتني د قومي شوراګانو پر راتلونکو نتايجو ډېر تاثير اچوي؛ ځکه د بې اتفاقۍ د تاثير د معلومولو له پاره په قومي شورا کي ګډون کچه، د قومي شورا رسمي غړيتوب او د قومي شورا په اړه معلومات اړين دي.

### په کندهار کې د قومي شوراګانو شمېر او د ګډون کچه

د څېړنې پايله ښيي چې ۷۳٪ جواب ويونکي وايي چې قومي شوراګاني لري او ۲۷٪ وايي چې قومي شوراګاني نه لري. د هغو قومونو سره تړاو لرونکي کسان چې ويلي يې دي قومي شورا لري؛ اڅکزي، عليزي، الکوزي، عرب، بابړ، بلوڅ، بارکزي، برېڅ، دراني، حسن خيل، هوتک، اسحاق زي، کاکړ، کاکوزي، کوچي، محمدزي، مهمند، ناصر، نورزي، پوپلزي، قريش، صافي، شينواري، ستانکزي، سليمان خيل، ترکي، توخي او وردګ په کښې شامل دي او هغه کسان چې وايي قومي شورا نه لرو؛ ترخېل، سيد، اندړ، تاجيک، لودين، بختيار او احمدزي قومونه پکښې شامل دي. ټول ۳۴ قومونه موندل سوي چې په هغه کې مطلق ۴ ويلي چې دوی قومي شورا نه لري.

کوم کسان چې قومي شورا لري، ۴۷,٦٪ (۱۲۰) وايي چې د خپلي قومي شورا په مجالسو کې ګډون کوي او ۵۲,۴٪ (۱۳۲) وايي چې ګډون نه کوي. همدا راز د جواب ويونکو له ډلې څخه يې ۳۵,۳٪ (۸۹) وايي چې دوی د خپلي قومي شورا رسمي غړيتوب لري او ٦۴,۷٪ (١٦٣) وايي چې دوی د خپلو قومي شوراګانو رسمي غړيتوب نه لري.

### په کندهار ښار کې د قومونو تر منځ د بې اتفاقۍ کچه

د قومونو تر منځ د بې اتفاقۍ د کچې معلومول پر احساساتي، مسلکي او منفي پيوستونو باندې وېشل سوي چې دغه هره برخه په جلا - جلا عنوان کې واضح کېږي.

### د قومونو تر منځ احساساتي پيوستون (Emotional Solidarity)

د پوهنتليک له دوو څخه تر نهو پوري پوښتني د قومونو د احساساتي پيوستون په اړه دي. احساساتي پيوستون يوه قوي اړيکه ده چې خلګ يې له يوه او بل سره تجربه کوي؛ ځانګړتيا يې داده چې په نژدې والي او د تماس په درجې سره پېژندل کېدای سي (Hammarstrom, 2005). احساساتي پيوستون د دوو جلا قومونو تر منځ د نژدې والي احساس او د تماس له کچې څخه عبارت دئ. په هغو کسانو کې چې قومي شورا لري، په ۷۰٪(۱۳۰) کې لوړه، په ۲۸٪ (۵۱) کې منځنۍ او په ۲٪ (۴) کې کمه ده؛ حال دا چې هغه کسان چې قومي شورا نه لري، په هغو کښې په ۷۵٪ (۵۰) کې لوړه، په ۲۲٪ (۱۵) کې منځنۍ او په ۳٪ (۲) کې ټيټه ده. په مجموع کې ۷۱٪(۱۸۰) ګډون والو کښې د احساساتي پيوستون کچه لوړه ده، په ۲٦٪ (٦٦) کې منځنۍ او ۲٪ (٦) کې ټيټه ده. که څه هم د قومي شورا لرونکو او قومي شورا نه لرونکو په فيصديو کې لږ توپير ليدل کېږي؛ خو دا فرق ډېر کم دئ چې د څېړنې د قضاوت له پاره کفايت نه کوي. په لاندې دوهم جدول کې د قومي شورا او احساساتي پيوستون Cross tabulation سوی چې په کښې د قومي شورا لرونکو او قومي شورا نه لرونکو د احساساتي پيوستون کچه معلومېدای سي.

### د قومونو تر منځ مسلکي پيوستون (Professional Solidarity)

له مسلکي پيوستون څخه موخه په سختو حالاتو کې د ملګري کارمند حمايت دئ، هغه ته د کار په اړه نيکي مشورې ور کول دي. دا مفهوم اکثره وخت په وفاداري هم ژباړل سوی دئ (Drabarek, 2022). مسلکي پيوستون د دوو جلا - جلا قومونو لرونکو کارکوونکو تر منځ د حمايت له روحيې او يوه او بل ته د نيکي مشورې ورکولو څخه عبارت دی. په کندهار کې د قومي شورا لرونکو او قومي شورا نه لرونکو تر منځ مسلکي پيوستون د فيصدۍ له اړخه لږ تفاوت کوي. دغه پيوستون په هغه کسانو کې چې قومي شورا لري، تر هغو چې قومي شورا نه لري، ډېر دئ. که فيصدي ته وکتل سي، نو په قومي شورا لرونکو کښې د مسلکي پيوستون کچه په ترتيب سره ۷۱٪ لوړه، ۲٦٪ اوسط او ۳٪ کمه ده او هغه کسان چې قومي شورا نه لري، ٦٦٪ لوړه، ۲۸٪ منځنۍ او ٦٪ کمه ده. دغه فيصدۍ ته په کتو، قومي شورا لرونکو کې د احساساتي پيوستون فيصدي زياته ده، يعني په قومي شورا لرونکو کې دغه فيصدي ۷۱٪

او په قومي شورا نه لرونکو کي ٦٦٪ ده. همدا راز که تیتي فیصدۍ ته وکتل سي، هغه کسان چي قومي شورا نه لري، تیټه فیصدۍ يې تر قومي شورا لرونکو زیاته ده؛ یعني د قومي شورا نه لرونکي تیټه فیصدي ٦٪ ده او د قومي شورا لرونکو دا ٢٪ ده.

## د قومونو تر منځ منفي پیوستون (Negative Solidarity)

منفي  پیوستون د ټولنپوهني اړوند اصطلاح ده چي په خلګو کي لیدل کېږي. دا هغه حالت ته ویل کېږي چي په هغه کښي خلګ د سختي بې عدالتۍ احساس کوي او وایي چي سخت شرایط پر ځان مني، تاوان قبولوي، له ماتي سره مخ کېږي، نو هر یو باید له همدغسي حالاتو سره مخ سي (Read J, 2019). د منفي پیوستون کچه په ٢٢٪ کي ډېره، په ٢٧٪ کي منځنی او په ٥٢٪ کي ډېره کمه ده او همدا راز په قومي شورا نه لرونکو کي دغه فیصدۍ په ترتیب سره په ١٥٪ کي ډېره، په ٢۴٪ کي اوسط او په ٦١٪ کي ډېره کمه ده. دغه فیصدۍ قومي شورا ته په کتو فرق کوي. قومي شورا لرونکي تر قومي شورا نه لرونکو ډېر منفي پیوستون لري؛ قومي شورا لرونکي ٧٪ تر قومي شورا نه لرونکو د منفي پیوستون احساس لري.

### د اتفاق د محاسبې جدول

دوهم جدول: د احساساتي پیوستون، مسلکي پیوستون او منفي پیوستون په اړه محاسبات

| د قومي شورا او قومونو تر منځ د اتفاق (پیوستون) محاسبه | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | احساساتي پیوستون | | | مسلکي پیوستون | | | منفي پیوستون | |
| | | | لوړ | منځنی | کم | لوړ | منځنی | کم | لوړ | منځنی | کم |
| آیا قومي شورا لرئ؟ | هو | شمېر | ١٣٠ | ٥١ | ٢ | ١٣١ | ۴٩ | ٥ | ۴٠ | ۴٩ | ٩٦ |
| | | فیصدي | ٧٠,٣٪ | ٢٧,٦٪ | ٢,٢٪ | ٧٠,٨٪ | ٢٦,٥٪ | ٢,٧٪ | ٢١,٦٪ | ٢٦,٥٪ | ٥١,٩٪ |
| | نه | شمېر | ٥٠ | ١٥ | ٢ | ۴۴ | ١٩ | ۴ | ١٠ | ١٦ | ۴١ |
| | | فیصدي | ٧۴,٦٪ | ٢٢,۴٪ | ٣,٠٪ | ٦٥,٧٪ | ٢٨,۴٪ | ٦,٠٪ | ١۴,٩٪ | ٢٣,٩٪ | ٦١,٢٪ |
| مجموعه | | شمېر | ١٨٠ | ٦٦ | ٦ | ١٧٥ | ٦٨ | ٩ | ٥٠ | ٦٥ | ١٣٧ |
| | | فیصدي | ٧١,۴٪ | ٢٦,٢٪ | ٢,۴٪ | ٦٩,۴٪ | ٢٧,٠٪ | ٣,٦٪ | ١٩,٨٪ | ٢٥,٨٪ | ٥۴,۴٪ |

## د قومونو تر منځ د پیوستون په اړه د (Mann Whitney -U test)

د قومونو تر منځ د پیوستون د ازمویني له پاره، لکه څرنګه چي په میتودولوژي کي ویل سوي، له (Mann Whitney U test) استفاده سوې ده. دا ټیسټ ځکه انتخاب سوی چي د څېړني ډاټا (abnormal) وه او بیا په کښي د دوو متغیرونو (قومي شورا) او (پیوستونونو) ترمنځ اړیکه محاسبه کېدل؛ چون د دغه مسایلو له پاره همدغه ټېسټ استفاده کېږي، نو د دغه څېړني له پاره هم ویټني یو ټېسټ استفاده سوی او په لاندي جدول (٣) کي د هر پیوستون په اړه آزموینه تر سره سوې او لاندي د ټولو وضاحت لیکل سوی دئ.

**درېیم جدول: ایا تاسي قومي شورا لرئ؟**

| Test Statistics | | | |
|---|---|---|---|
| | Emotional Solidarity | Professional Solidarity | Negative Solidarity |
| U Mann-Whitney | 5948.5 | 5828.5 | 5546 |
| W Wilcoxon | 8226.5 | 23033.5 | 22751 |
| Z | -0.62 | -0.898 | -1.412 |
| Sig. (2-tailed) .Asymp | 0.535 | 0.369 | 0.158 |

a. Grouping Variable: Do you have Tribal Shora?

په احساساتي پیوستون باندي د قومي شورا د تاثیر د معلومو له پاره د (Mann Whitney U test) په داسي حال کښې محاسبه سو چي د احساساتي پیوستون min=1، max=3، mean=1.30 او Std. Deviation=0.51 و. دا چي په ټېسټ کي د p value>0.05 نو دا پایله په لاس راځي چي زموږ ابتدائي فرضیه (Null Hypothesis) تائید او بدیله فرضیه ( Alternative Hypothesis) ردېږي؛ یعني دا چي قومي شورا د قومونو تر منځ په احساساتي پیوستون باندي د پام وړ کوم تاثیر نه لري.

په مسلکي پیوستون باندي د قومي شورا د تاثیر د معلومو له پاره د (Mann Whitney U test) په داسي حال کي محاسبه سو چي د مسلکي پیوستون min=1، max=3، mean=1.34 او Std. Deviation=0.54 و. دا چي په ټېسټ کي د p value>0.05 نو دا پایله په لاس راځي چي زموږ ابتدائي فرضیه (Null Hypothesis) تائید او بدیله فرضیه (Alternative Hypothesis) ردېږي؛ یعني داچي قومي شورا د قومونو ترمنځ په مسلکي پیوستون باندي د پام وړ کوم تاثیر نه لري.

په مسلکي پیوستون باندي د قومي شورا د تاثیر د معلومو له پاره د (Mann Whitney U test) په داسي حال کي محاسبه سو چي د مسلکي پیوستون min=1، max=3، mean=2.34 او Std. Deviation=0.79 و. داچي په ټېسټ کي د p value>0.05 (یعني Sig. = 0.158 ده) نو دا پایله په لاس راځي چي زموږ ابتدائي فرضیه (Null Hypothesis) تائید او بدیله فرضیه (Alternative Hypothesis) ردېږي؛ یعني دا چي قومي شورا د قومونو تر منځ په منفي پیوستون باندي د پام وړ کوم تاثیر نه لري.

## مباحثه/ مناقشه (Discussion)

په کندهار کنبي (۷۳٪) قومونه قومي شوراګاني لري. هغه کسان چي قومي شورا لري، ۴۸٪ يې منظم ګډون په کنبي کوي او ۵۲٪ ګډون نه په کنبي کوي. د څېړني له پايلو جوتېږي، چي قومي شوراګاني که څه هم تشکيل سوي دي، خو بيا هم خلګ په هغو کنبي ډېر ګډون نه کوي. کوم کسان چي قومي شوراګاني لري، يوازي ۳۷٪ خلګ په خپلو قومي شوراګانو کي رسمي غړيتوب لري.


دا چي د څېړني پوښتنه دا وه چي په کندهار کي قومي شوراګاني د قومونو تر منځ په بې اتفاقۍ کي رول درلودلی، که نه، د څېړني په پايله کي جوتېږي چي قومي شورا په بې اتفاقۍ کي کوم رول نه لري. د څېړني پايله دا جوتوي، چي په کندهار ښار کي د خلګو ترمنځ د پيوستون کچه لوړه او مثبته ده. که چېري احساساتي پيوستون کچه په قومي شورا لرونکو کنبي وکتل سي، نو ۷۰٪ خلګو ويلي چي د نورو قومونو پر مورد په زياته کچه احساساتي پيوستون لري. همدغه پيوستون که په قومي شورا نه لرونکو کنبي وکتل سي، نو د هغوی څخه يې ۷۴٪ خلګو ويلي چي دوی د نورو قومونو په مورد په زياته کچه احساساتي پيوستون لري. همدا راز که مسلکي پيوستون ته وکتل سي، هم به ورته مثبته پايله په لاس راسي. کوم کسان چي قومي شورا لري، ۷۰٪ يې وايي چي په زياته اندازه د نورو قومونو سره مسلکي پيوستون لري او کوم کسان چي قومي شورا نه لري ۶۵٪ يې وايي چي په زياته کچه له نورو قومونو سره مسلکي پيوستون لري. همدا راز په درېيمه برخه کنبي ۵۲٪ قومي شورا لرونکي وايي چي دوی د نورو قومونو په پرتله د منفي پيوستون احساس نه لري او په قومي شورا نه لرونکو کنبي بيا ۶۱٪ وايي چي دوی د نورو قومونو په مورد هيڅ د منفي پيوستون احساس نه لري. په درو سره مواردو کي قومي شورا لرونکي او قومي شورا نه لرونکي د نورو قومونو سره د پيوستون (اتفاق) په اړه مثبت نظر لري. (جدول ۴)

| قومي شورا ته په کتو د پيوستون کچه | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پيوستون | | منفي پيوستون | | مسلکي پيوستون | | احساساتي پيوستون | |
| قومي شورا لرئ؟ | | نه | هو | نه | هو | نه | هو |
| د پيوستون کچه | لوړ | ٪۱۵ | ٪۲۲ | ٪٦۸ | ٪۷۱ | ٪۷۵ | ٪۷۰ |
| | منځنی | ٪۲۴ | ٪۲۷ | ٪۲۸ | ٪۲۷ | ٪۲۲ | ٪۲۸ |
| | کم | ٪٦۱ | ٪۵۲ | ٪٦ | ٪۳ | ٪۳ | ٪۲ |

د څېړني پايلي ښيي چي عمر په قومي شورا کي د غړيتوب او بې اتفاقي کي يو فکتور حسابل کېدای سي؛ ځکه اکثره هغه کسان چي عمرونه يې تر ۴۰ کلونو زيات دي، ويلي چي په قومي شورا کي غړيتوب لري او په همدغه کسانو کي د احساساتي او مسلکي پيوستون کچه تر نورو ټولو عمر لرونکو کمه ده. د پام وړ خبره دا ده چي په قومي شورا کي ګډون هغه کسان ډېر کوي چي عمرونه يې له ۲۰ - ۳۰ کلونو ترمنځ دي. ټوټل ۱۲۰ کسانو ويلي چي دوی په خپلو قومي شوراګانو کي ګډون کوي، له دغه جملې څخه يې ۵۵ هغه کسان دي عمرونه يې د ۲۰ - ۳۰ کلونو په منځ کي دي او ۳۵ هغه کسان دي چي عمرونه يې د ۱۵ - ۲۰ کلونو په منځ کي دي. له دې معلومېږي چي قومي شوراګانو کي اکثره ځوانان ګډون کوي.

په څېړنه کې د قومونو اکثریت په ترتیب سره پوپلزي، نورزي، اڅکزي، بارکزي، الکوزي او کاکړ دي. په دغه قومونو کې په ترتیب سره نورزي، اڅکزي، الکوزي، کاکړ، بارکزي او پوپلزي په خپلو قومي شوراګانو کې ډیر ګډون کوي. په لاندي چارټ کې (Figure1) د قومونو پرتله ښه تره معلومېږي.

قومونو ته په کتو په قومي شورا کښي د ګډون کچه




د پیوستون کچې په پورته قومونو کې هم فرق لري. د احساساتي پیوستون کچه په ترتیب سره په بارکزي، اڅکزي، پوپلزي، نورزي کاکړ او الکوزي قومونو کې ډېره ده؛ د مسلکي پیوستون کچه په ترتیب سره په بارکزي، اڅکزي، نورزي، پوپلزي، کاکړ او الکوزي قومونو کې ډېره ده او د منفي پیوستون کچه په ترتیب سره په کاکړ، الکوزي، پوپلزي، بارکزي، نورزي او اڅکزي قومونو کې ډېره ده.

پر څېړني د تېست له اجراء کولو وروسته معلومه سوه چې قومي شوراګاني د قومونو ترمنځ پر بې اتفاقۍ تاثیر نه کوي، خو له ارقامو معلومېږي چې قومي شوراګاني تاثیر لري، خو دومره نه چې پر هغه باندي علمي قضاوت وسي. دا ځکه چې دا تفاوت د عملي قضاوت له پاره کافي نه دئ او د دې احتمال پیدا کوي چې د قومونو تر منځ پر پیوستون کېدای سي بل فکټور تاثیر درلودلی وي.

د دغه څېړنه په ترسره کولو کې تر ټولو عمده محدودیت د ورته څېړنو نه شتون و؛ خصوصاً په افغانستان کې، دا چاره د دې لامل سوې چې د اتفاق له پاره د مناسب آبزار ټاکل محدود کړي. خلګو په هیڅ ډول خپل حقیقي معلومات نه دي وړاندي کړي، هر قوم هڅه کړې چې خپل ایډیال حالت خلګو ته معرفي کړي. همدا راز دربیم محدودیت د څېړني د ترسره کولو له پاره د مناسب وخت نه شتون وو.

د څېړني پر مهال دا جوته سوه چې د څېړني نفوس باید یوازې هغه کسان ټاکل سوي وای چې قومي شوراګاني لري، په قومي شوراګانو کښې ګډون کوي او د قومي شوراګانو په پالیسو خبر وي. همدا راز د څېړني ډیزاین که چېرې کیفي سوی وای، د څېړني پر پایلو یې ډېر اغېز درلودلای سوای. په کمې څېړنیز تاکتیک کې د بې اتفاقۍ اړوند موارد په سمه توګه نه سي راغونډېدلای. بله مهمه مسئله د اتفاق په اړه ابتدائي څېړنه ده. په کندهار ښار کښې باید د اتفاق په اړه څېړنه سوې وای، فکټورونه او ډولونه یې معلوم سوي؛ دا کار به د دې څېړني د محتوا په راغونډولو کې ډېر مفید تمام سوی وای.

## پایله (Conclusion)

د څېړني په پايله کي ويلای سو چي په کندهار ولايت کښې قومي شوراګاني ډېري، په دغه شوراګانو کښې د ګډون کچه کمه ده، هغه کسان چي عمرونه يې له ۲۰ - ۳۰ کلونو پوري په قومي شوراګانو کي يې غړيتوب زيات دئ او هغه کسان چي عمرونه يې له ۴۰ کلونو پورته وي، په قومي شوراګانو کي يې د ګډون کچه زياته ده. همدا راز په پايله کي دا جوته سوه چي په کندهار ښار کښې قومي شوراګاني د قومونو تر منځ پر احساساتي، مسلکي او منفي پيوستون کوم تاثير نه لري. که څه هم په احصائيوي لحاظ دا محاسبه دقيقه ده او د عملي اعتبار وړ ده؛ خو د څېړني په نفوس، ډيزاين او پوښتنليک کي که چېري اصلاحات راسي، نو دغه پايله مکمل تغيير کولای سي؛ ځکه په ډاټا کي دا جوته سوې چي په ډېره کمه اندازه قومي شوراګاني د قومونو ترمنځ پر بې اتفاقۍ تاثير لري؛ خو دغه تاثير د عملي اعتبار وړ نه دئ او نه هم پر دغه تاثير قضاوت کېدلای سي.

## ماخذونه (References)


Alshavi, T. (1379, Hamal 4). Taamuli Dar Fiqh Wa Shora Wa Mashorat. p. 244

Cambridge. (2022, April 05). *Tribe*. Retrieved from Cambridge Dictionary: https://dictionary.cambridge.org/dictionary/english/tribe

Dehkhuda, A. A. (1998). *Dehkhuda Dictionary.* Tehran: Department of Literature and Social Sciences.

Drabarek, J. I. (2022, 5 7). *Professional Solidarity*. Retrieved from Encyklopediaap: https://bit.ly/3KSBqLR

G, A. C., & Zeller, R. A. (1979). *Reliability and Validity Assessment.* London: Sage Publications.

Glatzer, B. (2002). The Pashtun Tribal System. *Contemporary Society: Trabial Studies*, 265 - 282.

Government, A. (2013, March 07). Background Paper Afghanistan: Political Parties and Insurgents Groups 1978 - 2001. *Migration Review Tribunal - Refugee Review Tribunal.*

Hammarstrom, G. (2005). The Construct of intergenartional solidarity in a lineage perspective: A discussion on underlying theortical assumptions. *Journal of Aging Studies*, 33 - 51.

Ihtisham, Y. (2022, 7 14). *How can we determine the sample size from an uknown population?* Retrieved from Researchgate: https://www.researchgate.net/post/How-can-we-determine-the-sample-size-from-an-unknown-population2/5caf21caf8ea52b1e3756076/citation/download

Indira Ghandi, O. (2020). Unity and Diversity. *Block-1 Social structure - rural and urban*. New Delhi, New Delhi, India: Indira Gandhi National Open University, New Delhi.

Qarshi, A. A. (1354). *Quran Dictionary.* Tehran: Darulmaktab Islamia.

Read, J. (2019, Octobar 17). Negative Solidarity: The Affective Economy in Neoliralism's Decline. *Negative Solidarity*. Berlin, Berlin, Germany: Libdinal Economies of Crisis Times. Retrieved May 11, 2022, from https://www.youtube.com/watch?v=2roEUUKQ5Tk

Smelser, N. J. (2015). Sources of Unity and Disunity in Sociology. *The American Sociologist*, 303-312.

Uslusoy, E. C., & Alpar, E. S. (2013). Developing scale for colleague solidarity among nurses in Turky. *Internation Journal of Nursing Practice*, 101-107.

Wikileaks. (2009, July 02). *Wikileaks*. Retrieved from Wikileaks: https://wikileaks.org/clinton-emails/

حفیظ, ح. ا. (۱۳۹۷). بررسی تطبیقی نقش ایران و عربستان سعودی در مدیریت منازعه افغانستان (۲۰۰۱ - ۲۰۱۷). پایان نامه ای کارشناسی ارشط روابط بین اللمل دانشگاه فردوسی مشهد.

عدلیې وزارت. (۱۳۸۲). د افغانستان اساسي قانون. کابل: وزارت عدلیه.

محسني, م. ب. (۱۳۹۵). توسعه سیاسی افغانستان و نقش بازدارنده قومیت گرایی در شکل گیری ان. (میرعلي بیداخویی, محمدعلي, & محسني, چلونکي) اولین همایش بین المللی بحران های ژئوپلتیکی جهان اسلام, ۱- ۲۰.

# The Relationship Between Tribal Councils and Tribal Disunity in Kandahar City - a correlational study

Mohibullah Shoubair

Lecturer of Political Science and International Relations Department

mshoubair@gmail.com

+93 (0) 706667703

## Abstract

*Jirga refers to the historical and traditional assembly of Afghans, which solve the social* problems of our people for a long time. Unity is a social psychological state that make the relations of people. The purpose of this research was to determine the effect of tribal councils on emotional, professional and negative solidarity between tribes in Kandahar city. Correlational study design was used in this study, the sample was determined based on Cochran's formula, and the previous researches in this regard were Zeller and Islosi, whose method was used in this study. There are many tribal councils in Kandahar. Each tribe has separate council. Around two million people from more than 30 tribes live in Kandahar, the tribal councils have divided this large population into 30 parts. In Kandahar, the tribal councils have affected the emotional, professional and negative solidarity of the tribes, but this effect is not so much that it can be scientifically judged. This effect was found in the result of this research that the significance values of the three connections were higher than (0.05) and it supported our initial hypothesis, and concluded that tribal councils do not have emotional, professional and negative solidarity among people in Kandahar.

**Keywords:** Tribal council, disunity, emotional, professional, negative solidarity

# کندهار کې پر ماشومانو د شاقه کار اغېز

سميع الله عزام
د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د حقوقو څانګې استاد
samiullah.ezam@gmail.com
0744265874

## لنډيز

د انساني ټولني زياته او مهمه برخه ماشوم قشر تشکيلوي. د دغه ټولنيز قشر اهميت له دې اړخه دئ چې د طفوليت له مرحلي وروسته په راتلونکي کي د انساني ټولني اصلي قوت جوړوي؛ خو په عين حال کي د انساني ټولني يو زيانمن پوړ هم دئ چې د ټولني له اړخه يو منظم ملاتړي سيستم ته اړتيا لري. د افغانستان د ملي قوانينو او نړيوالو اسنادو له مخي پر ماشومانو د کار تحميل او په فزيکي درندو، روغتيا ته د زيان رسوونکو او تر ځمکي لاندي کارونو کي يې استخدام جواز نه لري؛ مګر متاسفانه په افغانستان او خاصتاً په کندهار کي فقر، بيکاري، تيرو جنګ جګړو، د کار قوانينو عدم تطبيق، د ماشومانو د کاري فرهنګ شتون او ټيټ اقتصاد زياتي کورنۍ دې ته مجبوري کړي دي چې خپل ماشومان له ښوونځيو او لوبو څخه راوګرځوي او د ژوند د پايښت لپاره پرې سخت او شاقه کارونه وکړي. دا شاقه او درانه کارونه پر ماشومانو باندي ډيري بدي او نه جبرانيدونکي جسمي، رواني او ټولنيزي اغيزي له ځانه پريږدي. دا چې ماشومان په آينده کي د انساني ټولني اصلي ځواک جوړوي او شاقه کارونه پر دوی باندي ناوړه او نه جبرانيدونکي اغيزي له ځانه پريږيدي. دا هر څه د يادي موضوع پر اهميت دلالت کوي او دا اړتيا را منځ ته کوي چې په دې عنوان څيړنه وسي. بناءً دغه څېړنه په کندهار کي پر ماشومانو د شاقه کار د اغيرو په هکله ترسره سوي ده چې لازم معلومات پکښي را ټول سوي دي او په پوښتنليک کي مندرجو پوښتنو ته د ټولني خلکو جوابونه ويلي دي. دا څېړنه تر يوه حده په کتابتوني او نوره ټوله په ميداني شکل تر سره سوې ده. پر ماشومانو باندي د شاقه کار د اغيزو اړوند د کندهار ښاريانو ته د (۱۵۰) پوښتنليکونو په ويشلو سره څيړل سوې ده. د دغه څېړني موخه دا وه ترڅو په کندهار کي د ماشومانو د شاقه کار عوامل معلوم او پر ماشومانو باندي د شاقه کار تاثيرات او اغيزي واضح او روښانه سوي وي چې تر ډيره حده يادي موخي ته رسيدلي يو.

**کليدي کلمات**: فقر، ماشوم، شاقه کار، کاري فرهنګ

## پېژندنه (Introduction)

ماشومان په هر ټولنه کې یو مهم ټولنیز پوړ حسابیږي. د دغه ټولنیز قشر اهمیت له دې اړخه دئ، چې د ماشومتوب له دورې وروسته په راتلونکي کې د بشري ټولني اصلي ځواک پیژندل کیږي. خو په عین حال کې د بشري ټولني یو زیانمن پوړ هم دئ چې د ټولني له اړخه یو منظم ملاتړي سیسټم ته ضرورت لري. داسي یو سیسټم ته چې د ماشومانو مادي، فطري او فرهنګي اړتیاوي د منل سوو میتودونو پر اساس پوره کړي. بین المللي شمېرې ښیي چې په ټوله نړۍ په ځانګړې ډول په وروسته پاتې او د پرمختګ په حال هیوادونو کې په میلیونونو ماشومان د زده کړې او علم پر ځای خپل ځان د شاقه کار قرباني کوي (افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمیسیون، (۱۳۹۷ ل. / حمل). ځکه ماشومان اړ دي، چې د ځان او کورنۍ د مادي اړتیاوو د پوره کولو یا هم په ټولنه باندې د حاکمو عرفي او فرهنګي چوکاټونو پر اساس په کم عمر کې په سختې سره کار وکړي. که څه هم په افغانستان کې د کارګرو ماشومانو دقیق شمیر معلوم نه دی او شته معلومات یوازې اټکلي دي، مګر د جنګ، نا امنیو او داسې نورو مسایلو په دلیل چې د ټولني له ټولنیز او فرهنګي اړخ سره اړیکه لري، ماشومان یې دې ته اړ کړي چې د زده کړو پر ځای کار وکړي چې یاد کارونه د ماشومانو لپاره نه جبرانیدونکي تاثیرات او پایلې له ځان سره لري. دا ځکه چې ماشومان هغه کارونه تر سره کوي چې د دوی طبعي وده له ستونزو سره مخ کوي او یا دوی له جسمي او روحي ناروغیو سره مخامخ کوي.

د افغانستان د (۱۳۸۲ ل.) اساسي قانون په (۴۹) مه ماده کې راغلي چې پر ماشومانو د کار تحمیل جواز نه لري: «د جبري کار تحمیل منع دی. د جګړې، آفتونو او داسي نورو حالاتو کې چې عامه ژوند او هوساینه تهدید کړي فعاله برخه اخیستنه د هر افغان ملي وجیبه ده.» همدا راز د کار قانون د تنکیو ځوانانو د فزیکي او صحي روغتیا د خوندي کولو او هغوی ته د غیر ضروري زیان رسېدو د مخنیوي په موخه ډېر روښانه اصول وضع کړي دي. د افغانستان د (۱۳۸۷ ل.) د کار قانون (۱۲۰) مه ماده په دې اړوند داسي صراحت لري: «په فزیکي درندو، روغتیا ته د زیان رسوونکو او تر ځمکي لاندي کارونو کې د ښځو او تنکیو ځوانانو استخدامول، جواز نه لري». همدارنګه د ملګرو ملتونو د ماشومانو د حقوقو په تړون کې داسي راغلي « ماشومان له هر ډول ګواښمن کار او فعالیت څخه او له داسي چارو چې د ماشوم په زده کړه بده اغیزه وکړي یا د ماشوم جسمي، دماغي، معنوي، اخلاقي او ټولنیزي پرمختیا ته زیان رسوي، باید خوندي سي» (د ماشومانو د حقوقو کنوانسیون، ۳۲ ماده). خو له دې ټولو سره سره په هیواد کې په ځانګړې ډول کندهار کې روانو جنګ جګړو او ټیټ اقتصاد ډېري کورنۍ دې ته اړي کړي چې خپل ماشومان له ښوونځیو او لوبو څخه راوګرځوي او د ژوند د پایښت لپاره پرې شاقه کارونه وکړي.

**ماشوم (طفل):** د ټولنپوهني له نظره ماشوم د ټولني د غړی په توګه هغه څوک دی چې لا تر اوسه د لازمو ټولنیزو مهارتونو د نه درلودلو له امله په ټولنیز سازمان کې مؤثره رول نه لري (آلسون جمیز ،۱۳۸۳ ل). د حقوقو په حوزه کې طفل (ماشوم) په هغه شخص اطلاقیږي چې د اتلس کلنۍ سن یې نه وي بشپړ کړی (د افغانستان د طفل د حقوقو د ملاتړ قانون (۱۳۹۷ ل، ۳ ماده، ).

**کار:** انسانان په خپل ژوند کې له یو زیات شمېر مادي او معنوي اړتیاوو او ضرورتونو سره مخامخ کیږي، چې پرته د زیار او تکلیف څخه د دغو اړتیاوو پوره کول ناشونی بریښي؛ نو انسان اړ دئ ترڅو په مادي او معنوي برخو کې د دغو اړتیاوو د پوره کولو لپاره نه ستړې کېدونکي هلې ځلې ترسره کړي، چې په دې برخه کې د دغو اړتیاوو د پوره کولو لپاره یو مهم عنصر د انسانانو فزیکي او ذهني کار او زیار دئ، کوم چې د تاریخ په اوږدو کې هر وخت انسانانو ترسره کړي او د هغه په واسطه یې خپلي اړتیاوي پوره کړي دي. د تاریخ په ځینو دورو کې انسانانو په ځینو وختونو کې شاقه او درانه کارونه او په ځینو وختونو کې یې د وسایلو او امکاناتو څخه په استفادې سره اسانه ولې مؤثره کارونه ترسره کړي دي. په اقتصادي لحاظ کار هغه ذهني او فزیکي کړنه ده چې د اجوري (معاش)

په مقابل کي ترسره کېږي یا هم له کار څخه موخه هغه ذهني یا فزیکي هلي ځلي دي چي د لويو او یا کوچینو موخو د لاسته راوړلو لپاره ترسره کېږي (نقیب الله ثاقب، ۱۳۹۷ ل). په حقوقي لحاظ کار بیا د یو تړون حیثیت لري چي د کارکوونکي او کار خاوند یا هم د حقوقي اشخاصو ترمنځ د یوې معلومي یا نا معلومي مودې لپاره د مزد یا اجورې د ترلاسه کولو په پار تړل کېږي او پر بنسټ یي دواړو لوريو ته حقوق او وجایب متوجه کېږي (سید اکرم هاشمي، ۱۳۹۵ ل). په ټوله کي ویلای شو چي کار هغه فکري یا جسمي فعالیت دی چي شخص یا اشخاصو ته دکالیو د تولید یا خدمتونو د وړاندي کولو په مقصد وي (ستانکزی او نور، ۱۳۹۷ ل).

**شاقه (درونډ) کار:** د شاقه کارونو په ارتباط چي ماشومان باید په هغه کښي دخیل نه وي زیات بحثونه شتون لري. د طفل د حقوقو د ملاتړ قانون د دریيمي مادې، (۱۴) مي فقرې له مخي شاقه کار هغه کار دئ چي د هغه ترسره کول د طفل له جسمي توان څخه لوړ وي د طفل په جسمي یا ذهني ودي باندي ناوړه اغیزه ولري؛ مګر په عموم کي د ماشومانو په ارتباط شاقه کارونه ټولو هغو فعالیتونو ته شامليږي چي په جسمي، رواني، ټولنیز او اخلاقي لحاظ خطرناک وي او د ماشومانو د مادي او معنوي ودي مانع ګرځي او د هغو مسلم حقوق ضایع کوي (افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمیسیون، (۱۳۹۷ ل). لکه مخکي چي وویل سول، کار د هغو وظایفو د اجرا په عنوان تعریف کړو چي یوازي فکري او فزیکي هڅي پکښي شاملي وي او هدف یي د توکو او خدماتو تولید وي کوم چي د انسان اړتیاوي پوره کوي. کسب یا شغل هغه کار دئ چي د مزد یا منظمو حقوقو په مقابل کي ترسره کېږي. کار په ټولو فرهنګونو کي د اقتصادي نظام یا اقتصاد اساس دئ او ټولو هغو نهادونو ته شامليږي چي د اجناسو او خدماتو له تولید او توزیع سره سر او کار لري. ماشومان د کارونو په کولو کي د لویانو په شان نه دي او قانوني عمر ته تر رسیدو دمخه د فزیکي او جسماني ناتواني له مخي کار نه سي کولای او له بل اړخه په داسي وخت کي کار کول د دوی د زده کړي، جسمي ځواکمنتیا، روحي خوشحالي، طبیعي ودي او ټولنیز پرمختګ مخه نیسي او په راتلونکي کي له هغه څخه یو انزوا طلب او عقدمند شخص جوړیږي.

### د څېړني ستونزه (Research Problem)

په کندهار کي زیات ماشومان شاقه کارونه کوي چي دا حالت د اندیښني وړ دئ. که دا حالت همداسي دوام پیدا کړي، د کندهار راتلونکی بشري انکشاف به له لوي ګواښ سره مخ سي؛ بې وزلي او بې سوادي به مخ پر زیاتیدونکی حالت ولري. بنسټیزو حقوقو ته د ماشومانو نه لاسرسی او د هغوی له کاري ځواک څخه ناسمه استفاده، پر ماشومانو باندي د شاقه کار د ناوړه تاثیراتو اړوند د عامه پوهاوي نه شتون، په کندهار کي پر ماشومانو د شاقه کار د عواملو او همدارنګه پر ماشومانو باندي د شاقه کار د اغیزو اړوند د یوي بشپړي څیړني نه شتون هغه ستونزي دي چه د ماشوم ژوند او د ټولني آینده یې له جدي ګواښ سره مخ کړې ده او دې ته ورته ستونزي ایجاب کوي ترڅو په دې برخه کي په مسلکي ډول یوه مکمله څېړنه تر سره سي او په کندهار کي پر ماشومانو د شاقه کار د اغیزو اړوند ربنتیني ډاټا را ټوله، تحلیل او د یوې منظمي او باکیفیته څېړني په شکل یې پایلي اړوندو ارګانونو او ټولني ته وړاندي سي.

### د څېړني اهمیت (Significance of the study)

دا چي ماشومان په هر ټولنه کي یو مهم ټولنیز قشر حسابیږي، ځکه چي همدا ماشومان د ماشومتوب له دورې وروسته په راتلونکي وخت کي د بشري او انساني ټولني اصلي ځواک پیژندل کیږي. متاسفانه نن ورځ په افغانستان او خاصتاً په کندهار کي جنګ جګړو، خراب اقتصادي وضعیت او فرهنګي مسایلو ډیري کورنۍ دي ته اړي کړي دي چي خپل ماشومان له زده کړو او لوبو څخه راوګرځوي او د ژوند د پایبنت لپاره پرې شاقه او درانه کارونه وکړي، چي دا شاقه او درانه کارونه پر ماشومانو باندي ډیري بدي او نه جبرانیدونکي جسمي، رواني او ټولنیزي اغیزي غورځوي.

د انساني ټولني راتلونکي پرمختيا او ځواکمنتيا د نن ورځي د ماشوم په سالمه روزنه او د هغه روان او صحت ته په پاملرنه کي نغښتي ده. پر ماشوم د شاقه کارونو اجراء کول د ماشوم او ټولني د پرمختګ مخه نيسي. بناءً ډيره مهمه ده چي د ماشوم روزنه، د هغه روان او صحت، شاقه کار او پر ماشوم او ټولني باندي د شاقه کار د اجراء عوامل او منفي اغيزي روښانه سي؛ نو طبعي خبره ده، کومه څېړنه چي د دې موضوع په رابطه ترسره کيږي له فوق العاده اهميت څخه به برخورداره وي، په دې څېړنه کي هڅه سوې ده ترڅو په ياده برخه کي شته ستونزي رابرسيره کړي او د همدې څېړني د پايلو په شريکيدو سره موجوده ستونزه په يو مخيزه بڼه او يا يې حد اقل اندازې ته د راټيټېدو حل لاري وړاندي سي.

### د څېړني موخي (Research Objectives)

۱- د هغو عواملو روښانه کول چي له مخي يې په کندهار ولايت کي ماشومان د شاقه کارونو اجراء ته مجبورېږي.

۲- پر ماشومانو باندي د شاقه کار تاثيرات او اغيزې واضح کول.

### د څېړني پوښتني (Research Questions)

۱- په کندهار کي پر ماشومانو باندي شاقه کارونه کوم تاثيرات او اغيزي لري؟

۲- د کومو عواملو پر اساس ماشومان په کندهار کي په شاقه کارونو لاس پوري کوي؟

### د څېړني فرضيه (Research Hypothesis)

د کندهار له ټولنيز وضعيت څخه داسي څرګنديږي، چي د ځينو عواملو پر اساس ماشومان د شاقه کارونو اجراء ته مجبورېږي او دا کړنه پر ماشومانو بدي اغيزي اچوي.

## د څېړني اړوند پخوانيو آثارو ته کتنه (Literature Review)

د دې موضوع په رابطه تراوسه کومه مستقله څېړنه نه ده ترسره سوې، مګر بياهم ځيني معلومات شتون لري، چي د موضوع له ځينو اړخونو سره په نسبي اندازه نژدېوالي لري. د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کميسيون، ۱۳۹۷ ل. عوامل و پیامدهای ناگوار کارشاقه اطفال در افغانستان (گزارش تحقيق ملي). په دغه تحقيقي راپور کي د (مبانی حقوقی کارهای شاقه اطفال، دسترسی اطفال به حقوق اجتماعی، عوامل کار شاقه اطفال و پیامدهای کارهای شاقه اطفال) باندي بحث سوی دئ. د دغه تحقيق پايلي څرګندوي، چي شاقه کارونه پر ماشومانو باندي زياتي منفي اغيزي له ځانه پريږدي، د هغوی د جسمي او روحي ناروغيو او معلوليتونو باعث جوړيږي او له تعليم څخه د ماشومانو د محروميت سبب ګرځي. دا څېړنه به ځکه له پورته څېړني څخه متفاوته وي، چي د څيړني ځای او ساحه يې متفاوته ده. پورته څېړنه په ټول افغانستان کي د ماشومانو د شاقه کار د عواملو او تاثيراتو په ارتباط سوې ده، خو دا څېړنه يوازې په کندهار کي ترسره سوې ده.

د افغانستان د څېړني او ارزوني واحد، ۲۰۰۹ برخورد با پدیده کار اطفال در افغانستان، په دې څېړنه کي پر دغه موضوعاتو ( چرا اطفال کار می کنند؟ اطفال در معرض خطر و چگونگی واکنش به آن) باندي بحث سوی دئ. د دغه تحقيق پايله ښيي چي يوازې فقر او غربت په ټولنه کي د ماشومانو د کار عامل نه دئ؛ بلکي نور عوامل لکه: ټولنيز او فرهنګي شرايط هم پر دې پديده باندي زيات اغېزه لرونکي دي. همدارنګه ياد تحقيق روښانه کوي چي د هغو کورنيو سربېره چي په واقعي ډول دې ته مجبور دي چي خپل ماشومان کار ته وليږي؛ داسي کورنۍ هم سته چي له اقتصادي اړخه ډيري مجبور نه دي، خو ولي بيا هم خپل ماشومان جبراً کار ته مجبوروي.

مطالعات و تحقيقات اجتماعی در ايران، ۱۳۹۴/ثور/۲۲. علل و خطرهای کار کودکان در خيابان. په دي څیړنیزه مقاله کي هم پر دې موضوعاتو (علل پديده کودکان خيابانی، علل خيابانی شدن کودکان، علل کار کودکان خيابانی شهر تهران، خطرهای کار و زندگی در خيابان، آسيب های ساير محيط های کار) باندي بحث سوی دئ.

په پورتنيو څيړنو او ليکنو کي د ماشومانو او شاقه کار پر پيژندني، پر ماشومانو د شاقه کار تاثيرات، د ماشومانو د شاقه کار پر حقوقي بنسټونو او ځينو نورو موضوعاتو باندي بحثونه سوي دي، دا چي د هري ټولني ټولنيز جوړښت او همدارنګه زماني او مکاني شرايط فرق لري نو په کندهار کي پر ماشومانو د شاقه کار د عواملو او اغېزو په هکله کومه ليکنه / څېړنه شتون نه لري.

## مواد او میتودونه (Materials & Methods)

دغه یوه (کیفي) میداني څېړنه ده چي د ۱۴۰۰ل. کال د میزان د میاشتي څخه بیا تر حوت میاشتي پوري د شپږو میاشتو په بهیر کي په کندهار کي پر ماشومانو باندي د شاقه کار د اغېزو په هکله تر سره سوې ده. داچي یاده څېړنه په کندهار ښار کي تر سره سوي ده؛ نو نفوس یې ټول اوسیدونکي ول. شرایطو ته په کتو د غیراحتمالي تصادفي نموني اخیستني میتود په کارولو سره ۱۵۰ کسان د نموني په توګه ټاکل سوي دي. د ټاکل سوو (۱۵۰) کسانو څخه ډاټا د پوښتنلیکونو په وسیله راټوله سوې ده. یاد پوښتنلیک څوارلس پوښتني لرلي چي (هو – نه، څو جوابه، او خلاصي) پوښتني وې. ترلاسه سوي ډاټا د MS Excel پروګرام په مرسته تحلیل او په جدولو کي ترتیب سوې دي. په څېړنه کي د څېړني حقوقي او اخلاقي اړخونو ته ځانګړي پاملرنه سوې ده.

## نتایج (Results)

د پوښتنلیک لمړۍ برخه د جواب ویونکو اړوند معلوماتو ته ځانګړي سوې وه، چي د هغه له مخي د پوښتنلیک د جوابوونکو د ځانګړتیاوو په اړه په لاندي جدول کي معلومات لیکل سوي دي.

اول جدول: د جواب ویونکو اړوند معلومات *(د نموني اندازه ۱۵۰)*

**Table 1: Socio demographic characteristics of respondents** *(n= 150)*

| د متحول نوم (Variable) | تعداد (Frequency) | فیصدي (Percentage %) |
|---|---|---|
| **استوګنځای (کندهار ښار)** | | |
| ۱ ناحیه | ۱۸ | ۱۲ ٪ |
| ۳ ناحیه | ۱۰ | ٦,٧ ٪ |
| ۴ ناحیه | ۲۰ | ۱۳,۳ ٪ |
| ۵ ناحیه | ۲۷ | ۱۸ ٪ |
| ۷ ناحیه | ۱۵ | ۱۰ ٪ |
| ۹ ناحیه | ۱۴ | ۹,۳ ٪ |
| ۱۰ ناحیه | ۱۸ | ۱۲ ٪ |
| ۱۲ ناحیه | ۱۵ | ۱۰ ٪ |
| ۱۵ ناحیه | ۱۳ | ۸,۷ ٪ |

| | | |
|---|---|---|
| **عمر / سن** | | |
| ۱۸ – ۲۵ | ۵۷ | ۳۸ ٪ |
| ۲۵ – ۴۰ | ٦۷ | ۴۴,۷ ٪ |
| ۴۰ – ٦۵ | ۲۲ | ۱۴,۷ ٪ |
| > ٦۵ | ۴ | ۲,٦ ٪ |
| **جنسیت** | | |
| نارینه | ۱۳۴ | ۸۹,۳ ٪ |
| ښځینه | ۱٦ | ۱۰,۷ ٪ |
| **مدني حالت** | | |
| متاهل | ۹۴ | ٦۲,۷ ٪ |
| مجرد | ۵٦ | ۳۷,۳ ٪ |
| **د ماشوم سره تړاو** | | |
| په کار ګمارونکی | ۷۱ | ۴۷,۳ ٪ |
| د ماشوم سرپرست | ۷۹ | ۵۲,۷ ٪ |
| **د میاشتني عوایدو کچه** | | |
| ۵۰۰۰ – ۱۰۰۰۰ افغانۍ | ۱۰۳ | ٦۸,۷ ٪ |
| ۱۰۰۰۰ – ۱۵۰۰۰ افغانۍ | ۲۹ | ۱۹,۳ ٪ |
| > ۱۵۰۰۰ | ۱۸ | ۱۲ ٪ |
| **د میاشتني مصارفو کچه** | | |
| ۵۰۰۰ – ۱۰۰۰۰ افغانۍ | ۴۷ | ۳۱,۳ ٪ |
| ۱۰۰۰۰ – ۱۵۰۰۰ افغانۍ | ۵۵ | ۳٦,۷ ٪ |
| > ۱۵۰۰۰ | ۴۸ | ۳۲ ٪ |

د پوښتنلیک دوهمه برخه د څېړني اړوند پوښتنو ته ځانګړې سوې ول، چي خوارلس (هو – نه، څو جوابه، او خلاصې) پوښتني يې لرلې چي د MS Excel پروګرام په مرسته په لاندې ډول تحلیل او په جدولو کي ترتیب او تنظیم سوي دي.

دوهم جدول: د هو او نه پوښتني او جوابونه *(د نمونې اندازه ۱۵۰)*

| پوښتنه | جواب | تعداد | فیصدي (٪) |
|---|---|---|---|
| ۱- ایا تاسي په خپله یو مصروفیت او دنده لرئ؟ | هو | 107 | 71.3 |
| | نه | 43 | 28.7 |
| ۲- ایا داسي ماشومان لرئ چي کار کوي؟ | هو | 106 | 70.7 |
| | نه | 44 | 29.3 |
| ۳- ایا شاقه کار پېژنئ؟ | هو | 125 | 83.3 |
| | نه | 25 | 16.7 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴- ستاسي هغه ماشومان چي کار کوي درس وايي؟ | هو | 86 | 57.3 |
| | نه | 61 | 40.7 |
| ۵- ايا ماشومان د کار په وخت کي جنسي او اخلاقي امنيت لرئ؟ | هو | 117 | 78.0 |
| | نه | 26 | 17.3 |

په پورتني دوهم جدول کي، لومړنۍ پوښتني ته (۱۰۷) کسانو ويلي چي په دنده بوخت دي چي دا دې ښکارندويي کوي چي اوس مهال د کندهار ښار ډېری وګړي په يو کار باندي مصروفه دي او د ژوند په بېلا بيلو برخو کي د خپلو ستونزو او اړتياوو د تأمينولو لپاره د کار په ارزښت پوهيدلي دي.

دوهمي پوښتني ته (۱۰٦) کسانو ويلي چي کورنۍ يې د خپلو اړتياوو د پوره کولو لپاره اړي دي چي خپل ماشومان د مکتب او مدرسې پر ځای کارځايونو ته وليږي، تر څو د هغوی له کار څخه په لاسته راتلونکي عايد سره د خپل ژوند اوليه اړتياوي پوره کړي حال داچي ۸۳,۳ سلنه کسانو ويلي چي شاقه کار پيژني.

د څلورمي پوښتني په جواب کي (۸٦) کسانو ويلي دي چي ماشومان يې د کار ترڅنګ درسونه هم وايي او پاته کسانو ويلي چي ماشومان يې کار کوي درس نه وايي چي په دې اړه يې دلايل داسي ويلي دي: د کورنۍ نفوس مو زيات دئ، پرته له دې ماشوم څخه بل څوک نه لرو چي کار وکړي، مجبوره دي چي ټوله ورځ کار وکړي او درس ويلو ته وخت نه لري. ماشومان مو په خپله له درس سره علاقه نه لري. له يوې خوا د ماشومانو تعليم لګښتونه غواړي او له بلي خوا زه په يوازې سر نسم کولای چي د کورنۍ ټول لګښتونه برابر کړم. د حرفي او کسب د زده کړي په خاطر مي ماشومان په مستري خانه کي شاګردان کړي دي؛ نو مدرسي او مکتب ته نه ځي. د کار له کبله د درس ويلو لپاره وخت نه لري او يا يې کارفرما اجازه نه ورکوي، چي درس ته ولاړ سي.

د پنځمي پوښتني په جواب کي (۱۱۷)کسانو ويلي چي ماشومان يې د کار پر مهال د جنسي او اخلاقي امنيت څخه برخمن دي؛ خو لږ ۱۷,۳ سلنه کسانو ويلي دي چي ماشومان يې د کار پر مهال اخلاقي او جنسي امنيت نه لري چي دلايل يې په دې ډول ويلي دي: په ټولنه کي د نوموړي موضوع په ارتباط د عامه پوهاوي نه شتون. په ټولنه کي د اخلاقي فساد موجوديت. په کار ځايونو کي د فاسدو اشخاصو سره يو ځای کار کول. د ماشومانو له غربت او مجبوريت څخه په سؤ استفادې سره د هغه څخه نامشروع غوښتني کيږي. په کار ځای کي پر ماشومانو د والدينو يا سرپرستانو د نظارت نشتون. په ټولنه کي د قانون عدم حاکميت. په خپله ماشومان تر ډيره نه سي کولای چي د دا ډول فاسدو اعمالو او حرکاتو تفکيک وکړي.

دريیم جدول: د کار ډول *(د نمونې اندازه ۱۵۰)*

| پوښتنه | جواب | تعداد (Frequency) | فيصدي (Percentage %) |
|---|---|---|---|
| ٦- پوښتنه: ستاسي ماشومان څه ډول کار کوي؟ | سپک کار | 67 | 44.7 |
| | شاقه کار | 80 | 53.3 |

په مخکني درېیم جدول کې د شپږمي پوښتني له جوابو څخه څرګندېږي چې ۴۴,۷ سلنه کسانو ویلي چې ماشومان یې په سپکو کارو او پاته ۵۳,۳ سلنه کسانو ویلي چې ماشومان یې شاقه کارونه کوي چې زیاتوالی یې دا ښیي چې تیرو جنګ جګړو، ټیټ اقتصاد او فقر د کندهار ښار ډیري کورنۍ دې ته اړې کړې چې خپل ماشومان له ښوونځیو، مدرسو او نورو تعلیمي مراکزو څخه راو ګرځوي او د ژوند د پایښت لپاره پرې درانه او شاقه کارونه وکړي.

څلورم جدول: څو جوابه پوښتني *(د نموني اندازه ۱۵۰)*

| پوښتنه | جواب | تعداد (Frequency) | فیصدي (Percentage %) |
|---|---|---|---|
| ۷- تاسي د ماشومانو له شاقه (سخت او درونډ) کار څخه څومره خوښ یاست؟ | نه یم خوښ | 92 | 61.3 |
| | لږ خوښ یم | 43 | 28.7 |
| | ډیر خوښ یم | 15 | 10.0 |
| ۸- څومره علاقمند یاست چې ماشومان دي شاقه کار وکړي؟ | نه یم علاقمند | 102 | 68.0 |
| | لږ علاقمند یم | 33 | 22.0 |
| | ډیر علاقمند یم | 11 | 7.3 |
| ۹- د ماشومانو له کار څخه لاسته راتلونکي عواید ستاسو د اړتیاوو په پوره کولو کې څومره مرسته کوي؟ | 100 % | 6 | 4.0 |
| | 75 % | 24 | 16.0 |
| | 50 % | 33 | 22.0 |
| | 25% | 44 | 29.3 |
| | هیڅ | 43 | 28.7 |
| ۱۰- هغه ماشومان چې کار کوي له خپل کار څخه څومره خوښ دي؟ | نه دي خوښ | 73 | 48.7 |
| | لږ خوښ دي | 51 | 34.0 |
| | ډیر خوښ دي | 26 | 17.3 |
| ۱۱ـ ایا تاسي ته د شاقه کار د زیانونو او ناوړه تاثیراتو په اړه عامه پوهاوي درکړل شوي؟ | په کافي اندازه | 33 | 22.0 |
| | لږ | 41 | 27.3 |
| | ډیر لږ | 37 | 24.7 |
| | نه | 39 | 26.0 |

په پورتني څلورم جدول کې د یوولسمي پوښتني له جوابو څخه جوتیږي چې خلکو ته د شاقه کارو د زیانونو او ناوړه اغیزو په اړه په کافي اندازه عامه پوهاوي نه دی ورکول سوی چې دا ددې ښودنه کوي چې په کندهار ښار کې کورنیو ته پر ماشومانو د شاقه کارونو د ناوړه او منفي اغیزو په هکله د اړوندو حکومتي بنسټونو، تعلیمي ادارو، د مسجدونو د امامانو او رسنیو لخوا لازم عامه پوهاوی نه دی ورکړل سوی، که ورکړل سوی هم دئ؛ خو په دې برخه کې لازم او کافي نه ګڼل کیږي.

پنځم جدول: څو انتخابه پوښتني (د نمونې اندازه ۱۵۰)

| پوښتنه | جواب | تعداد (Frequency) | فیصدي (Percentage %) |
|---|---|---|---|
| ۱۲- په کندهار کې ماشومان کوم ډول شاقه کارونه ډیر ترسره کوي؟ | د سرک په غاړه کار | 80 | 53.3 |
| | د آهنګرۍ کار | 63 | 42.0 |
| | د دوکان شاګردي | 88 | 58.7 |
| | برښناییز ولډینګ | 46 | 30.7 |
| | موټر شویي | 68 | 45.3 |
| | د نانوايي شاګردي | 64 | 42.7 |
| | د خښتو په بټیو کې کار | 59 | 39.3 |
| | نور ... | 34 | 22.7 |
| ۱۳- په کندهار کې کوم عوامل د دې باعث سوي دي چې ماشومان په شاقه کارونو لاس پورې کړي؟ | فقر | 96 | 64.0 |
| | بیکاري | 97 | 64.7 |
| | جنګ | 87 | 58.0 |
| | د تعلیم د سطحې ټیټوالی | 51 | 34.0 |
| | د کار د قوانینو عدم تطبیق | 27 | 18.0 |
| | د پلار او مور لخوا تحمیل | 43 | 28.7 |
| | د زده کړو د مصارفو برابرول | 37 | 24.7 |
| | د ماشومانو د کاري فرهنګ شتون | 32 | 21.3 |
| | د کورنۍ سرپرست نه درلودل | 61 | 40.7 |
| | د کار په مقابل کې د ډوډۍ پیدا کول | 87 | 58.0 |
| ۱۴- شاقه کار پر ماشومانو د کومو اغیزو او تاثیراتو لرونکی دئ؟ | د ښوونې او روزنې څخه محرومیت | 128 | 85.3 |
| | پر نشه يي توکو اعتیاد | 65 | 43.3 |
| | جسمي معلولیت | 72 | 48.0 |
| | ذهني معلولیت | 68 | 45.3 |
| | د کمترۍ احساس | 53 | 35.3 |
| | د سپورټ څخه پاتې کېدل | 61 | 40.7 |
| | د جنسي هوسونو قرباني کېدل | 39 | 26.0 |
| | د قاچاق قرباني کېدل | 41 | 27.3 |

په پورتني پنځم جدول کې د څوارلسمي پوښتني جوابونه دا ښیي چې شاقه کارونه پر ماشومانو باندې اکثراً ډېر ناوړه تاثیرات اچوي. د دوئ د جسمي او ذهني معلولیت او مختلفو ناروغیو باعث ګرځي، چې دا چاره د ماشومانو د اقتصادي فقر په تقویت کې همکاري کوي. د جسمي او ذهني معلولیت سربېره شاقه کارونه له ښوونې او روزنې څخه د ماشومانو د محرومیت سبب جوړېږي،

ماشومان خپل طلائي عمر او د هغه اړوند امتیازات لکه جسمي وده او سپورتي لوبي له لاسه ورکوي او همدارنګه شاقه کارونه د قاچاق او اعتیاد په برخو کي د ماشومانو د قرباني کیدو سبب ګرځي.

## مباحثه/ مناقشه (Discussion)

هغه پوښتني چي د کندهار ښار له اوسیدونکو سره د ماشومانو د شاقه کار د عواملو او پر ماشومانو باندي د شاقه کار د تاثیراتو او اغیزو په اړه موجودي وې، د دې څېړني په مرسته تر ډېره جواب سوي دي. د راټولي سوي ډاټا د تحلیل وروسته معلومه سوه چي د کندهار ښار ډیری کورني د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره اوس هم دې ته اړي دي چي خپل ماشومان د مکتب او مدرسي پر ځای کارځایونو ته ولیږي. په کندهار کي فقر، تیري جګړي، بیکاری، د ماشومانو د کار فرهنګ شتون، د ماشومانو له حقوقو څخه د کورنیو نه خبرتیا او بې غوري، د قوانینو عدم تطبیق هغه عوامل دي چي پر اساس یي ماشومان د شاقه کارونو اجراء ته مجبور او یا هم دوي په خپله د شاقه کارونو پر اجراء لاس پوري کوي. همدا شاقه کارونه له ښووني او روزني څخه د ماشومانو د محرومیت، د هغوي د جسمي او ذهني معلولیت، په نشه یي توکو د دوی د اعتیاد او د قاچاق کیدلو سبب جوړ سوي دي. همدا راز دا هم معلومه سوه چي ماشومان د کار پر مهال تر ډېره پوري اخلاقي او جنسي امنیت لري. شاقه کارونه کیدای شي چي د ماشومانو پر رواني حالت باندي ناوړه اغیزي وکړي چي دا اغیزي ممکن د هغه پر شخصیت ناوړه منفي اثرات وکړي. ددې څېړني نوري موندني ښیي چي په کندهار ښار کي کورنیو ته پر ماشومانو د شاقه کارونو د ناوړه او منفي اغیزو په هکله د اړوندو حکومتي بنسټونو، تعلیمي ادارو، د مسجدونو د امامانو او رسنیو لخوا لازم عامه پوهاوی نه دئ ورکول سوی، که ورکول سوی هم دئ؛ خو په دې برخه کي لازم او کافي نه ګڼل کیږي. ددغه څېړني پرمهال یو شمېر خنډونه او ستونزي هم موجودي وې لکه، په ټولنه کي د څېړنو د اهمیت په هکله د عامه پوهاوي نشتون، د پوښتنلیکونو په جوابولو کي د خلکو نه لیوالتیا او د وخت کموالی.

## پایله (Conclusion)

د دې څېړني له ترسره کېدو وروسته دې پایلي ته رسیږو چي، ماشومان د ټولني یو مهم ټولنیز قشر حسابیږي. د دغه ټولنیز قشر اهمیت له دې اړخه دئ چي د ماشومتوب له دورې وروسته په راتلونکي کي د بشري ټولني اصلي ځواک پیژندل کیږي؛ خو په عین حال کي د بشري ټولني یو زیانمن پوړ هم دئ چي د ټولني له اړخه یو منظم ملاتړي سیسټم ته ضرورت لري؛ داسي یو سیسټم ته چي د ماشومانو مادي، فطري او فرهنګي اړتیاوي د منل سوو میتودونو پر اساس پوره کړي. د افغانستان د ملي قوانینو او نړیوالو اسنادو له مخي پر ماشومانو د کار تحمیل او په فزیکي درندو، روغتیا ته د زیان رسوونکو او تر مځکي لاندي کارونو کي یي استخدام جواز نه لري؛ خو په افغانستان او په ځانګړي ډول په کندهار کي فقر، بیکاري، تیرو جنګ جګړو، د کار قوانینو عدم تطبیق، د ماشومانو د کاري فرهنګ شتون او ټیټ اقتصاد ډیري کورنۍ دې ته اړي کړي دي چي خپل ماشومان له ښوونځیو او لوبو څخه راوګرځوي او د ژوند د پایښت لپاره پرې سخت او شاقه کارونه وکړي، چي دا شاقه او درانه کارونه پر ماشومانو باندي ډیري بدي او نه جبرانیدونکي جسمي، رواني او ټولنیزي اغیزي له ځانه پریږدي، ځکه ماشومان هغه کارونه تر سره کوي چي د دوی طبعي وده له ستونزو سره مخ کوي او له رنګا رنګ جسمي او روحي ناروغیو سره یي مخامخ کوي. په هر صورت د دې څیړني پایلو وښوده چي نن ورځ په کندهار کي کمزوری اقتصاد، تیري جنګ جګړي، بیکاري، د کوچنیانو د کاري فرهنګ شتون، د سرپرست نه درلودل او د کار او ماشومانو په برخه کي د شته قوانینو نه تطبیق پر ماشومانو باندي د شاقه کارونو عوامل یاد شوي دي او یاد کارونه د سالمي ښووني او روزني او سپورتي لوبو څخه د ماشومانو د محرومیت، د دوی د جسمي او ذهني معلولیت، د قاچاق د قرباني کیدو، په نشه یي توکو د اعتیاد او د جنسي هوسونو د قرباني کېدو سبب جوړیږي.

**وړاندیزونه:** د کندهار ولایتي اداري ته وړاندیز دا دی چي د هغو ماشومانو لپاره چي د کورنۍ سرپرست يې له لاسه ورکړی دئ لازم تمويلنيز تأمينات رامنځته کړي. د ماشومانو د ساتنې لپاره معیاري رزنتونونه رامنځته کړي. د حمایتي مراکزو نشتون یو له هغو مواردو څخه دئ چي په افغانستان خاصتاً په کندهار کي شتون نه لري؛ نو دولت ته وړاندیز کیږي چي د ماشومانو او اړمنو، بې سرپرسته او بد سرپرست لرونکو کورنیو د ملاتړ او حمايي په منظور خيريه بنسټونو او حمایتي مراکزو ته د کار او فعالیت کولو لازمه زمینه مساعده کړي. دولت ته وړاندیز کیږي چي داسي قوانین جوړ او په عمل کي تطبيق کړي چي د ماشومانو څخه ملاتړ وکړای سي، د کارګرو ماشومانو خوندیتوب تضمین کړي او د جواب ورکوني او عدالت د تطبیق لپاره زمینه مساعده کړي. ددې ترڅنګ، د د تعلیم او تربیې وزارت او د کندهار پوهني ریاست ته وړاندیز دا دئ، د دي لپاره چي ماشومان او د هغوی کورنیو ته د ماشومانو د حقوقو او د شاقه کارو د زیانونو په ارتباط لازم پوهاوي ورکړل سوی وي، د کوچنیانو د حقوقو او د شاقه کار اضرارو ته باید په تعلیمي نصاب کي ځای ورکول سي او همدارنګه د مسجد د امامانو او شته رسنیو له لاري خلکو ته په دې اړه د پوهاوي دوامداره زمینه مساعده کړي. د کندهار ولايتي اداره باید په کندهار کي د غربت کمولو لپاره جدي ګامونه پورته کړي. د لويو اقتصادي تشبثاتو سربېره، د بې سرپرسته او پر نفوسه کورنیو پیژندل او هغوی ته مالي اسانتیاوي چمتو کول، د اوږد مهاله او غیر انتفاعي قرضونو له لاري د خصوصي سکتور پیاوړي کول، د ماشومانو لپاره د ځانګړي مالي صندوق رامنځته کول او د هغه د ګټې اختصاص کول د ماشومانو ښووني او روزني، روغتیا او تغذيې ته هغه حل لاري دي چي ولایتي اداره يې د اقتصادي ودې او غربت کمولو لپاره پلي کولای سي. په اخیر کي د ماشومانو د ملاتړ ادارو څخه غوښتنه کیږي چي د ماشومانو د ښه ژوند له پاره دایمي اغېزمن او ګټور فعالیتونه ترسره کړي نه لنډمهاله او غیرضروري.

## مأخذونه (References)

د افغانستان اساسي قانون (۱۳۸۲ ل). ۸۱۸ ګڼه رسمي جریده. ۴۹ ماده.

کار قانون (۱۳۸۷ ل). ۹۱۴ ګڼه رسمي جریده. ۱۲۰ ماده.

د طفل د حقوقو د ملاتړ قانون (۱۳۹۷ ل). ۱۳۳۴ ګڼه رسمي جریده، ۳ ماده، ۱۴ فقره.

افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمیسیون، (۱۳۹۷ ل. / حمل). عوامل و پیامدهای ناگوار کارشاقه اطفال در افغانستان. www.aihrc.org.af

د جزا کود (١٣٩٦ ل). ١٢٦٠ ګڼه رسمي جریده، ۹۵ماده.

لهسايي زاده، عبدالعلي او اشرفی، حجت الله، بررسی عوامل تعیین کننده کار کود کان، پژوهش فرهنګي، شپږم کال، ۱ او ۲ شمیره.

جمیز، آلسون (۱۳۸۳ ل). جامعه شناسی دوران کودکی، ژباړن: علیرضا کرمانی، تهران: نشر ثالث.

سابی، زاهدالله او حاتم، احمد خالد (۱۳۹۳ ل.). د کار قانون یوه پیژندنه، کابل، د افغانستان پرمختیا لپاره بشردوستانه ټولنه.

نصرالله ستانکزی او نور، ( ۱۳۹۷ل). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس، کابل، د افغانستان عدلي او قضایي چارو پروژه.

ثاقب، نقیب الله (۱۳۹۷ ل). د کار حقوق، جلال اباد، یار خپرندویه ټولنه.

هاشمي، سید اکرم (۱۳۹۵ ل). د کار حقوق، دریيم چاپ، جلال اباد، یار خپرندویه ټولنه.

د افغانستان د څيړني او ارزوني واحد، برخورد با پدیده کار اطفال در افغانستان، (۲۰۰۹/جولای).

# The Impact of Hard Labor Activities on Children in Kandahar

Samiullah Ezam
Lecturer of Law and Political Science Faculty
samiullah.ezam@gmail.com
0744265874

## Abstract

Children make the largest and most important part of human society. This social stratum makes the main strength of human society in the future after the stage of childhood; But at the same time, this stratum is victim in human society that needs a regular support system. According to Afghanistan's national laws and international documents, imposing hard labor activities on children and employing them in physically heavy, health-damaging and underground work is not allowed; But unfortunately, in Afghanistan and especially in Kandahar, poverty, unemployment, past wars, non-implementation of labor laws, existence of child labor culture and weak economy have forced many families to withdraw their children from schools and make them work hard for the survival of their families. These hard and heavy jobs leave many bad and irreparable physical, psychological and social effects on children. Children are the main force of the human society in the future whom are affected negatively and irreparably by laboring. All this indicates the importance of the mentioned topic and it creates the need to conduct research on this topic. The purpose of this research was to find out the factors of child labor in Kandahar and to clarify the effects of them on children. Accordingly, this research has been conducted on the effects of child labor in Kandahar, the necessary information has been collected and the questionnairs have been answered by community members. This research has been done partly in the library and partly in the field. The effects of hard labor activities on children have been investigated by distributing 150 questionnaires to the citizens of Kandahar.

**Keywords:** poverty, child, unemployment, work culture, hard labor activity

# په کندهار ولایت کې د آنلاین زده کړېز بهير د عدم مؤثريت عوامل

عبدالله محمدي
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د حقوقو څانګې استاد
Abdullahmohammadi784@gmail.com
0779201278

**لنډيز**

آنلاين زده کړيز بهير د زده کړو يو نوی روش دئ چې استاد او محصلان يو د بل څـخه په لیري فاصله کې سره په اړیکه کې وي او خپل درسي بهير پرمخ بیايي. د زده کړو دغه نوی سیستم په افغانستان کې درې کاله قدامت لري خو کله چې په نړۍ کې د کرونا وبا خپره سوه افغانستان يې هم د ستونزو سره مخ کړ چې يو تر ټولو ستر چلينج د تحصیلي مراکزو تړل او په ځای يې بديل لاره موندل وو. هماغه وو چې په عمومي ډول د لوړو زده کړو د رسالت سره سم د هیواد په ټولو پوهنتونونو کې په انلاين ډول د زده کړو د پیل کېدو امر وسو او آنلاين زده کړې عملاً پیل سوې. په کندهار ولایت کې هم دولتي او خصوصي تحصیلي بنسټونو په آنلاين ډول محصلانو ته درسونه وړاندي کړل چې دې نوی چاري استادان او محصلان له يو شمېر ننګونو سره هم مخ کړل. په کندهار ولایت کې يوې ترسره سوي څېړني موندنو وښودله چې  په کندهار ولایت کې آنلاین زده کړې مؤثري نه دي تمامې سوي، خو د نه مؤثريت عوامل يې څرګند نه سول. ددغه عواملو د معلوملو په موخه دغه څېړنه ترسره سوه چې په توسط يې د انلاين زده کړو د عدم مؤثريت عوامل تشخیص او د له مینځه وړلو لپاره يې لازم وړانديزونه وړاندي سوي دي چې په نتیجه کې  به يې کندهاری ټولنه هم د نوري نړۍ په شان د آنلاين زده کړو له مزاياوو څخه برخمنه سي. دغه څېړنه  د دريو مياشتو په جريان کې ترسره سوه، ۱۵۰ پوښتنليکونه استادانو او محصلینو ته وويشل سول، د ځینو استادانو او څېړنيزو مرکزونو د آمرينو سره مرکې وسوې، چې بالاخره دې نتيجې ته ورسيدو چې د انټرنيټ د بيعي لوړ قيمت، د انټرنيټ د کیفیت ټيټ سرعت، ددغه روش سره د محصلينو نه بلدتيا، په انلاين زده کړو د محصلينو او د دوی د کورنيو عدم اعتماد او ددې تر څنګ د محصلينو کمزوری اقتصاد او د يو معياري سیستم نشتون هغه عوامل وو چې په کندهار ولایت کې د آنلاين زده کړو د اغيزمنتيا په وړاندي خنډ واقع سوي دي

**کلیدي کلمې:** کندهار ولایت، آنلاین زده کړې، عدم مؤثریت، محصل، HELMS/LMS

## پېژندنه (Introduction)

کرونا په يو نړيوال بحران باندې بدله سوه، داسې بحران چې د ژوند ټول اړخونه يې تر اغيزې لاندې راغلل؛ د نورو بنسټونو ترڅنګ تحصيلي بنسټونه هم ددې شر څخه په آمان کې پاتې نه سول، د يونيسکو د احصائي له مخې د نړۍ په پينځو لويو وچو کې کرونا وبا حداقل د ۴۹ هيوادونو تعليمي او تحصيلي بنسټونه تر خپل تاثير لاندې راوستي چې ددې له جملې څخه د ۳۰ هيوادونو تحصيلي بنسټونه په بشپړ ډول تړل سوي چې د ۳۹۱ ميليونو څخه زيات زده کړيالان چې ۵۰۰ زره يې د افغانستان اوسيدونکي دي په کورونو کښېنولي دي (فرزان،۱۳۹۹). دا چې د هيواد د ۱۳۸۲ اساسي قانون د ۴۳ مې مادې په اساس تر ليسانس کچې پورې په وړيا ډول د زده کړو تامين د دولت دنده ګڼل سوې ده، نو همدې مکلفيت ته په کتو د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت هم په کرونايي عصر کې د نړۍ د ځينو نورو هيوادونو په څېر د زده کړو د پرمخ بيولو په منظور د حضوري زده کړو په بديل طرحه باندې کار وکړ او په آنلاين ډول يې د زده کړو سيستم (HELMS) رامينځ ته کړ چې په دې سره د زده کړو له درېدو څخه ساتنه وسوه او د موجوده ستونزو په وړاندې اغېزمن واقع سو.

آنلاين زده کړېز بهير له ليرې څخه د زده کړو يو روش او لاره ده؛ چې  زده کوونکي پکښې د زده کړو يوه برخه يا ټولې برخې په غير حضوري ډول زده کوي، بريښنايي زده کړې ترمخه د کمپيوټر په واسطه د CD څخه په استفاده مخ ته وړل کېدې اما نن ورځ دا بهير د انټرنيټ پر مټ مخ ته وړل کيږي چې آنلاين مفهوم لري. LMS د انلاين زده کړو يو نوی روش دی چې د کرونا ويروس له خپريدو سره سم په افغانستان کې په ځانګړې ډول په کندهار کې تجربه سو، خو کله چې د آنلاين درسونو د بيا تکرار په موخه د لوړو زده کړو وزارت د هدايت په اساس هماغه درسونه په تشديدي ډول وړاندې کيدل او محصلين تر پوښتنو لاندې نيول کېدل ثابته کړه چې محصلانو د آنلاين زده کړو څخه مؤثره استفاده نه وه کړې. همدارنګه د يوې څېړنې (د کرونا په جريان کې د آنلاين زده کړو څخه د کندهار پوهنتون د محصلانو رضايت)  د ۲۰۲۰ /۱/۱ چې په کندهار ولايت کې ترسره سوې ده نتايجو يې دا ثابته کړې ده چې په کندهار کې آنلاين زده کړې مؤثرې نه دي  تمامي سوې او مطلق اکثريت محصلين د زده کړو له دې روش څخه رضايت نه لري، ددې عدم مؤثريت د عواملو د معلومولو په منظور باندې دغه څېړنه په کندهار ولايت کې ترسره سوې ده او د هغو د له مينځه وړلو لپاره په آخير کې لازم وړانديزونه وړاندې سوي دي چې ددغه عواملو په لمينځه وړلو او د څېړنې د وړانديزونو په نظر کې نيولو سره به په کندهار ولايت کې استادان او محصلين هم د نورې نړۍ په شان د آنلاين زده کړو له مزاياوو څخه په ښه توګه برخورداره سي.

### د څېړنې ستونزه (Research Problem)

کله چې د کرونا وبا په وجه درسي بهير په حضوري ډول متوقف سو، د  لوړو زده کړو وزارت د تجويز سره سم په ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې په آنلاين ډول درسونه پيل سول. ځينو پوهنتونونو د يو مناسب سيستم لکه  HELIMS/lms  له طريقه او ځينو نورو بيا د Google classroom، واټساف او ځينو نورو طريقو له لارې  آنلاين زده کړې پيل کړې. څېړنو دا جوته کړې چې آنلاين زده کړې اغېزمنې نه دي تمامې سوې او محصلان رضايت نه ترې لري؛ خو د نه اغېزمنتيا عوامل يې نه دي په ډاګه سوي، نن ورځ نړۍ کوښښ کوي تر څو ټول درسي بهير د زده کړو آنلاين ډول ته تبديل کړي نو ددې لپاره چې کندهارۍ ټولنه هم د نړۍ سره د زده کړو د نويو سيسټمونو په ډګر کې يو ځای پاته سې نو لازمه ده چې هغه عوامل پيدا کړل سي چې د انلاين زده کړو په وړاندې خنډ واقع سوي دي، ترڅو دا ټولنه هم د آنلاين زده کړو د مزاياوو څخه برخمنه سي، او که دا عوامل پيدا نسي نو هيڅکله به د آنلاين زده کړې مؤثرې و نه اوسي.

### د څېړني اهمیت (Significance of the study)

د دې څېړني اهمیت په دې کې دئ ترڅو په کندهار ولایت کې هغه عوامل معلوم سي چې د آنلاین زده کړو د اغیزمنتیا په وړاندې خنډ سوي دي. کله چې دا عوامل پیداکړل سي وروسته به د هغو د له مینځه وړلو لپاره ددغه څېړني له لاري حل لاري وړاندي سي او کندهارۍ ټولنه به هم د معاصري نړۍ په څېر د آنلاین زده کړو څخه ښه ګټه واخلي. خو که چیري دا عوامل تشخیص نه سي د هغه لپاره حللاره نسي موندل کیدای او که دا ستونزه حل نسي هیڅکله به هم په دغه ټولنه کي د تېر په څیر آنلاین زده کړي اغېزمنتیا ونه لري.

### څېړني موخه (Research Objective)

په کندهار ولایت کې د آنلاین زده کړېز بهیر د عدم مؤثریت عوامل معلومول.

### د څېړني پوښتنه (Research Question)

په کندهار کې کوم عوامل د دي باعث سوي دي، چي آنلاین زده کړي مؤثري نه دي تمامي سوي؟

### د څېړني فرضیه (Research Hypothesis)

داسي څرګندیږي، چي په کندهار کي ځیني عوامل شتون لري، چي پر اساس یي آنلاین زده کړي مؤثري نه دي تمامي سوي.

## د څېړني اړوند پخوانیو آثارو ته کتنه (Literature Review)

په کندهار ولایت کي د ۲۰۲۰ م کال په فبروري میاشت کي د آنلاین زده کړو په اړه یوه څېړنه خپره سوې ده، د هغې څیړني پایله ښیي چي په کندهار ولایت کي د کندهار پوهنتون محصلین د آنلاین زده کړو څخه په اکثریت تعداد رضایت نه لري (همت او نور ۲۰۲۰). دا څېړنه خصوصي پوهنتونونه په بر کي نه نیسي او د آنلاین زده کړو د عدم مؤثریت عوامل نه دي پکښې روښانه سوي.

یوه بله څېړنه هم د (کرونا وبا اغیزي د افغان محصلینو په تحصیل او د انلاین زده کړو څخه د محصلینو د رضایت کچه) تر عنوان لاندي د تخار پوهنتون د یو استاد امین الدین هاشمي له لوري په ۲۰۲۱ کال کي په ۱۲۳۱ نارینه او ښځینه محصلینو باندي ترسره سوې ده؛ د هغه څیړني موندني هم دا جوته کړې چي کرونا تحصیلي بهیر ډیر اغېزمن کړی او محصلین د آنلاین زده کړو څخه رضایت نه لري.

سربېره پردې د Asian-Pacific Quality Network (APQN) بنسټ له لوري د اغلي جیاکسین زیانګ په مشرۍ یوه ډله استادانو د کرونا اغېز پر لوړو زدکړو تر سرلیک لاندي یوه سروې ترسره کړې ده چي د ۲۰۲۰ کال مارچ میاشت کي شروع سوې او د هماغه کال په می میاشت کي پای ته رسېدلې وه ښودلي ده چي ٦٨ سلنه ګډون کوونکي له انلاین زدکړو څخه راضي نه ول؛ په داسي حال کي چي د انلاین زدکړو د کیفیت په تړاو بلي سروې چي د ۲۰۲۰ کال په جولای میاشت کي سوې ده وښوول چي ۳۴ سلنه ګډون والو انلاین زدکړي غیر مؤثره ګڼلي وې.

د APQN له خوا د آنلاین زده کړو د کيفيت لوړاوي په موخه معيارونه په لاندې پنځو برخو وېشلي سوي دي:

**د کیفیت معیارونو آرونه (پرینسیپونه)**

**۱- معلوماتي:** پر معلوماتي تکنالوژۍ تکيه، عصري تدريسي مېتود عملي کول، د تدريسي شېوې پر نوي کېدو ټينګار کول، درسي مواد په درست شکل اماده کول، د محصلانو له اړتياوو سره سم تدريسي مېتود خپلول.

**۲- محصلانو ته ونډه ورکول:** د دې سروې د معيارونو له مخې زياته توجه د محصلانو چلن ته کېږي، او تمرکز يې تر زياته بريده پر زدکړه دئ. د دې له پاره چي زدکړه په ښه ډول صورت ونيسي بايد محصلانو، درسي موادو، درسي فعاليتونو، زدکړيز مېتودونو، ارزوني او د د زدکړي اغېز ته توجه وسي؛ مګر د دې له پاره چي تدريس په ښه ډول صورت ونيسي نو بايد ښوونکو، تدريسي اهدافو، تدريسي پروسو، تدريسي مېتودونو او تدريسي اغېز ته توجه وسي.

**۳- پرمختيايي:** د محصلانو او ښوونکو پرمختګ ته توجه کول: د واقعيتونو او راتلونکي پر بنسټ د پرمختيايي لوری درک کول؛ د ښوونکو او محصلانو وړتياوو ته توجه کول تر څو پايدار پرمختګ وکړي؛ ښوونکي بايد کوښښ وکړي چي خپلي تدريسي مفکورې نوي کړي او له غوره مېتودونو څخه استفاده وکړي.

**۴- د اعتبار:** د انلاين زدکړو پروسه بايد په دوامداره ډول تر ارزيابۍ لاندي ونيول سي. موخي بايد اعتباري وي؛ درسي محتوا بايد ساده او مناسبه وي؛ بررسي بايد مستحکمه اوسي او د ارزيابۍ مېتودونه اعتبار ولري؛ د ارزيابۍ پايلي بايد کره او صحيح وي؛ د مختلفو ارزيابيو مالومات بايد په اغېزناک ډول راټول سي.

**۵- د ثبوتونو:** د ارزيابۍ پايلي بايد حقايق په ګوته کړي او دا حقايق بايد پر شواهدو ولاړ وي.

د پورتنيو څېړنو موندنو وښوده چي آنلاين زده کړي مؤثري نه دي تمامي سوي. که څه هم د آنلاين زده کړو د ښه والي له پاره ځيني معيارونه وړاندي سوي دي اما د نه اغيزمنتيا عوامل يي نه دي روښانه کړي؛ ددغه څېړني په توسط د کندهار په ولايت کي د آنلاين زده کړو د نه اغيزمنتيا عوامل معلوم سوي دي.

## مواد او میتودونه (Materials & Methods)

دا يوه مختلطه (کمي او کيفي) څېړنه ده، چي په کندهار ښار کي د ۱۴۰۰ کال د سرطان له اولي د سنبلې تر اخيري نېټې پوري چي درې مياشتي کيږي ترسره سوې ده. د څېړني نفوس د دولتي او خصوصي پوهنتونونو محصلين او استادان دي. د دې څېړني د نموني راټولووني تګلاره غيري احتمالي ده، چي پکښې د خاص هدف او تصادفي نمونې راټولوني پر اساس ۱۵۰ تنه محصلان ټاکل سوي دي. په دې څېړنه کي د ډاټا راټولوني له پاره د پوښتنليک څخه استفاده سوې ده چي د (۱۵۰) تنو په تعداد محصلانو ته پوښتنليکونه وېشل سوي دي. دغه څېړنه تر يوه حده کتابتوني او نوره مکملاً په ميداني شکل ترسره سوې ده. راټوله سوې ډاټا د Ms Excel په واسطه تحليل او تجزيه سوې ده. دا څېړنه په پوره اخلاص، صداقت، د اسرارو د محرميت په احترام او خونديتوب ترسره سوې ده، د نورو سرچينو څخه استفاده سوي معلومات د ليکوال، څېړونکي يا سرچينې د نوم ذکر کولو پرته نه دي کارول سوي او د دوی معنوي ملکيت په بشپړ ډول په نظر کي نيول سوی دئ.

## نتایج (Results)

د پوښتنلیک لمړی برخه د جواب ویونکو اړوند معلوماتو ته ځانګړې سوې وه، چې د هغه له مخي د پوښتنلیک د جوابوونکو د ځانګړتیاوو په اړه په لاندي جدول کي معلومات لیکل سوي دي.

لومړی جدول: د جواب ویونکو ټولنیز معلومات (د نموني اندازه=۱۵۰)

Table 1: Social Demographic characteristics of the respondents (n=150)

| د متحول نوم (Variable) | تعداد (Frequency) | فیصدي (Percentage %) |
|---|---|---|
| **جنسیت** | | |
| نارینه | ۱۲۹ | ۸۷ |
| ښځینه | ۱۹ | ۱۳ |
| **پوهنتون** | | |
| ملالی د لوړو زده کړو مؤسسه | ۵۷ | ۳۸ |
| کندهار پوهنتون | ۲۲ | ۱۴ |
| میرویس نیکه د لوړو زده کړو مؤسسه | ۲۲ | ۱۴ |
| بېنوا د لوړو زده کړو مؤسسه | ۲۵ | ۱۷ |
| سبا د لوړو زده کړو مؤسسه | ۲۴ | ١٦ |

د پوښتنلیک دوهمي برخي اته (هو او نه، یو جوابه، څو جوابه او خلاصي پوښتني) لرلې چي د Ms Excel پروګرام په مرسته په لاندي ډول تحلیل او په جدولو او چارټو کي ترتیب او تنظیم سوي دي.

دوهم جدول: د هو او نه جواب تحلیل

| پوښتنه | جواب | تعداد | فیصدي |
|---|---|---|---|
| د زده کړو د آنلاین بهیر سره بلدتیا | هو | ۱۳۸ | ۹۳ |
| | نه | ۱۰ | ۷ |

په پورتنی پوښتنه کي د (هو) مورد د فیصدی زیاتوالی د دي ښکارندوی دئ چي په کندهار ولایت کي استادان او محصلین آنلاین زده کړي پیژني او آنلاین زده کړیز بهیر دوی تجربه کړی دی، اما دا چي څه ډول یي تجربه کړي دا سوال به راتلونکې پوښتنه جواب کړي.

درېيم جدول: د آنلاين زده کړو روش

| پوښتنه | جواب | تعداد | فیصدي |
|---|---|---|---|
| د آنلاين زده کړو روش | مخکې ثبت سوي | ۱۰۹ | ۷۷ |
| | په ژوندۍ بڼه | ۳۳ | ۲۳ |

په پورتني جوابو کي د (مخکي ثبت سوي) مورد د فیصدۍ زیاتوالی د دې ښکارندوی دئ چي د کندهار ولایت  اکثریت استادانو او محصلینو د آنلاين زده کړو پر مهال د ترمخه ثبت سوې بڼه باندي آنلاين زده کړې تجربه کړې دي. اته کسانو دغه پوښتني هیڅ جواب نه دی ویلی.


څلورم جدول: د څو جوابه پوښتنو تحلیلي بڼه

| پوښتنه | جواب | تعداد | فیصدي |
|---|---|---|---|
| د آنلاين زده کړو له بهیر څخه رضایت | ډېر زیات | ۱۱ | ٦ |
| | زیات | ۲۳ | ۱۳ |
| | لږ | ۴۷ | ۲٦ |
| | ډېر لږ | ۳٦ | ۲۰ |
| | هیڅ | ٦۴ | ۳۵ |
| د آنلاين زده کړو لاري | HELMS | ۴۴ | ۱۵ |
| | WhatsApp | ٦۰ | ۲۰ |
| | Google-Classroom | ۹۷ | ۳۳ |
| | Youtube | ۴۵ | ۱۵ |
| | Google meet | ۲۴ | ۸ |
| | Zoom | ۲٦ | ۹ |
| د آنلاين زده کړو پر مهال د اړوند تحصيلي بنسټ له خوا امکانات | کمپیوټر | ۳۷ | ۱۵ |
| | تلیفون | ۵۴ | ۲۱ |
| | وړیا انټرنېټ | ۳۳ | ۱۳ |
| | عامه پوهاوی | ۲۸ | ۱۱ |
| | هیڅ | ۱۰۳ | ۴۰ |

په پورتني جدول کي د لمړۍ پوښتني له جوابو څخه څرګندېږي چي اکثریت جواب ویونکي د آنلاين زده کړو څخه رضایت نه لري. هغو جواب ویونکو چي رضایت ښودلی ویلي چي د زده کړو د مطلق توقف څخه همدا نسبي تحرک ولو که یو څه بې اغیزې هم دی غنیمت ګڼي. د دې ترڅنګ، تر ټولو ډېر انتخاب د ګوګل کلاس روم دئ. د يادوني وړ ده چي ځینو کسانو په یو وخت په

پورتنۍ پوښتنه کې څو موارد هم انتخاب کړي وو؛ ګوګل کلاس روم خصوصاً د اقتصاد، انجينرۍ او کمپيوټر ساينس محصلينو ډېر ټاکلي وو اما Helmsاو د واټساف ګروپونه بيا د طب، حقوقو او سياسي علومو پوهنځيو محصلانو ډېر ټاکلي وو. د ۱۵۰ کسانو له جملې څخه يي (۶۹) کسانو ويلي دئ چې د آنلاين زده کړو د پيل سره سم دوی ته هيڅ کوم امکانات په لاس کې نه دي ورکول سوي چې دا هم دآنلاين زده کړو د مؤثريت پر وړاندي يو لوی خنډ ګڼل کيږي، خو ددي برخلاف يو تعداد کسان د اړوند تحصيلي نهادو له لوري د امکاناتو د ورکولو خرګندونه کوي چې د دوی له مينځه (۳۷) کسان د کمپيوټر، (۵۴) کسان د ټليفون همدارنګه (۳۳) کسان د وړيا انټرنيټ او (۲۸) کسان هم د عامه پوهاوي د ورکولو تصديق کوي.

اول چارټ




په پورتني چارټ کې ښودل کيږي چې ډير(۱۳۰) کسانو چې ۲٦٪ کيږي دوهم جواب (د انټرنيټ لوړ قيمت) دئ انتخاب کړی. په دويمه کټګوري کې اول جواب ډير انتخاب سوی چې دغه ډله کسان د انټرنيټ له ساحې څخه د محصلينو ليري والی ښيي چې د دوی په ساحو کې يې کار نه کاوه. همداسي (٦۵) کسان چې ۱۳٪ کيږي د آنلاين زده کړو د اغيزمنتيا په مخ کې خنډ له ټکنالوژۍ سره د محصلينو نه بلدتيا را په ګوته کوي، چې ځيني محصلين د ويډيو په خلاصولو او آپلوډ کولو نه پوهيږي او يا هم بالکل د Helms سيستم ته نه سي داخليدلای. ددې تر څنګ (۴۱) کسان چې ۸٪ کيږي ويلي چې پر آنلاين زده کړو باندي د محصلينو او د هغوی د کورنيو د اعتماد نه درلودل د زده کړو ددغه ډول د عدم مؤثريت يو بل لوی عامل ګڼي.

سربېره پر دي، د جواب ويونکو له جملې څخه (۴۲) کسانو ويلي چې د غير اکاډميک محيط تر منفي تاثير لاندي د محصلينو راتلل او په پوهنتونو کې د معلوماتي ټکنالوژي (IT) په برخه کې د مسلکي کسانو نشتون د آنلاين زده کړو پر وړاندي خنډونه شمېرل کيږي. (۴۲) کسان د آنلاين زده کړو په ارتباط د يو معياري سيستم نشتون هم يو عامل بولي. د يادولو وړ ده چې محصلينو په خپلو وړانديزونو کې هم ددي يادونه کړې چې بايد داسي يو آفليکشن رامينځته سي چې حجم يې کم وي او يو ځانګړی سيستم ولري.


پنځم جدول: څو جوابه پوښتنه ده چي د آنلاین زده کړو پر مهال پیښبې سوي ستونزي ښیي

| پوښتنه | جواب | تعداد | فیصدي |
|---|---|---|---|
| د آنلاین زده کړو پر مهال پیښبې سوي ستونزي | جسمي او روحي ناروغي | ۲۶ | ۸ |
| | د برق نشتون | ۸۸ | ۲۹ |
| | د اقتصاد ضعف | ۸۴ | ۲۷ |
| | د انټرنیټ ټیټ سرعت | ۱۰۹ | ۳٦ |

پورتنی جدول د څو جوابه پوښتني د جوابونو ښودنه کوي چي (۱۵۰) کسانو جواب کړې ده. داچي پوښتنه څو جوابه وه نو یو شمېر کسانو له یوه څخه زیات جزونه انتخاب کړي دي. تر ټولو ډېر جواب سوی جز د (انټرنیټ ټیټ سرعت) دئ چي له دې څخه معلومېږي هغه لویه ستونزه د آنلاین زده کړو پرمهال محصلین او استادان ورسره مخ ول د انټرنیټ ټیټ سرعت وو. ددې ترڅنګ په دویم ردیف کي په کندهار ولایت کي د برق نشتون هغه ستونزه ده چي (۸۸) کسانو انتخاب کړې ده. همدارنګه د خلکو لوېدلی اقتصادي حالت هم یو له ځورونکو عواملو او ستونزو څخه ګڼل کیږي.

علاوه پر دې، دغه پوښتنه د نیمه خلاصې په ډول وه چي جواب ویونکي خپل نظر ته پرېښودل سوي او هغوی د انلاین زده کړو پر مهال خپلې ستونزي داسي بیان کړي دي. **د درسي ویډیوګانو د وخت او حجم زیاتوالی** : د دې څخه د دوی هدف دا دی چي محصلینو ځکه آنلاین درس ته زړه نه ښه کاوه چي یو خو به یوه ویډیو تر ۴۵ دقیقو پوري وه، په داسي حال کي چي همدا درس به د ۲۰ دقیقو درس وو او له بلي خوا به د همدې ویډیو حجم تر ۸۰۰ MB پوري وو چي د دې خلاصول او ډاونلوډول د دومره ګران بیه او ټیټ سرعته انټرنیټ په واسطه ډېر درووند او سخت کوونکی کار وو. **د استادانو متغیروالی** : ځینو جواب ویونکو د آنلاین زده کړو پر مهال یوه بله ستونزه د استادانو تغیر بللې؛ دوی وایي په حضوري ډول به یو استاد درس راکاوه او درسي ویډیو به د بل استاد وه، یا که به یو مضمون دوو استادانو په سهار او ماپښین کي په بېل بېل ډول تدریساوه نو زموږ سره به ویډیو د بل استاد شریکېدله مثلاً، د سهار د استاد ویډیو به د ماپښین د محصلینو سره شریکېدله چي هلته به هغه استاد هیڅ تدریس نه درلود.

دوهم چارټ



اتمه یا وررووستنۍ پوښتنه د څلورو انتخابي او یوه تشریحي جز لرونکي وه، چي د پورتینو انتخابونو ترڅنګ جواب ویونکو ته ددې فرصت ورکول سوی وو ترڅو هغوی په خپله خوښه د آنلاین زده کړو د اغېزمنتیا لپاره خپل نظرونه ولیکي. دوی لاندي وړاندیزونه راسره شریک کړي دي. په ژوندۍ بڼه د یو منظم سیستم له لاري د آنلاین زده کړو د مخته وړلو لپاره د یو ځانګړي میکانیزم رامینځته کول. د آنلاین زده کړو لپاره د پوهنتونو لخوا مناسب او د وخت د غوښتني سره سم طرزالعملونه جوړول. د پوهنتونونو له لوري د حضوري درسونو په جریان کي د آنلاین زده کړو د اهمیت په منظور د عامه پوهاوي پروګرامونه دایرول. هغه کسان چي آنلاین زده کړي یي تعقیب کړي وي د هغوی لپاره مکافات په نظر کي نیول او تشویقول. د داسي یو اپلیکېشن جوړول چي کم حجم ولري او لږ انټرنیټ مصرف کړي. پر دې ټولو سربېره هغوی لیکلي چي، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ د وزارت له لوري دي اول داسي یو اپلیکېشن جوړ سي چي خاص د آنلاین زده کړو لپاره وي او دوهم دي مخابراتي شرکتونه د داسي انټرنیټي بنډلونو په ورکولو مکلف کړي چي فقط هماغه آفلیکشن ته کار ورکړي او ددې بنډل قیمت باید ډېر کښته وي.

## مباحثه/ مناقشه (Discussion)

داچي آنلاین زده کړي په ډېرو هیوادونو کي تجربه کېږي اما په افغانستان په خاص ډول په کندهار ولایت کي د کویډ ۱۹ له کبله د رامنځته سوو بندیزونو په وخت کي په دولتي او خصوصي تحصیلي بنسټونو کي تجربه سوې چي زیات شمېر مشکلات یې لرل. د تېرو څېړنو څخه معلومه سوې وه چي انلاین زده کړي مؤثري نه دي ثابتي سوي نو ځکه دغه څېړنه ترسره سول ترڅو د نه اغېزمنتیا عوامل یې په ګوته سي او په راتلونکي کي تحصیلي بنسټونه دغه مواردو ته په توجه سره د انلاین زده کړو په کیفیت کي ښه والی راولي.

د دغه څېړني له لاري ومونډل سول چي په کندهار ولایت کي د آنلاین زده کړو د عدم مؤثریت عوامل د انټرنیټ د بیعي لوړوالی وو چي یوه جي بي انټرنیټ په ۱۵۰ افغانۍ فعالیږي. د انټرنیټ د کیفیت ټیټ سرعت چي یوه ویډیو په یو ساعت نه سي خلاصولای، د زده کړو له دغه روش سره د محصلینو نه بلدتیا چي ځیني محصلین اصلاً سیستم ته نه سي داخلیدلای او په دغه ولایت کي د تحصیلي نهادونو د معلوماتي ټکنالوژۍ د مراکزو له لوري د یو منظم سیستم نشتون چي د هغه په توسط محصلین تر قوي نظارت لاندي وساتل سي او د درسونو څخه غافل نه سي، همدارنګه ددې ترڅنګ د محصلینو اقتصادي ضعف هغه ستر خنډونه وو چي په دغه ولایت کي یي آنلاین زده کړي د خنډ سره مخ کړي دي.

د دغه څېړني د ترسره کولو پرمهال یوه ستره ستونزه د پوښتنلیک د جوابولو پر وړاندي د خلکو نه علاقه مندي وه. ددې ترڅنګ، د پوهنتونو د حیثیت ساتني په خاطر ځیني جواب ویونکو دقیق او ریښتني معلومات نه شریکول. د سیاسي تحولاتو په اساس د دولتي پوهنتونو تړلي پاته کېدل ددغه څېړني د ځنډېدو لامل سو. په دغه څېړنه کي له نېکه مرغه د آنلاین زده کړو د عدم مؤثریت عوامل ومونډل سول چي ترمخه په نورو څېړنو کي دغه عوامل نه مونډل سوي وو او نه یي د له مینځه وړلو لپاره لازم وړاندیزونه سوي وه.

په دغه څېړنه کي ځیني جواب ویونکو هغه څه راپه ګوته کړل چي د پوښتنلیک د جوړولو پرمهال په پوښتنو کي نه وو درج سوي لکه، د استادانو بدلون چي تدریس یو استاد کوي او ویډیو د بل استاد وي. همدارنګه، د درسي ویډیوګانو د حجم او وخت زیاتوالی هغه څه ول چي منطقاً د آنلاین زده کړو د عدم مؤثریت عوامل ګڼل کیدای سي.

## پایله (Conclusion)

دغه څېړنه چي (په کندهار ولایت کي کوم عوامل ددي باعث سوي دي چي آنلاین زده کړي اغیزه نه لري؟)پوښتنه باندي راپیل سوې وه، داسي انګېرل کېدله چي ځیني عوامل موجود دي چي آنلاین زده کړي یي د مؤثریت څخه غورځولي خو دغه عوامل معلوم نه وو، ددغه عواملو د معلومولو لپاره دا څېړنه په ډېرو ستونزمنو حالاتو؛ داسي حالاتو چي د افغانستان د تاریخ نوی باب جوړه وي ترسره سوه، د څېړني په پایله کي دا وموندل سوه چي په کندهار ولایت کي د انټرنیټ د بیعو لوړوالی، د انټرنیټ ټیټ سرعت، د محصلینو او د دوی د کورنیو د زده کړو په دغه روش باندي اعتماد نه درلودل، د محصلینو اقتصادي ضعف، په کافي اندازه په پوهنتونو کي د یو معیاري سیستم نشتون او د ټکنالوژۍ سره د محصلینو نه بلدتیا هغه ستر عوامل وو چي په یاد ولایت کي یي آنلاین زده کړي غیر مؤثري تمامي کړې.

آنلاین زده کړي د نن ورځي یو ضرورت دئ، نړۍ ډېره په شتاب سره د آنلاین کېدو په طرف روانه ده او دا جوته سوې ده چي په راتلونکو څو کالونو کي به د زده کړو سنتي ډول خپل ځای آنلاین زده کړو ته پرېږدي، نو ددې لپاره چي موږ هم د نړۍ سره سیال پاته سو نو اړینه دي چي د آنلاین زده کړو د عدم مؤثریت موندل سوي عوامل له مینځه یوسو. د انټرنیټ قیمتونه د لوړو زده کړو وزارت په غوښتنه د آنلاین زده کړو د ګډونوالو لپاره ټیټ سي، د انټرنیټ د سرعت کیفیت لوړ سي، په آنلاین زده کړو د محصلینو او د هغوی د کورنیو اعتماد ترلاسه سي. په آخیر کي یادونه اړینه بولم چي ددغه څېړني پرمهال د څېړني حقوقي او اخلاقي اړخونو ته پوره توجه سوې ده.

**وړاندیزونه:** د آنلاین زده کړو مزایاوو ته په کتو باید په کندهار ولایت کي دغه څېړنه وروستۍ څېړنه ونه اوسي بلکي ددغه څېړني په واسطه د موندل سوو عواملو د له مینځه وړلو او د آنلاین زده کړو په معیاري کېدو او اغیزمنتیا باندي باید نوري څېړني ترسره سي. پوهنتونونه دي د آنلاین زده کړو د ویډیوګانو کیفیت ته پوره توجه وکړي، د ویډیو وخت دي معیار نه بلکي اپډېټ والی او په لنډو ټکو کي د موضوع جامعوالی دي ښه کیفیت وګڼل سي. محصلانو ته دي د آنلاین زده کړو د ارزښت او پروسې په اړه بشپړ پوهاوی ورکول سي. د حضوري درس او آنلاین درس استاد باید یو وي، د لوړو زده کړو وزارت دي د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت سره داسي هوکړه لیکونه رامینځته کړي چي د استادانو او محصلینو لپاره د انټرنیټ د قیمت په مورد کي اغېزمن وي. پوهنتونونه دې د آنلاین زده کړو یو معیاري سیستم رامنځ ته کړي. د دغه څېړني موندني چي د پوهنتونو سره شریکي سي د نورو آنلاین زده کړو وړاندي کولو وروسته دي یوځل بله څېړنه یا سروې وسي ترڅو معلومه سي چي د تحصیلي بنسټونو له خوا اوسني موجوده خنډونه چي په دغه څېړنه کي موندل سي حل سوي که نه؟ آنلاین زده کړي نړۍ والو معیارونو ته رسېدلي دي که یا؟

## ماخذونه (References)

Abdul nafi Himat, Mohammad hanif takal, Mohammad Farooq hakimi, American International journal of social science Research (1feb,2020). Afghan Students' satisfaction from online learning during covid-19 at Kandahar university ( 8Nov,2021) www.Cribfb.com/journal/index/php/aijssr/article/viwe/931

Aminuddin Hashami, cogent Arts &humanities (08 JUL 2021). Effícts of COVID_19 On The academic of afghan students' and their level of satisfaction with online teaching (07 NOV 2021). www.tandfonline.com/loi/oahh20

Jianixin zhang, APQN (JUN23, 2020). APQN Survey Resarch on the COVID-19 Impact in Higher Education Institution (07 NOV 2021). www.apqn.org/news-updates/relseas-of-apqn-standard-for-online-teaching-quality-assurance

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت اساسي قانون(۱۳۸۲ل).د رسمي جریدي ګڼه ۸۱۸

محمد حنیف فرزان، ۸صبح(۲۵ثور۱۳۹۹).کرونا؛ آغاز یک انقلاب دیجیتالی در نظام تحصیلی افغانستان،۱٦عقرب ۱۴۰۰ش.
www.8am.af/coronavirus-the-beginning_-of-a-digital-revolution-in- the_afghan_education_system

سید محسن هابیل، ۸صبح،(۲۳ حمل ۱۳۹۹).مزایا و نواقص تحصیلات آنلاین در افغانستان.(۸ عقرب ۱۴۰۰)
www.8am.af/advantages-and-disadvantages-of-studing-online-in-afghanistan

درسمان، (۲۵ ثور ۱۳۹۹) موزش آنلاین چیست؟، بزرگترین تحول در آموزش (۸ عقرب ۱۴۰۰).
www.darsman.com/blog/what-is-online-education

# Factors of Ineffectiveness of Online Learning in Kandahar Province

Abdullah Mohammadi
Lecturer of Faculty of Law and Political Science
Abdullahmohammadi784@gmail.com
0779201278

## Abstract

The online learning process is a new way of learning that the teacher and students are in contact with each other at a distance and carry out their learning process. This new system of education has been established in Afghanistan for three years, but when the corona epidemic spread in the world, Afghanistan also faced problems. It was the same that in general, according to the mission of higher education, online education was ordered to be started in all universities of the country and online learning has actually started. In Kandahar province, government and private educational institutions have offered online lessons to students. A research conducted in Kandahar province showed that the online learning in Kandahar province was not effective, but the reasons for the ineffectiveness were not revealed. In order to determine these factors, this study was conducted, through which the factors of ineffectiveness of online education were diagnosed and the necessary suggestions are made to eliminate them. This research was conducted during three months, 150 questionnaires were distributed to lecturers and students. besidnes, interviews were conducted with some lecturers and managers of research centers. The high rate of internet, unfamiliarity of students with this method, lack of trust of students and their families on online education, weak economy of students and the lack of a standard system were recognized the eneffective factors of online education in Kandahar province.

**Keywords:** learning online, student, HELMS/LMS

# په کندهار ښار کي د داخلي بې ځایه سویو د وظیفوي مشغولتیا څرنګوالی

نصرت الله حبیب زی
د سیاسي علومو او نړۍ والو اړیکو څانګي استاد
nasrathabibzai012@gmail.com
۰۷۸۸۸۴۸۱۶۰

**لنډیز**

د تیرو (۴۲) کلونو ناامنیو، جګړو، طبیعي پیښو او بې کاریو په میلیونو افغانان داخلي مهاجرت ته اړ کړي دي. کندهار هم د افغانستان له هغو ولایتونو څخه دی چي د (۳۵۰۰۰) راجستړ سوو داخلي بې ځایه سوو کوربه دئ، د دې له پاره چي معلومه سي راغلي داخلي بې ځایه سوي په کندهار ولایت کي په کومو دندو مصروف دي روښانتیا ته اړتیا لري. دغه څېړنه په دې موخه ترسره سوې ده ترڅو په کندهار ولایت کي د داخلي بې ځایه سوو د وظیفوي مشغولتیا څرنګوالی معلوم کړي او هم د بې ځایه کېدو علتونه او د بیرته ستنېدو د لېوالتیا کچه معلومه کړي. دغه څېړنه پر هغو داخلي بې ځایه سوو ترسره سوې ده چي عملاً پر وظیفو مصروف دي یا په ورځني توګه عاید لري. دغه یوه کمي څېړنه ده چي تر یوه حده په کتابتوني او نوره تړوله په میداني شکل تر سره سوې ده. د سمپل سایز د محاسبې لپاره د (Fisher) له فورمل څخه ګټه اخیستل سوې ده چي سمپل یې (۲۶۱) وګړي راوتلی دي، چي (۲۶۱) پوښتنلیکونه ترتیب او په کندهار ښار کي پر دندو مصروف داخلي بې ځایه سوو ته وېشل سوي دي. راټوله سوې (ډاټا) په اکسیل پروګرام کي داخل او تحلیل سوې ده. په دغه څېړنه کي دا معلومه سوه چي نن ورځ یادو بې ځایه سوو په بېلابېلو برخو کي وظیفې اشغال کړي دي چي اکثریت یې رسمي (دولتي) اورګانونه، خصوصي سکټور، مؤسسې او ورځني مزد یادوي، مګر اکثر داخلي بې ځایه سوي د خپلي سرمایې په اساس په خپلو شخصي کارو بارو مصروف دي او له دې طریقه خپل عواید د ورځني مصارفو د رفع کولو په منظور ترلاسه کوي. هغه داخلي بې ځایه سوي کوم چي په پورته یاد سوو دندو مصروف دي سم په نیمه له خپلو دندو ناراضه دي چي عمده لامل یې له دندي څخه د ترلاسه سوو عوایدو په اساس د دوی د ورځني مصارفو نه رفع کول ګڼل کیږي.

**کلیدي کلمات:** داخلي بې ځایه سوي، وظیفوي مشغولتیا، عواید او مصارف

## پېژندنه (Introduction)

کندهار یو له هغو ولایتو څخه دئ چې اطراف یې په تیرو جګړو کې سخت ځپل سوی، زیات شمېر وګړي یې مهاجر یا هم بې ځایه سوي دي، یاد بې ځایه سوي نن ورځ اکثریت د کندهار ولایت په ښار کې مېشت دي، نه یوازې دا چې کندهار ښار د خپل ولایت اړوند بې ځایه سوو کوربه دئ بلکې د نورو ولایتونو د داخلي بې ځایه سوو کوربه هم دئ. یاد بې ځایه سوي د خپلې ورځنۍ ژوند مخته وړلو لپاره اړتیا لري چې عایداتي سرچینې ولري. په مخکنیو څېړنو او راپورونو کې دا مسئله نه ده روښانه سوې چې واقعاً یاد بې ځایه سوي په کندهار کې خپلې اقتصادي ستونزې له کومو لارو حل او فصل کوي، د لا ښه وضاحت لپاره لومړی داخلي بې ځایه سوي پیژنو، وروسته په کار او د کار په ځینو مواردو بحث کوو او بلاخره د څېړنې د تحلیل برخې ته داخلیږو.

**داخلي بې ځایه سوي:** داخلي بې ځایه سوي له هغو کسانو څخه عبارت دي چې د متعددو عواملو په اساس خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ سوي دي لکه جګړه، طبیعي پیښې، فقر او بیکاري (له پیښو سره د مبارزې عالي دولتي کمیسیون، ۱۳۹۴ هـ. ش). د کډوالو نړۍ وال سازمان د څېړنې پر اساس په افغانستان کې د داخلي بې ځایه سوو شمیر د ۲۰۲۰ کال تر سپتمبر پوري ( ۵،۲۲۵،۵۷۶ ) میلیونه وګړو ته رسېدی او د یادو بې ځایه سوو تر ټولو عمده ستونزې د سرپناه او د عایدو نشتون ګڼل سوي او دا د دې سبب سوی چې داخلي بې ځایه سوي د عاید ترلاسه کولو او خپلو اقتصادي ستونزو د حلولو په موخه په ښارونو کې بېلابیلو کارونو ته مخه کړې ده (IOM، 2020). داخلي بې ځایه سوي هغو کسانو یا د اشخاصو ډلو ته ویل کیږي چې د مسلحانه جګړو د زیانو څخه د ژغورل کېدو، بیکارۍ او طبیعي پیښو په خاطر خپل دایمي استوګنځي پرېښودلو ته اړ سي خو د خپل هیواد د هغو کرښو څخه وا نه وړي چې په نړۍ واله کچه په رسمیت پېژندل سوي وي (داخلي بې ځایه سوو ملي پالیسي، ۱۳۹۲).

په افغانســتان کې د کډوالو نړۍ وال ســازمان د یوې څېړونکې ډلې (هیواد د بشرــي ډلې) لخوا په ( ۲۰۱۸ ز )کال کې په هیواد کې څېړنه ترسره ســوې چې په دې څېړنه کې د افغانســتان بشرــي اړتیاوې ارزول ســوي دي. په یاده څېړنه کې کندهار هغه ولایت ثابت  سوی کوم چې او سیدونکي یې د جګړو، طبیعي پیـښو او ځینو نورو لاملونو پر ا ساس د خپلو کورونو پرېـښودو ته اړ ســوي دي. په ګُلې ډول په ۲۰۱۷ ز کال کې له جګړو څخه ۹۳ســلنه اغېزمنو افغانانو داخلي مهاجرت ته مخه کړې ده حتی له دې ډلې ۵۰ سلنه یې دوه ځلې یا څو ځلې بې ځایه سوي دي.

د هغې څېړنې پر اساس چې د ویانا ډیالوګ او همکارۍ انستیټوټ له لوري ترسره سوې ده د افغانستان په کاري سکتورونو کې کرهڼه او مالداري د اســتخدام تر ټولو لوی ســکتور ګڼل کیږي، یاد ســکتورونه د دندو (۴۴) ســلنه برخه تشــکیلوي او د هیواد (۲۳) سلنه ناخالص تولید (GDP) جوړوي او دا سکټورونه د ټیټ مهارت لرونکو وګړو لوړه کچه لري چې (۸۷) سلنه کارکونکي یې رســمي تعلیمات نه لري، بله خوا بیا ددې کارمندانو زیاته کتله له ســترو ښــارونو څخه بهر د (اطرافو) وګړي تشــکیلوي دا چې ښارونو ته اکثره راغلي داخلي بې ځایه سوي د اطرافو له سیمو څخه دي نو د دوی کاري وړتیا او ځانګړتیا هم تر ډېره همدغو دو برخو ته شامله ده (علي احمد، ۲۰۱۸).

**کار:** کار د انسان بشري حق دئ، د همدې حق په ا ساس انسانان په ټولنه کې د عاید ترلاسه کولو او د خپل ژوند د اړتیاو د پوره کولو په منظور په بېلابیلو کارونو مصروف دي له بل لوري مسکن لرل هم د انسان له ا صلي حقونو څخه  شمېرل کیږي چې له بده مرغه په افغانســتان کې افغاني اتباع د بېلابیلو عواملو له کبله د خپلو کورونو پرېښــودلو ته مجبور ســوي دي چې یاد مهاجرت دوې پایلې لرلې یو داچې بې ځایه سوو خپلې اصلي دندې له لاسه ورکړې او دوهم ځینې بې ځایه سوو په ښارونو کې نوې دندې ترلاسه کړې دي. د کار نړۍ وال ســازمان د تعریف پر اســاس، کار د هغه فکري او بدني فعالیتونو د شــتون، حالت ته ویل کیږي چې له (

۱۵ څخه تر ٦٥ ) کلن ســن وګړي د عايد (نقدي او غير نقدي) ترلاســه کولو په منظور په بېلابيلو برخو کې فعاليتونه ترسره کوي (International Labor Organization,2021).

په اقتصـــادي لحاظ کار هغه ذهني او فزيکي کړنې دی چې د اجورې (معاش) په مقابل کې ترسره کيږي يا هم له کار څخه موخه هغه ذهني يا فزيکي هلې ځلې دي چې د لويو او يا کوچينو موخو د لاســته راوړلو لپاره ترسره کيږي (ثاقب ، ۱۳۹۷ ل). په ټوله کې کار هغه فکري يا جسمي فعاليت دئ چې شخص يا اشخاصو ته دکاليو د توليد يا خدمتونو د وړاندې کولو په مقصد وي (ستانکزی او نور، ۱۳۹۷ ل).

## د څېړنې ستونزه (Research Problem)

په دې وروستيو کې کندهار ښار د زيات شمېر داخلي بې ځايه سوو کوربه دئ. داچې ياد داخلي بې ځايه سوي خپلې اقتصادي ستونزې له کومو لارو حلوي او عوايد د کومو منابعو څخه ترلاسه کوي او يا داچې دوی په کوم مسلک کې زيات مصروف دي، تر اوسه نه وو مشخص سوي دا ستونزه د دې سبب سوې وه چې د داخلي بې ځايه سوو سره په کارموندنه کې مسؤل اورګانونه لږ مرسته وکړي. له بل لوري داخلي بې ځايه سوي په ښارو کې د بيکارۍ د ډېريدو يو لامل هم ګڼل کيږي چې دا مسئله بيا د دوي له مشغولتيا سره مستقيمه اړيکې لري يعني په کوم مسلک کې چې دوی اکثريت وظيفې اشغال کړي په هماغه مسلک کې اکثره ښاريانو خپله کاري مشغولتيا هم له لاسه ورکړې ده. د دې څېړنې په ترسره کېدو سره ياد مسلک معلوم او ستونزه حل سوې ده بلکې دا هم روښانه سوې چې داخلي بې ځايه سوي کوم مسلک ته زياته لېوالتيا لري ترڅو مسؤل نهادونه په هماغه برخه کې لازم او اړين اقدامونه وکړي.

## د څېړنې اهميت (Significance of the study)

په افغانستان کې جنګ، جګړو، فقر او بيکارۍ د پراختيا په حال کې ده چې ياده بېکاري د دې سبب سوې چې افغان اتباع داخلي مهاجرتونو ته مخه کړي. کندهار ښار يو له هغو ښارونو څخه دی چې زيات شمېر داخلي بې ځايه سوي لري. دا چې د بې ځايه سوو يو لامل بېکاري او فقر دئ نو دا نده معلومه چې کندهار کې داخلي بې ځايه سوي کاري مشغولتيا ته رسيدلي يا په کومو کارونو مشغول دي يا دا چې دوی خپلې اقتصادي ستونزې له کومو لارو حلوي دا څېړنه د يادي موضوع په روښانه کولو سره خپل اهميت ثابتوي.

## د څېړنې موخه (Research Objective)

په کندهار ښار کې د داخلي بې ځايه سوو د وظيفوي مشغولتيا ډول او علتونه معلومول.

## د څېړنې پوښتنه (Research Question)

په کندهار ښار کې داخلي بې ځايه سوي په کومو وظيفو مشغول دي؟

## د څېړنې اړوند پخوانيو آثارو ته کتنه (Literature Review)

په افغانستان کې د کډوالو نړۍوال سازمان د يوې څېړونکې ډلې (هيواد د بشري ډلې) لخوا په ( ۲۰۱۸ ز )کال کې څېړنه ترسره سوې ده، په دې څېړنه کې د افغانستان بشري اړتياوې ارزول سوي دي. په ياده څېړنه کې کندهار هغه ولايت ثابت سوی کوم چې اوسيدونکې يې د جګړو، طبيعي پيښو او ځينو نورو لاملونو په اساس خپلو کورونو پرېښودو ته اړ سوي دي. په کُلي ډول په ۲۰۱۷ ز کال کې له جګړې څخه ۹۳سلنه اغيزمنو افغانانو داخلي مهاجرت ته مخه کړې وه چې حتا له دې ډلې ۵۰ سلنه يې دوه ځلي يا څو ځلي بې ځايه سوي دي. خو د دې څېړنې پر اساس نوې موندنه دا ده چې په کندهار ښار کې (۲۴) سلنه داخلي بې

ځايه سوي له دې مخکي هم دوه يا څو ځلي بې ځايه سوي ول او (۴۴) سلنه داخلي بې ځايه سوي د لومړي ځل له پاره بې ځايه کېدل تجربه کوي.

د ويانا نړۍوال ډيالوګ او همکارۍ انستيټيوټ له لوري د (کډوال بيکارۍ، وزګارۍ او ناهيلۍ ته راستنېږي) تر عنوان لاندي د ۲۰۱۸ کال په نومبر مياشت کي يوه څېړنه ترسره کړې ده چي په خپل لنډيز کي يې د افغانستان د کارو بار د ځانګړتياوو په تړاو يادونه کړې ده چي د اټکل سوي ۳۰ ميليونه نفوس څخه ( ۹.۱۵ ميليونه) افغانان چي ( ٦.۵۴ سلنه) تشکيلوي د کارکولو عمر ( ۱۵ - ٦۴ کاله )لري. نږدې (٦,۵ ميليونه) افغانان استخدام سوي دي. (۵,۲ ميليونه)ډېر لږ ساعتونه په کار بوخت دی (۱،۳ ميليونه) د کار کولو عمر خلک چي ۲۴ سلنه کيږي بېکاره دي. نارينه - ۸۰ سلنه ( ۵.۵ ميليونه )کاري ځواک تشکيلوي په داسي حال کي چي ښځي د ۲۰ سلنه څخه کم (۱,۱ميليونه) جوړوي. د کاري ځواک ۷۷ سلنه څخه زيات ( ۵ ميليونه) په کليوالو سيمو کي استوګنه کوي. په ښاري سيمو کي د کاري ځواک کچه ډېره ټيټه ښودل سوې ده او دلايل يې د ښځو، ځوانانو او مشرانو له پاره د کار محدود فرصتونو ښودل سوي دي، خو په ياده څېړنه کي تمرکز پر ټول افغانستان سوی او په کار مصروف وګړو کي يې داخلي بې ځايه سوي په پام کي نه دي نيولي. په داسي حال کي چي په دغه څېړنه کي پر داخلي بې ځايه سوو باندي تمرکز سوی دی او د کار کولو د سن په تړاو نوي موندني ترلاسه سوي چي هغه (۵۱) سلنه داخلي بې ځايه سوي چي په کار مصروف دي سن يې ( ۲٦ ـ۴۰) کلونو پوري دئ.

## مواد او ميتودونه (Materials & Methods)

دا يوه کيفي او ساحوي څېړنه ده، چي په کندهار ښار کي د دريو مياشتو په ترڅ کي ترسره سوې ده. د داخلي بې ځايه سوو شمېر د مهاجرينو او بيرته راستنيدونکو له رياست څخه ترلاسه سوی چي محدوده يې کندهار ښار پوري ځانګړې کيږي. د څېړني نفوس هغه داخلي بې ځايه سوي دي چي د بيلابيلو عواملو په اساس په کندهار ښار کي مېشت دي او په دندو مصروف دي يا داچي ورځني عوايد لري چي د خپل ژوند ورځنۍ ستونزي پرې حلولی سي. داخلي مهاجرينو شمېر له ( ۳۵۰۰۰ ) څخه زيات دئ؛ بنأ د سمپل سايز د محاسبې له پاره د (Fisher) له فورمل څخه ګټه اخيستل سوې ده چي سمپل يې (۲٦۱) وګړي راوتلي دئ.

$$n = Z^2 P(1-q)/e^2$$

په دغه فارمول کي سمبولونو داسي تعريف کړل سوي دي، چي:

n= د سمپل اندازه

Z= د۹۷٪ اعتماد اندازې سکور = زيډ ټيبل کي ۱،۹٦

e= د سمپل غلطي/ايرر = ۵%

p= په ۱۷٪ نفوس کي احداکثر تغيير پذيري = ۰،۱۷

q= 1-p = ۰،۸۳

$$n = ۲،۱۷^2 * ۰،۱۷(۱ - ۰،۸۳)/(۰،۰۵)^2$$

$$n = ۲٦۱$$

ډاټا د پوښتنلیکونو له طریقه د بندو پوښتنو په اساس راټوله سوې ده. راټوله سوې ډاټا د (MS EXCEL) پروګرام په واسطه تحلیل او تجزیه سوې ده. موږ خپلې موضوع ته په پوره صداقت، صبر، شوق او امانتداري سره ژمن یو. د همکاري کوونکي هویت کاملاً محرم پاته کیږي. دوهمي ډاټا د څېړونکي/لیکوال د نامه د ذکر کولو او یا د معلوماتي سرچینې د ذکر کولو پرته نه ده کارول سوې.

## نتایج (Results)

د څېړني پوښتنلیک پنځه ترلي پوښتني لرلې چي د هغه په مرسته راټوله سوې ډاټا د MS Excel پروګرام په مرسته په لاندي ډول تحلیل او  په جدولو کي ترتیب او تنظیم سوې ده.

لومړی جدول: د جواب ویونکو ټولنیز معلومات (نمونه = ۲٦۱)

| د متحول نوم (Variable) | تعداد (Frequency) | فیصدي (Percentage %) |
|---|---|---|
| **عمر / سن** | | |
| ۱۸ـ ۲۵ | ۷۸ | ۳۰ |
| ۲٦- ۴۰ | ۱۳۴ | ۵۱ |
| ۴۱- ٦۵ | ۴۷ | ۱۸ |
| له ٦۵ لوړ | ۲ | ۱ |
| **مدني حالت** | | |
| مجرد | ۸۹ | ۳۴ |
| متاهل | ۱۷۲ | ٦٦ |
| **جنسیت** | | |
| نارینه | ۲۲۴ | ۸۵ |
| ښځینه | ۳۴ | ۱۵ |
| **د زده کړو کچه** | | |
| زده کړې نه لرل | ۱۱۹ | ۴٦ |
| بکلوریا | ۱۰۵ | ۴۰ |
| مافوق بکلوریا | ۹ | ۳۰ |
| لیسانس | ۲۱ | ۹ |
| ماستر | ۴ | ۱ |
| **د میاشتني عوایدو کچه** | | |
| (۵ - ۱۰) زرو پوري | ۱۴۲ | ۵۴ |
| (۱۰ ـ ۱۵) زرو پوري | ۹۷ | ۳۸ |
| له ( ۱۵ ) زور څخه لوړ | ۲۲ | ۸ |

| د میاشتني مصارفو کچه | | |
|---|---|---|
| (۵ - ۱۰) زرو پوري | ۷۷ | ۳۰ |
| (۱۰ ـ ۱۵) زرو پوري | ۱۲۸ | ۴۹ |
| له ( ۱۵ ) زور څخه لوړ | ٥٦ | ۲۱ |

دوهم جدول: د بې ځایه کېدو شمېر

| د بې ځایه کېدو شمېر | تعداد | فیصدي (٪) |
|---|---|---|
| نه یم بې ځایه سوی | ۱۱۷ | ۴٦ |
| یوه ځلي | ۷۷ | ۳۰ |
| دوه ځلي | ۴۲ | ۱۷ |
| څو ځلي | ۱۹ | ۷ |
| **مجموعه** | **۲۵۵** | **۱۰۰** |

په افغانستان کي داخلي بې ځایه سوي نه یوازي داچي له اصلي استوګنځای څخه بې ځایه سوي بلکي دوهم ځل حتا داسي کورنۍ سته چي څو ځلي د بېلابېلو عواملو په اساس کډه کېدو ته مجبور سوي دي. کندهار هم له دې اصل څخه استثنا نه دی پاتي سوی. په کندهار کي مېشت کډوال او داخلي بې ځایه سوي دوه حتا څو ځلي له خپل استوګنځای څخه کډه کېدو ته مجبور سوي دي. د راټولو سوو ارقامو په اساس په کندهار ښار کي د مېشت ( ۳۵۰۰۰ ) داخلي بې ځایه سوو له جملې څخه ( ۲۹ ) سلنه يې مخکي له دې چي کندهار ښار ته راکډه سي یو ځلي بیا هم له خپل اصلي استوګنځای څخه بې ځایه سوي دي. د دوه ځلي بې ځایه سوو سلنه بیا ( ۱۷ ) او له دوو څخه د ډېر ځلي بې ځایه سوو سلنه (۷) ته رسیږي. تر نیمایي لږ ټیټه یعني ( ۴۷ ) سلنه داسي داخلي بې ځایه سوي دي چي له خپل اصلي استوګنځای څخه د لومړي ځل لپاره په داخلي کچه مهاجرت تجربه کوي.

درېیم جدول: د بې ځایه کېدو عوامل

| د بې ځایه کېدو علت | تعداد | فیصدي (٪) |
|---|---|---|
| جګړه | ۱٦۳ | ٦۴ |
| بې کاري | ۵۵ | ۲۱ |
| طبیعي پېښې | ۳۵ | ۱۴ |
| فقر | ۳ | ۱ |
| **مجموعه** | **۲۵٦** | **۱۰۰** |

لکه څرنګه چي یادونه وسوه چي داخلي بې ځایه سوي د بېلابیلو عواملو په اساس دې ته مجبور سوي چي خپل اصلي استوګنځای خوشي او له خپل اصلي سیمي لیري په کندهار ښار کي ژوند وکړي نو د دې عواملو د معلومولو په موخه په ترسره سوې څېړنه کي یو مورد هم د همدې مسئلې معلومول وو چي په پایله کي دا معلومه سوه چي جګړه تر ټولو عمده بدمرغه پدیده ده چي زیات وګړي یې داخلي مهاجرت ته مجبور کړي دي چي سلنه یې (٦٢) ته رسیږي. له جګړې وروسته، بې کاري دوهم هغه فکتور دئ چي زیات وګړي یې دې ته مجبور کړي چي خپل اصلي استوګنځای پرېږدي او مهاجرت ته مخه کړي چي د یاد فکتور فیصدي (٢١) ښودل سوې ده. له بل اړخه (١٣) سلنه داخلي بې ځایه سوي د طبیعي پېښو په اساس او فقر چي تر ټولو ټیټه فیصدي (١) ښودل کیږي هغه عوامل دي چي خلک یې د خپل اصلي استوګنځایونو پرېښودلو ته مجبور کړي دي.

په کندهار کي داخلي بې ځایه سوي مخکي له دې چي بې ځایه سي په بېلابیلو برخو کي یې دندي ترسره کړي دي که څه هم په کندهار کي میشت (٤٦ ٪) داخلي بې ځایه سوي بې سواده دي خو یو تعداد چي سلنه یې (٢٢٪) ته رسیږي په رسمي ادارو کي یې دندي مخته وړي او تجربه پکښې لري.

په کندهار کي داخلي بې ځایه سوي مخکي له دې چي له خپل اصلي استوګنځای څخه بې ځایه سي، عواید یې نسبت مصارفو ته ډېر کم وو، د داخلي بې ځایه سوو (٢٦) سلنه کسان له خپلو عوایدو د مصارفو په مقابل کي یوازي (٢٥ ٪ ) راضي دي، خو زیاته برخه یې هغه کسان جوړوي چي دوی له خپلو عوایدو (٥٠ ٪ ) خوښ وو یعني هغه عواید چي دوی ترلاسه کول یوازي نیمه برخه مصارفو ته ځواب ویونکي وو چي د یادي طبقي بې ځایه سوو سلنه ( ٣٧ ٪ ) ده. بله خوا هغه داخلي بې ځایه سوي چي عواید یې (٧٥ ٪) ښودل سوي د دوی ضرورتونو ته جواب ویل ( ٢٥) سلنه دي. د دې ترڅنګ (٩) سلنه داخلي بې ځایه سوي مخکي له دې چي مهاجر سي د خپلو عوایدو په اساس یې خپل ټول ضرورتونه رفع کول او له عوایدو راضي ول.

د پورته یادو سوو ستونزو علاوه چي داخلي بې ځایه سوي مخکي له بې ځایه کېدو ورسره مخ ول، اکثریت په دې تمه دي چي خپلو اصلي استوګنځایونو ته ستانه سي. هغه داخلي بې ځایه سوي چي غواړي بیرته ستانه سي (٥١ ٪ ) ته رسیږي. له دې معلومیږي چي له خپل اصلي استوګنځي څخه بې ځایه کېدل د داخلي بې ځایه سوو ستونزي نه دي حل کړي، بلکي ستونزي یې ورته ډېري کړي دي.

څلورم جدول: د داخلي بې ځايه سوو د وظيفوي مشغولتيا ډول

| د پوښتني موضوع | متغیر | تعداد | فیصدي (٪) |
|---|---|---|---|
| د اشغال سوي دندي ډول | ورځنی مزد | ۷۵ | ۲۹ |
| | رسمي (دولتي) ارګان کي دنده | ۳۲ | ۱۲ |
| | شخصي دنده | ۱۰۲ | ۴۰ |
| | شخصي سکتور کي دنده | ۲۸ | ۱۰ |
| | مؤسسه | ۲۴ | ۹ |
| | **مجموعه** | **۲٦۱** | **٪ ۱۰۰** |
| له دندي څخه د رضایت کچه | ۲۵٪ | ۵۵ | ۲۱ |
| | ۵۰٪ | ۱۰۸ | ۴۱ |
| | ۷۵٪ | ۷۲ | ۲۹ |
| | ۱۰۰٪ | ۲٦ | ۹ |
| | **مجموعه** | **۲٦۱** | **٪ ۱۰۰** |
| د عوایدو په اساس د اړتیاو د رفع کولو کچه | ۲۵٪ | ۷۵ | ۲۹ |
| | ۵۰٪ | ۱۰۷ | ۴۰ |
| | ۷۵٪ | ٦۰ | ۲۴ |
| | ۱۰۰٪ | ۱۹ | ۷ |
| | **مجموعه** | **۲٦۱** | **٪ ۱۰۰** |

هغه داخلي بې ځايه سوي چي په کندهار کي د خپل بې ځايه والي شپې او ورځې سبا کوي، په بېلابیلو برخو کي يې وظيفې اشغال کړي دي. داچي داخلي بې ځايه سوي ( ۴۷ ٪ ) بې سواده دي او بله خوا هغوی په رسمي ادارو کي هم تجربه نه لري دا دواړه فکتورونه د دې سبب سوي دي چي ( ۴۰ ٪ ) سلنه داخلي بې ځايه سوي په شخصي دندو مصروف دي دا په داسي حال کي ده چي زیاته برخه داخلي بې ځايه سوي يعني ( ۴۱) سلنه له خپلي دندي ( ۵۰ ٪ ) راضي دي.

د څلورم جدول په اوله برخه کي زیات داخلي بې ځايه سوي په (ورځني مزد) خپل کاري ژوند سبا کوي او له دې دندي څخه خپل د ژوند ورځني ضروريات رفع کوي. که څه هم د داخلي بې ځايه سوو د مصارفو کچه په اوسط ډول له ( ۱۰۰۰۰ ـ ۱۵۰۰۰) افغانيو پوري رسيږي، نه سي کولای په یوه داسي دنده چي عوايد يې د ورځې ډېر کم دي د ژوند ټول ضروريات پرې رفع کړي نو ځکه له دندي څخه د داخلي بې ځايه سوو د رضایت کچه ډېره ټيټه ده.

په پورتني جدول کي چي زیات داخلي بې ځايه سوي په دندو مشغول دي هغه دوه ډوله وظيفې دي چي لومړی يې په رسمي (دولتي) ارګانو کي او دوهم يې په شخصي سکتور کي دندي دي چي داخلي بې ځايه سوي په کندهار کي ترې خپل عاید ترلاسه کوي چي د دواړو سلنه په ترتیب ( ۱۲٪) او (۱۰ ٪ ) ته ښودل سوي ده.

د جدول د ارقامو له مخې معلومېږي چې یو شمېر داخلي بې ځایه سوي په دې توانیدلي چې مؤسسو ته لاره پیدا کړي او په یاده برخه کې دنده اشغال کړي چې په سلو کې یوازې ( ۹ ٪) یادي دندي ترلاسه کړي دي. د یادوني وړ ده چې داخلي بې ځایه سوي له اصلي استوګنځی ځخه بې ځایه سوي او دندې یې په کندهار ښار کې اشغال کړي چې یاده موضوع د دې سبب هم سوې چې د بیکارۍ کچه زیاته او ښاریان بېکاره او روزګاره سي.

هغه داخلي بې ځایه سوي چې وظیفې یې اشغال کړي، وخت نا وخته بې کاره هم پاتي سوي دي چې د بېکاره پاته کېدو بېلابېل لاملونه یادوي چې تر ټولو عمده لامل د کاري فرصتو نشتون او د واسطې نه لرل یادوي چې په ترتیب ( ۴۷ ٪) او (۲٦ ٪) سلنه جوړوي. علاوه پر دې د تحصیلي سند نه لرل ( ۱۹ ٪) او تجربه نه لرل ( ٦ ٪ ) هم د پام وړ عوامل دي چې داخلي بې ځایه سوي یې د دندي د اشغالولو ځخه محروم کړي دي.

## مباحثه/ مناقشه (Discussion)

لکه څنګه چې مخکې وویل سول چې ددې څېړني موخه داوه ترڅو په کندهار ښار کې د داخلي بې ځایه سوو کسانو د وظیفوي مشغولتیا څرنګوالی معلوم کړل سي چې د څېړني په موندنو کې دا روښانه سول چې داخلي بې ځایه سوي د بېلابیلو عواملو پر اساس مجبوره سوي چې خپل اصلي استوګنځای پرېږدي او په کندهار ښار کې سکونت غوره کړي. تر ټولو مهم او عمده فکټور چې دوی یې دې کار ته اړ ایستلي جګړه او د جګړي اثار دي چې فیصدي یې ( ٦۲ ٪) ته رسیږي. له بل لوري بېکاري هم خلک آرام ژوند ته نه دي پرې ایښي، زیات شمېر کسان یې په داخلي کچه دېته اړ کړي چې مهاجرت وکړي چې فیصدي یې په داخلي بې ځایه سوو کې (۲۱ ٪) ته رسیږي، طبیعي پیښې او فقر دوه نور فکټورونه دي چې خلک یې بې ځایه کېدو ته مجبوره کړي دي.

د داخلي بې ځایه سوو د وظیفوي مشغولتیا د څرنګوالي په اړه د ترسره سوي څېړني په ترڅ کې دا ثابته سوه چې داخلي بې ځایه سوي په بېلابیلو دندو مصروف دي. شخصي دنده هغه دنده ده چې تر بلي هري وظیفې داخلي بې ځایه سوي زیات پرې مصروف دي. داخلي بې ځایه سوو په کندهار کې د یادي وظیفې فرصت خپله ځانته مساعد کړی، سرمایه ګذاري یې کړې او په دنده مشغول سوي دي چې په سلو کې (۴۰ ٪) سلنه جوړوي. په دوهمه برخه کې داخلي بې ځایه سوي د خپلو ورځنیو ضرورتونو د رفع کولو او عواید لرلو په موخه د ورځني مزد په بڼه کار کوي، چې په کندهارۍ ټولنه کې په عرفي ډول هغه خوک چې د یو مشخص او ثابت معاش لرونکي دندي په موندلو نه توانیږي یادي دندي ته مخه کوي چې عواید یې ډېر کم او ورځني ضروریات ډېر سخت پرې پوره کېدلای سي. دا په داسي حال کې ده چې داخلي بې ځایه سوي د خپلي بې کارۍ تر ټولو عمده علت د کاري فرصتونو نشتون ګڼي. وروسته په ترتیب دولتي ارګانونو کې مصروفیت ( ۱۲ ٪)، شخصي سکتور کې مصروفیت(۱۰ ٪) او په مؤسساتو کې (۹ ٪) داخلي بې ځایه سوي مصروف دي.

د داخلي بې ځایه سوو ځخه چې دندي یې اشغال کړي دي ډېره کمه فیصدي ( ۹ ٪) سلنه کسان سل سلنه له خپلو دندو راضي دي. دا ځکه چې له خپلي دندي ځخه د ترلاسه کړو عوایدو په اساس یې د ژوند ټول ضرورتونه نه رفع کیږي یوازې ( ۷ ٪) کسان دي چې د عوایدو په اساس یې د ژوند ستونزي حلیږي او له دندي خوښ دي. په داسي حال کې چې داخلي بې ځایه سوي په اوسط ډول خپل د ژوند یوازې نیمایي برخي اړتیاوي د خپلو عوایدو په اساس رفع کوي چې سلنه یې ( ۴۰ ٪ ) ته رسیږي. د موضوع د لا ښه وضاحت په موخه ویلی سو چې د داخلي بې ځایه سوو له جملې ځخه د (۵۴ ٪) کسانو عواید د میاشتي له ( پنځه زره ځخه تر لس زره) پوري دي. پداسي حال کې چې مصارف یې بیا په اوسط ډول (۴۹ ٪) سلنه له (لس زرو ځخه بیا تر پنځلس

زرو) پوري دي او دا سلنه بیا له (پنځه زرو څخه تر لس زرو) پوري (۳۰ ٪ ) ده، بناءً پر دې اساس ویلای سو چي د نارضایتۍ یو عمده لامل د مصارفو او عوایدو ترمنځ د توازون نشتون دی.

په دغه څېړنه کي علاوه پر دې، د داخلي بې ځایه سوو اړوند ډېری معلومات راټول سوي ځیني قوي ټکي هم لري چي په داخلي بې ځایه سوو کي یوازي له هغو کسانو ډاټا راټوله سوې چي په دندو مصروف یا حد اقل د خپل فزیکي کار څخه یې ورځني عواید لرل چي په دې کي ښځینه او نارینه برخي دواړه شامل ول.

علاوه پر دې، دغه څېړنه کمزوري ټکي هم لري چي هغه د (SPSS) په واسطه د ډاټا نه تحلیلول او په هغه باندي د بېلابیلو ټېستونو نه ترسره کول دي. دا څېړنه له یو لړ ستونزو سره هم مخ سوه چي هغه د ټولني بحراني وضعیت وو چي متأسفانه راپور یې پر خپل وخت ارایه نه سو له بل اړخه راټوله سوې ډاټا چي باید په معیاري ډول تحلیل سوي وای هغسي تحلیل نه سول.

## پایله (Conclusion)

داخلي بې ځایه سوي هغو کسانو یا د اشخاصو ډلو ته ویل کېږي چي د جګړې، د مسلحانه جګړو د زیانونو څخه د ژغورل کېدو، بیکارۍ او طبیعي حوادثو په خاطر خپل دایمي استوګنځي پرېښودلو ته اړ سي، خو د خپل هیواد د هغو کرښو څخه وا نه وړي چي په نړیواله کچه په رسمیت پیژندل سوي وي. له بل لوري په اقتصادي لحاظ کار هغه ذهني او فزیکي کړني دي چي د اجوري (معاش) په مقابل کي ترسره کېږي یا هم له کار څخه موخه هغه ذهني یا فزیکي هلي ځلي دي چي د لویو او یا کوچینو موخو د لاسته راوړلو لپاره ترسره کېږي.

د دغه څېړني په ترسره کولو دې پایلي ته ورسېدو چي په افغانستان کي زیات شمېر کسان د جګړو، طبیعي پیښو او بې کارۍ له کبله داخلي مهاجرت ته مجبور سوي دي په ځانګړې توګه کندهار یو له هغو ولایتونو څخه دئ چي د داخلي بې ځایه سوو شمېر پکښې ( ۳۵۰۰۰ ) کسانو ته رسېږي چي (٦١٪) یې له جګړو څخه متأثره سوي دي. په دې بې ځایه سوو کي زیاته برخه یې غواړي چي د شرایطو په برابرېدو سره خپل اصلي استوګنځای ته ستانه سي، پدې مانا چي زیاته برخه داخلي بې ځایه سوي په موقتي ډول په ښار کي مېشت سوي او په موقتي ډول یې دندي اشغال کړي دي.

هغه دندي چي داخلي بې ځایه سوي پرې مصروف دي عبارت دي؛ شخصي دندي، ورځنی مزد، دولتي دندي، د شخصي سکتور او د مؤسسو دندي. د یادوني وړ ده، تر ټولو لوړه سلنه یې شخصي دندي دي چي ( ۳۹٪ ) جوړوي. د داخلي بې ځایه سوو ورځنی عاید د دوی د ورځنیو ستونزو ۵۰٪ سلنه جواب وایي او ډېری داخلي بې ځایه سوي ۵۰ سلنه له خپلو دندو څخه راضي دي. له بل لوري ډېری داخلي بې ځایه سوي لېوالتیا لري چي خپل تجارت ولري او په دې سره خپلي ستونزي حل کړي. داخلي بې ځایه سوي د بې ځایه کېدو په جریان کي وخت نا وخت بې دندي هم پاته سوي چي ډېری بې ځایه سوي د خپلي بیکارۍ علت د وظیفو کمښت ګڼي او دوهم عمده علت د واسطې نشتون یادوي. په دې مانا چي د هیواد په ادارو کي د شته اداري فساد څخه داخلي بې ځایه سوي هم متأثره دي، که څه هم د تجربې نه لرل هم له هغو عواملو څخه دي چي داخلي بې ځایه سوي یې په رسمي یا دولتي ادارو کي له کار کولو څخه محروم کړي دي.

## وړانديزونه

د دي څېړني په ترسره کولو سره د ترلاسه سويو معلوماتو، موندونو او تجربو پر اساس د راتلونکو څېړنو په اړه ځيني سپارښتني او مشوري هم وړاندي کيږي. اول، د داخلي بې ځايه سوو د روغتيايي وضعيت په تړاو دي څېړنه وسي ځکه؛ د ډېری داسي داخلي بې ځايه سوو سره مخ سوو چي د رواني او روغتيايي اړخه په يوه وخيم حالت کي ول. دوهم، د کندهار د کډوالو چارو رياست او هغه بنسټونه چي له داخلي بې ځايه سوو سره مرسته کوي، غوښتنه کيږي چي هغو داخلي بې ځايه سوو ته چي بيا ستنېدل نه غواړي د اوږدمهاله او دايمي دندو زمينه برابره کړي.

## ماخذونه (References)

احمد، علي ( ۲۰۱۸ نومبر ). کډوال بيکارۍ وزګارۍ او ناهيلۍ ته راستنيږي، د ويانا نړيوال ډيالوګ او همکارۍ انستيوت.
https://www.vidc.org/fileadmin/michael/studien/__summary_afghanistan_s_labor_market_and_the_status_of_women_pashto.pdf

ثاقب، نقيب الله (۱۳۹۷ ل). د کار حقوق، جلال اباد، يار خپرندويه ټولنه.

نصرالله ستانکزی او نور (۱۳۹۷ ل). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس، کابل، د افغانستان عدلي او قضايي چارو پروژه.

IOM افغانستان (۲۰۲۰) ، د ټولني پر بنسټ د اړتياو ارزونه.
https://displacement.iom.int/system/tdf/reports/IOM-Afghanistan-DTM-Community-Based-Needs

International Organization for Migration (*IOM* for Afghanistan https://afghanistan.iom.int/

International Labor Organization https://www.ilo.org/

# Job Condition of Internal Displaced People in Kandahar City

Nasratullah Habibzai

Lecturer of Political Science and International Relations Department

nasrathabibzai012@gmail.com

0788848160

## Abstract

The past 42 years instability, civil wars, natural disasters and unemployment have forced millions of Afghans to migrate internally. Kandahar is also one of the provinces of Afghanistan that hosts 35,000 registered internally displaced people. It is necessary to clarify to know what duties the internally displaced persons are engaged in in Kandahar province. This study has been conducted in order to find out the type of work engagement of internally displaced persons in Kandahar province and also to find out the causes of displacement and the level of willingness to return. This study has been conducted on those internally displaced people who are busy with duties or have daily income. This is a quantitative research that has been done partly in the library and partly in the field. Fisher's formula has been used for calculation of sample size. A sample of 261 people has been selected, and 261 questionnaires have been arranged and distributed to hundreds of internally displaced persons who are busy with different jobs in Kandahar city. Collected data has been entered and analyzed in the Excel program. In this study, it was found that these displaced persons have occupied jobs in various fields, the majority of them are official government employees. Besides, some of them work in private sector, institutions and some of them work as labors and they get daily wages, but most of the internally displaced people are using their own capital and they invested in different small businesses. Those internally displaced people who are busy with the above-mentioned jobs are half dissatisfied with their jobs.

**Keywords:** employment, internal displaced people, income

# په کندهار کې د جرايمو پر زياتوالي د بېکارۍ اغېز

عبدالرحمن اڅکزی
د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استاد
abdulrahmanachakzai2019@gmail.com
0704782018

**لنډيز**

کله چې شخص په ټولنه کې د کار کولو توانايي او د کار له پاره لازم قدرت ولري، مګر د کار کولو يا پيدا کولو فرصت په لاس نه ورځي، دې حالت ته بېکاري ويل کېږي. او جرم بيا د هغه عمل کول دي چې د اسلامي شريعت يا جزا قانون له خوا منع سوی وي او په مقابل کې ئې جزا تعينه سوې وي. جرايم بېلا بېل عوامل لري چې يو ئې هم بېکاري بلل کېږي. د بېکارۍ کچه د جرايمو په زياتوالي او کموالي کې بنسټيز رول لري. متاسفانه نن ورځ په افغانستان او په ځانګړي ډول په کندهار په ولايت کې د بېلا بېلو عواملو له امله د بېکارۍ کچه زياته سوې ده او په ټولنه کې ئې د بېلا بېلو جرايمو ارتکاب ته زمينه برابره کړې ده چې په پايله کې ئې ټولنه د ګډوډۍ او بې نظمۍ لور ته بېولې ده. دا چې د بېکارۍ کچه د جرايمو په زياتوالي / کموالي او د عامه نظم په جوړولو/ ګډوډولو کې رغنده رول لري نو دا اړتيا ئې را منځ ته کول چې په دې عنوان څېړنه وسي. د دې څېړني موخې دا وې چې د نورو عواملو تر څنګ بېکاري هم د جرم د يو عامل په توګه پېژندل سوې وي او په کندهار کې د جرايمو په زياتوالي کې د بېکارۍ اغېز کچه معلومه سوې وي چې تر ډېره حده يادو موخو ته رسېدلي يو. دغه څېړنه تر يوه حده په کتابتوني او نوره ټوله په ميداني شکل تر سره سوې ده. د کندهار له ښاريانو څخه (۱۵۰) تنه چې په تصادفي ډول ټاکل سوې ول د هغوی څخه د پوښتنليکونو په واسطه ډاټا راټوله سوې ده. ددغه څېړني په پايله کې واضح سوې چې په کندهار کې د بېکارۍ په زياتېدو سره عموماً د جرايمو او په ځانګړي ډول د سرقت د جرم د ارتکاب کچه هم زياته سوې. همداراز د څېړني پايلو وښوده چې په کندهار کې په دولتي ادارو کې د بېسواده او غير مسلکي اشخاصو ګمارل او په دولتي تشکيلاتو او سيستم کې تغير ئې بنسټيز عوامل وو. د دې تر څنګ دا هم معلومه سوه چې د بېکارۍ له منځه وړل به تقريباً تر (۷۵٪) پوري د جرايمو په مخنيوي او کنټرول کې مرسته وکړي.

**کليدي کلمې**: کندهار ولايت، بې کاري، جرايم

## پېژندنه (Introduction)

د جرم د تعریف په هکله علماء بېلا بېل نظریات لري. ځینې علماء وايي: جرایم هغه شرعي محظورات دي چې الله (جل جلاله) د هغه څخه په حد، قصاص او دیت یا تعزیر خلک منع کړي وي. محظورات به د هغو افعالو کول وي چې شرعًا ممنوع وي یا به د هغو افعالو نه کول وي چې په شرعي نصوصو سره یې د ترسره کولو امر سوی وي او د هغه له پاره جزا وضع سوې وي. بناءً، له دې څخه معلومېږي چې یو کار کول یا نه کول هغه وخت جرم دئ چې کله جزا ورته ټاکل سوې وي. فقهاوو له عقوبت څخه په جزا تعبیر کړی نو که د کوم فعل اجرا یا نه اجرا ته جزا نه وي ټاکل سوې جرم نه ګڼل کېږي (اڅکزی، ۱۴۰۰ل). ځینې علما بیا وايي: جرم هغه عمل کول دي چې د اسلامي شریعت یا جزا قانون له خوا منع سوی وي او په مقابل کې یې جزا تعینه سوې وي یا هم د هغه عمل نه کول دي چې د اسلامي شریعت او یا جزا قانون له خوا د هغه په کولو حکم سوی وي او په مقابل کې یې جزا تعین سوې وي (دانش، ۱۳۹۵ل). همدا راز د ځینو نورو علماوو په نزد: جرم د هغه عمل له ارتکاب یا امتناع څخه عبارت دئ چې قانون جرم ګڼلی وي او جزا یې ور ته ټاکلې وي (زاه، ۱۳۹۷ل.). د کار او کسب نه ادامه یا کار او کسب ته د افرادو نه لاسرسی، په داسې حال کې چې شخص د کار کولو توانایي او ټولې ځانګړنې ولري، مګر کار نه ورته پیداکېږي، له بېکارۍ څخه عبارت ده. په بل عبارت؛ کله چې شخص په ټولنه کې د کار کولو توانایي او د کار له پاره لازم قدرت ولري، مګر د کار کولو یا پیدا کولو فرصت په لاس نه ورځي، دې حالت ته بېکاري ویل کېږي.

### د څېړنې ستونزه (Research Problem)

په ټولنه کې د بېکارۍ د کچې زیاتوالی، د جرایمو په زیاتوالي کې د بېکارۍ د منفي اغېزو اړوند د عامه پوهاوي نه شتون او په کندهار کې د جرایمو په زیاتوالي کې د بېکارۍ اغېز اړوند د یوې بشپړې څېړنې نه شتون دا اړتیا را منځ ته کړه، تر څو په دې برخه کې څېړنه وسي او په کندهار کې د جرایمو په زیاتوالي کې د بېکارۍ د اغېز اړوند رښتینې ډاټا را ټوله، تحلیل او د یوې منظمې او باکیفیته څېړنې په شکل ټولنې ته وړاندې سي.

### د څېړنې اهمیت (Significance of the study)

جرایم بېلا بېل عوامل لري چې یو یې بېکاري ده. د بېکارۍ کچه د جرایمو په زیاتوالي او کموالي کې بنسټیز رول لري، خو متاسفانه نن ورځ په افغانستان او په ځانګړې ډول په کندهار ولایت کې د بېلا بېلو دلایلو لکه د نظام او دولتي تشکیلاتو تغیربدل، د بېسوادۍ د کچې زیاتوالی، د دولت له لوري د منظم مېکانیزم او پالیسۍ نه شتون او داسي نورو له امله د بېکارۍ کچه زیاته سوې ده او په ټولنه کې د بېلا بېلو جرایمو ارتکاب ته یې زمینه برابره کړې ده. چې ټولنه یې د ګډوډۍ، بې نظمۍ او انزوا لور ته بېولې ده. بناءً، دا چې د بېکارۍ کچه د جرایمو په زیاتوالي / کموالي او د عامه نظم په جوړولو/ ګډوډولو کې رغنده رول لري. نو دا هر څه د یادي موضوع پر اهمیت دلالت کوي او دا اړتیا را منځ ته کوي چې په دې عنوان څېړنه وسي.

### د څېړنې موخې (Research Objectives)

۱- د جرم د نورو عواملو تر څنګ بېکاري د یو لوی عامل په توګه پېژندل.

۲- په کندهار کې د جرایمو په زیاتوالي کې د بېکارۍ اغېز واضح کول.

### د څېړنې پوښتنه (Research Question)

په کندهار کې د جرایمو په زیاتوالي کې بېکاري څه ډول او څومره اغېز لري؟

### د څېړني فرضيه (Research Hypothesis)

داسي څرګندېږي چي په کندهار کي د جرايمو په زياتوالي کي بېکاري ډېر اغېز لري.

## د څېړني اړوند پخوانيو آثارو ته کتنه (Literature Review)

په دې اړه تر اوسه ميداني څېړنه نه ده سوې چي په کندهار ښار کي پر جرايمو د بېکارۍ اغېز پکښې څېړل سوی وي، خو په عمومي توګه ځيني څېړني او ليکني سته چي پر جرايمو يې د بېکارۍ اغېزې په عمومي توګه څېړلي دئ. هجرت الله صافي(١٣٩٦ل). د کريمنالوژي له نظره د جرم او مجرم تر سرليک لاندي په ليکنه کي د جرم د نورو عواملو ترڅنګ پر بېکاري هم بحث کړی دئ. البته؛ سره د دې چي د مناسبي دندي يا کار نه شتون يې د جرايمو د ارتکاب يو بنسټيز لامل بللی دئ، خو د کاري حجم زياتوالي يې هم د جرايمو د ارتکاب لامل ګڼلی دئ. آزادۍ راډيو، ١/٢/١٣٩٦ل (بېکاري در افغانستان؛ عوامل وراه کار های حکومت) په دې ليکنه کي په افغانستان کي د بېکارۍ وضعيت، په هيواد کي د بېکارۍ د زياتوالي عوامل او هم د ملي وحدت د حکومت له لوري د بېکارۍ د له منځه وړلو کړني په کي تشريح سوي دي. کندهار مرکزي تجارتي ليسه، ٦/٥/٢٠١٧م. (عوامل اصلي فقر در افغانستان) ، بې برنامه ګي دولت، بېکاري، جنګ، افات طبعي، بېسوادي او پر داسي نورو موضوعاتو يې بحث کړی دئ. دلته يوازي دومره يادونه سوېده چي بېکاري د فقر او جرايمو د ارتکاب لامل ده. ارزو نيوز (٢٠٢١/ جنوري/ ١١م) تداوم نبردها در کندهار ٨٠ درصدر باشنده های اين ولايت بېکار اند. په ياد راپور کي د بېکارۍ زياتوالی او په وړاندي يې د دولت د تدابيرو په هکله بحث سوی دئ. محمد ګل عالم، د جرم ټولنيز عوامل تر سرليک لاندي ليکنه کي د جرم پر ټولنيزو عواملو لکه؛ اقتصادي، سياسي، دنديېز، جغرافيي، کورني او داسي نورو عواملو باندي بحث کړی دئ.

په پورتنيو ليکنو او څېړنيزو راپورو کي د جرايمو پر عواملو، د جرايمو پر ډولونو، د جرايمو پر زياتوالي د بېکارۍ اغېز او ځينو نورو موضوعاتو بحثونه سوي دي، خو په ځانګړي ډول په کندهار کي د جرايمو په زياتوالي کي د بېکارۍ د اغېز اړوند ليکني/ څېړني شتون نه درلود، ځکه نو دې موضوع دا اړتيا رامنځ ته کړل چي په دې اړه څېړنه وسي، ترڅو بېکاري د جرايمو د يو بنسټيز لامل په توګه تثبيت او په کندهار کي يې د جرايمو پر زياتوالي د اغېز کچه معلومه سي او هغه پوښتني چي په کندهار کي د جرايمو په زياتوالي کي د بېکارۍ د اغېز اړوند له خلکو سره شتون لري په اړه يې واضح جوابونه ترلاسه سي. بناءً، په دې څېړنه کي د ترلاسه سوي لومړني لاس ډاټا په مرسته و موندل سول چي په کندهار کي د نورو عواملو ترڅنګ بېکاري هم د جرايمو يو بنسټيز لامل دئ چي عموماً د ټولو جرايمو، خو په ځانګړي ډول د سرقت د جرم پر زياتوالي يې ډېر اغېز کړی دئ.

## مواد او ميتودونه (Materials & Methods)

دا يوه مختلطه (کمي او کيفي)څېړنه ده چي د ١٤٠٠ل. کال له مېزان څخه تر حوت پوري د شپږو مياشتو په ترڅ کي د کندهار په ښار کي د جرايمو په زياتوالي کي د بېکارۍ اغېز په هکله تر سره سوې ده. په دې څېړنه کي د کندهار ښار له هغو اوسېدونکو څخه چي عمرونه يې تر (١٨) کلونو زيات وو، د تصادفي نمونه ټولوني مېتود په اساس (١٥٠) کسان د نمونې په توګه ټاکل سوي او پوښتنليکونه ورته وېشل سوي. ياد پوښتنليک څوارلس د (هو – نه، څو جوابه، او خلاصي) پوښتني لرلې. د پوښتنليکو په مرسته راټوله سوي ډاټا د Ms Excel پروګرام په مرسته تحليل او په جدولونو کي ترتيب سوي ده. سربېره پردې، ددې څېړني په دوران کي د څېړني حقوقي او اخلاقي اړخونو ته ځانګړې توجه سوې ده.

## نتایج (Results)

د پوښتنلیک لمړی برخه د جواب ویونکو اړوند معلوماتو ته ځانګړې سوې وه، چي د هغه له مخي د پوښتنلیک د جوابوونکو د ځانګړتیاوو په اړه په لاندي جدول کي معلومات لیکل سوي دي.

لومړی جدول: د جواب ویونکو ټولنیز معلومات (نمونه=۱۵۰)

Table 1: Social Demographic characteristics of the respondents (n=150)

| د متحول نوم (Variable) | تعداد (Frequency) | فیصدي (Percentage %) |
|---|---|---|
| **جنسیت** | | |
| نارینه | ۱۲۲ | ۸۱ ٪ |
| ښځینه | ۲۸ | ۱۹ ٪ |
| **مدني حالت** | | |
| متاهل | ۱۰۵ | ۷۰ ٪ |
| مجرد | ۴۵ | ۲۷ ٪ |
| **عمر / سن** | | |
| ۱۸ – ۲۵ | ۸۴ | ۵٦ ٪ |
| ۲۵ – ۴۰ | ۵۳ | ۳۵ ٪ |
| ۴۰ – ٦۵ | ۱۲ | ۸ ٪ |
| > ٦۵ | ۱ | ۱ ٪ |

د پوښتنلیک دوهمه برخه د څېړني اړوند پوښتنو ته ځانګړی سوې وه، چي خوارلس (هو – نه، څو جوابه، او خلاصي) پوښتني یې لرلې چي په لاندي ډول تحلیل او په ګرافونو کي ترتیب او تنظیم سوي دي:

دوهم جدول: زده کړه

| جواب | شمېر | فیصدي |
|---|---|---|
| هو | ۱۳۸ | ۹۲ ٪ |
| نه | ۱۲ | ۸ ٪ |
| مجموعه | ۱۵۰ | ۱۰۰ ٪ |

دریيم جدول: زده کړییزي کچې

| جواب | شمېر | فیصدي |
|---|---|---|
| ابتدائیه | ٦ | ٤،٣٤ ٪ |
| ١٢ پاس | ٤٦ | ٣٣ ٪ |
| ١۴ پاس | ٢١ | ١٥ ٪ |
| لیسانس | ٦٢ | ٤٥ ٪ |
| ماستر | ٢ | ١،٥ ٪ |
| دوکتور | ١ | ٠،٧٢٪ |
| مجموعه | ١٣٨ | ٪١٠٠ |

څلورم جدول: د زده کړې نه کولو عوامل

| جواب | شمېر | فیصدي |
|---|---|---|
| کورنی ستونزي | ٢ | ١٦،٦٦ ٪ |
| ټولنیز محدودیتونه | ١ | ٨،٣٣ ٪ |
| امنیتي ستونزي | ٣ | ٢٥ ٪ |
| اقتصادي ستونزي | ٦ | ٥٠ ٪ |
| مجموعه | ١٢ | ٪١٠٠ |

پنځم جدول: کار یا دنده

| جواب | شمېر | فیصدي |
|---|---|---|
| هو | ٧٠ | ٤٦،٦٦ ٪ |
| نه | ٨٠ | ٥٣،٣٣ ٪ |
| مجموعه | ١٥٠ | ١٠٠ ٪ |

شپږم جدول: د بېکارۍ عوامل

| جواب | شمېر | فیصدي |
|---|---|---|
| بېسوادي | ٧ | ٨،٦٤ ٪ |
| د تعلیمي کچې کموالی | ٦ | ٧،٤٠ ٪ |
| نا امني | ١١ | ١٣،٥٨ ٪ |
| اقتصادي کمزورتیا | ٢٤ | ٦٢ ،٢٩ ٪ |
| په دولتي اداراتو کې د فساد شتون | ١١ | ١٣،٥٨ ٪ |
| د نظام او تشکیلاتو تغیر | ٢٢ | ٢٧،١٦ ٪ |
| مجموعه | ٨١ | ٪١٠٠ |

اووم جدول: د دندو ځايونه او سکتورونه

| جواب | شمېر | فيصدي |
|---|---|---|
| دولتي سکتور | ۳ | ۴،۳۴ |
| خصوصي سکتور | ۱۳ | ۱۸،۸۴ |
| شخصي کاروبار | ۴۶ | ٦٦،٦٦ |
| روزانه | ۷ | ۱۰،۱۴ |
| مجموعه | ٦۹ | ۱۰۰٪ |

اتم جدول: ايا تر اوسه بېکاره سوي ياست؟

| جواب | شمېر | فيصدي |
|---|---|---|
| هو | ۱۱۴ | ۷٦ |
| نه | ۳٦ | ۲۴ |
| مجموعه | ۱۵۰ | ۱۰۰٪ |

نهم جدول: پر انفرادي او کورني ژوند او ټولنيزو اړيکو د بېکارۍ بد/ منفي اغېز

| جواب | شمېر | فيصدي |
|---|---|---|
| ډېر اغېز يې کړی دئ | ۹۲ | ۸۱ |
| لږ اغېز يې کړی دئ | ۲۰ | ۱۷ |
| اغېز يې نه دی کړئ | ۲ | ۲ |
| مجموعه | ۱۱۴ | ۱۰۰٪ |

لسم جدول: د بېکارۍ له امله د جرم ارتکاب

| جواب | شمېر | فيصدي |
|---|---|---|
| هو | ۱۴۰ | ۹۳،۳۳ |
| نه | ۱۰ | ٦،٦٦ |
| مجموعه | ۱۵۰ | ۱۰۰٪ |

**د بېلابېلو ارتکاب سويو جرايمو ډولونه:** ۱- د ځان وژني هڅه کول. ۲- کوڅه ډبتوب او ولګردي کول.۳- له خپل کور څخه غلا او له خلکو څخه په زوره د شيانو اخيستلو هڅه کول. ۴- تشويش او په پايله کي يې کورني جنجالونه او جګړې کول. ۵- ترافيکي حادثې. ٦- د مخدره موادو استعمالول.

یوولسم جدول: د داسي چاپېڼدل چي د بېکارۍ له امله د جرایمو مرتکب سوي

| جواب | شمېر | فیصدي |
|---|---|---|
| هو | ۱۲٦ | ۸۴ |
| نه | ۲۴ | ۱٦ |
| مجموعه | ۱۵۰ | ۱۰۰ ٪ |

دوولسم جدول: د ارتکاب سویو جرایمو د کمیت او کیفیت څرنګوالی

| جواب | د انتخابونو شمېر | فیصدي |
|---|---|---|
| اخطار (تهدید په قتل یا تجاوز | ۸ | ۲،۷۸ |
| سرقت | ۸۷ | ۳۰،۳۱ |
| اختطاف | ۲۳ | ۸ |
| ځان وژنه | ۲۵ | ۸،۷۱ |
| د مخدره موادو استعمال یا قاچاق | ٦۱ | ۲۱،۲۵ |
| اخلاقي فساد او جنسي جرایم | ۲۴ | ۸،۳٦ |
| ولګردي او کوڅه ډبتوب | ۵۹ | ۲۰،۵۵ |
| مجموعه | ۲۸۷ | ۱۰۰ ٪ |

دیارلسم جدول: په کندهار کي د بېکارۍ اصلي لامل

| جواب | د انتخابونو شمېر | فیصدي |
|---|---|---|
| د تعلیمي کچي کموالی | ۸۳ | ۱٦،۹۷ |
| په دولتي ادارو کي د بېسواده او غیر مسلکي اشخاصو ګمارنه | ۱۰۹ | ۲۲،۲۹ |
| په دولتي اداراتو کي فساد (تبعیض، واسطه بازي ...) | ٦۷ | ۱۳،۷۰ |
| د نظام او تشکیلاتو تغیر | ۹۹ | ۲۰،۲۴ |
| له هیواد څخه د مسلکي بشري قوې قرار | ۵۲ | ۱۰،٦۳ |
| د دولت له لوري د مناسبو کاري پالیسیو نه شتون او نه تطبیق | ۷۹ | ۱٦،۱۵ |
| مجموعه | ۴۸۹ | ۱۰۰ ٪ |

**څوارلسم جدول: د جرايمو پر ډېروالي د بېکارۍ د ډېروالي اغېز**

| جواب | شمېر | فيصدي |
| --- | --- | --- |
| زيات اغېز لري | ۱۲۴ | ۸۲،٦٦ |
| اغېز لري | ۱۳ | ۸،٦٦ |
| لږ اغېز لري | ٦ | ۴ |
| اغېز نه لري | ۷ | ۴،٦٦ |
| مجموعه | ۱۵۰ | ۱۰۰ ٪ |

دلته د (زيات اغېز لري) مورد تر ټولو زيات انتخاب سوی دئ چي دا د دې ښکارندوی دئ چي په کندهارۍ ټولنه کي د بېکارۍ په زياتوالي سره د بېلا بېلو جرايمو د ارتکاب کچه ډېره سوې او لا د ډېرېدو په حال کي ده.

**پنځلسم جدول: په کندهار کي د بېکارۍ په زياتوالي سره د ډېرو سويو جرايمو څرنګوالی**

| جواب | د انتخابونو شمېر | فيصدي |
| --- | --- | --- |
| ځان وژنه (خودکُشي) | ۴۹ | ٦،۱۳ ٪ |
| قتل | ۵۴ | ٦،۷۵ ٪ |
| اخطار/ تهديد په قتل يا تجاوز | ۳۴ | ۴،۲۵ ٪ |
| ضرب او جرح (وهل او ټکول) | ۵۷ | ۷،۱۳ ٪ |
| فريبکاري | ۷۵ | ۹،۳۸ ٪ |
| اخلاقي فساد او جنسي جرايم | ۵۵ | ٦،۸۸ ٪ |
| اختطاف | ۷۱ | ۸،۸۸ ٪ |
| سرقت (غلا) | ۱۲۸ | ۲۳،۵۲ ٪ |
| د مخدره موادو استعمال يا قاچاق | ٦۷ | ۲۰،۹۰ ٪ |
| د عامه او خصوصي ملکيتونو غصب | ۳۵ | ۴،۳۸ ٪ |
| ولګردي يا بې ځايه ناسته ولاړه | ۸۵ | ۱۰،٦۳ ٪ |
| سوالګري (چي فقر يې ځانته د کسب په توګه غوره کړی وي) | ۸۹ | ۱۱،۱۳ ٪ |
| مجموعه | ۷۹۹ | ۱۰۰ ٪ |

په پورتنۍ پوښتنه کي (۸) مورد (سرقت او غلا) تر ټولو زيات انتخاب سوی دئ چي دا د دې ښکارندوی دئ چي د بېکارۍ په زياتوالي سره عموماً د ټولو، خو په ځانګړي توګه د سرقت/ غلا جرم ارتکاب ډېر سوی دئ. همدا راز په دوهم قدم کي (۱۲) مورد ډېر انتخاب هم د دې ښکارندوی دئ چي په کندهارۍ ټولنه کي اوس هم د پخوا په څېر غربت او فقر حاکم دئ چي له امله يې د ټولني خلک د بېلا بېلو جرايمو په ارتکاب لاس پوري کوي.

شپاړسم جدول: د جرایمو په کنټرول کې د بېکارۍ د له منځه وړلو اغېز

| جواب | د انتخابونو شمېر | فیصدي |
|---|---|---|
| 100% | ۵۹ | ۳۱،۵۵ ٪ |
| 75% | ۹۹ | ۵۲،۹۴ ٪ |
| 50% | ۱۴ | ۷،۴۸ ٪ |
| 25% | ٦ | ۳،۲۰ ٪ |
| مجموعه | ۱۸۷ | ۱۰۰ ٪ |

د پورتنیو پوښتنو ترڅنګ په پوښتنلیک کې دوې خلاصې پوښتنې هم راوړل سوې وې ترڅو افراد په آزاد ډول د جرایمو د زیاتوالي د عامل په توګه د بېکارۍ او د بېکارۍ په لمنځه وړلو او د جرایمو په کنټرول کې د دولت د مسؤلیتونو اړوند خپل نظرونه شریک کړي چې زیاترو یې خپل نظرونه داسي لیکلي ول.

**ستاسو په نظر ولي بېکاري د جرایمو د ارتکاب سبب کېږي؟**

دې پوښتني ته ټولو (۱۵۰) کسانو جواب ویلی دئ، خو د ټولو دلایل تر ډېره حده سره ورته او مترادف دي چې ځیني یې عبارت دي له: د عقیدې کمزوري، کورني مسؤلیتونه، د اولاد نفقه برابرول، اقتصادي ستونزي، د نرخونو لوړېدل، په اداراتو کي تبعیضي چلند چي له امله یې ډېر خلک بېکاره سوي دي او د بېلا بېلو جرایمو ارتکاب ته یې مخه کړې ده. بېکاري غربت او فقر منځ ته راوړي او غربت بیا انسان د جرایمو ارتکاب ته مجبوره کوي. په ټولنه کې هر انسان بېلا بېلي اړتیاوي لري؛ نو که یې د مشروع لارو پوره نه کړي، د غیر مشروع کارونو د ترسره کولو اقدام کوي. کله چي انسان بېکاره سي، نو د بدو خلکو سره ناسته ولاړه کوي چي دا کار خپله د جرایمو تر ټولو ستر لامل کېدای سي. د تعلیمي کچي د کموالي له امله ډېری خلک ښه او بد، حلال او حرام نه سي تفکیک کولای، نو د جرایمو مرتکب کېږي. ذهني فشارونه، غلط فکرونه او د مسؤلیت احساس نه کول او داسي نور هغه عوامل دي چي په شکل د اشکالو د جرایمو ارتکاب ته زمینه مساعدوي.

**د بېکارۍ په له منځه وړلو او د جرایمو په مخنیوي کې د دولت مسؤلیت څه دئ؟**

دې پوښتني ته له ټولو (۱۵۰) کسانو  څخه ۱۴۰ کسانو جواب ویلی دئ. چي د بېکارۍ په له منځه وړلو او د جرایمو په مخنیوي کې یې د دولت د مسؤلیت اړوند ځیني وړاندیزونه کړي دي چي عبارت دي له: دولت دي کاري فرصتونه ایجاد کړي او فابریکې دي جوړي کړي ترڅو بېکاره خلک پر کار سي. همدا راز کار دي و اهل کار ته و سپاري، د قومیت پر بنسټ باید ګمارني ونه کړي. دولت دي د ټولني خلکو ته عامه پوهاوی ورکړي او د جرایمو په فردي او ټولنیزو زیانونو او د دنیا او اخرت په عذابونو دي یې پوه کړي. خلکو ته دي هراړخیز امنیت او نظم تأمین کړي. د اقتصادي رشد له پاره دي مناسبي طرحي جوړي کړي.  په بازار او خصوصي سکتور کي دي مداخله وکړي. د صادراتو د زیات والي له پاره دي له مختلفو تګلارو څخه کار واخلي. د ځوانانو له پاره دي مناسب تفریحي چاپیریال را منځ ته کړي. سربېره پردې، دولت باید انکشافي پروژې تطبیق او د کندهار ښار عمومي بریښنا جوړه کړي او هم دي د هر اړخیز مالي، اداري او اخلاقي فساد پر وړاندي جدي مبارزه وکړي.

## مباحثه/ مناقشه (Discussion)

د دې څېړني په پای کې ویلای سو، هغه پوښتني چي د بېکاری او جرم د پېژندني او په کندهار کي د جرایمو په زیاتوالي کي د بېکارۍ د اغېز اړوند د کندهارۍ ټولني له خلکو سره موجودي وې، د دې څېړني په مرسته تر ډېره جواب سوي دي. په کندهار کي د بېکارۍ په زیاتېدو سره عموماً د جرایمو او په ځانگړي ډول د سرقت د جرم د ارتکاب کچه زیاته ښودل سوې ده. ددې څېړني په مرسته سره په کندهار کي د بېکارۍ د زیاتوالي عوامل هم څېړل سوي او د څېړني پایلو وښوده چي په کندهار کي په دولتي ادارو کي د بېسواده او غیر مسلکي اشخاصو گمارل او په دولتي تشکیلاتو او سیستم کي تغیر یې بنسټیز عوامل وو. د دې تر څنگ دا هم معلومه سوه د بېکارۍ له منځه وړل به تقریباً تر (۷۵٪) پوري د جرایمو په مخنیوي او کنټرول کي مرسته وکړي. دغه څېړنه یو شمېر محدودیتونه هم لري لکه د نمونې کمه اندازه او د پوښتلیکونو ترڅنگ د مرکو نه ترسره کول . د دې څېړني د ترسره کولو پر مهال ځیني ستونزي او خنډونه هم موجود ول لکه، د څېړني او د هغه د اهمیت په هکله په ټولنه کي د عامه پوهاوي نه شتون، د پوښتنلیکونو په جوابولو کي د خلکو نه لېوالتیا، د وخت کموالی او د اداري او تدریسي کارونو د حجم زیاتوالی او داسي نور.

## پایله (Conclusion)

د پورتني څېړني په پای کي دې پایلي ته رسېږو چي، کله چي شخص په ټولنه کي د کار کولو توانایي او د کار له پاره لازم قدرت ولري، مگر د کار کولو یا پیدا کولو فرصت په لاس نه ورځي، دې حالت ته بېکاري ویل کېږي. او جرم بیا د هغه عمل کول دي چي د اسلامي شریعت یا جزا قانون له خوا منع سوی وي او په مقابل کي یې جزا تعینه سوې وي یا هم د هغه عمل نه کول دي چي د اسلامي شریعت او یا جزا قانون له خوا د هغه په کولو حکم سوی وي او په مقابل کي یې جزا تعین سوې وي. جرایم بېلا بېل عوامل لري چي یو یې هم بېکاري ده. د بېکارۍ کچه د جرایمو په زیاتوالي او کموالي کي بنسټیز رول لري. د دې څېړني موخي دا وې چي د نورو عواملو تر څنگ بېکاري هم د جرم د یو عامل په توگه پېژندل سوې وي او په کندهار کي د جرایمو په زیاتوالي کي د بېکارۍ اغېز کچه واضح سوې وي چي تر ډېره حده یادو موخو ته رسېدلي یو. یعني؛ د دې څېړني په مرسته واضح سوې چي په کندهار کي د بېکارۍ په زیاتېدو سره عموماً د جرایمو او په ځانگړي ډول د سرقت د جرم د ارتکاب کچه هم زیاته سوې. همداراز، په کندهار کي د بېکارۍ د زیاتوالي عوامل هم څېړل سول او د څېړني پایلو وښوده چي په کندهار کي په دولتي ادارو کي د بېسواده او غیر مسلکي اشخاصو گمارل او په دولتي تشکیلاتو او سیستم کي تغیر یې بنسټیز عوامل وو.

**وړاندیزونه:** دولت باید په ټولنه کي د بېکارۍ مخنیوی وکړي او په بېلا بېلو برخو کي کاري فرصتونه ایجاد کړي. دا چي کار د افرادو بنسټیز حق دي، نو د ټولني ټولو افرادو ته مساوي کاري فرصتونه ایجاد سي او له هر راز تبعیض څخه مخنیوی وسي. دولت، علمي او ښوونیز مؤسسات او علماء کرام باید د ټولني خلکو ته عامه پوهاوی ورکړي. په راتلونکو څېړنو او سروې گانو کي دي د نمونې زیاته اندازه وټاکل سي، د پوښتنلیک ترڅنگ دي د مرکې میتود هم وکارول سي او د جرایمو د بېلابېلو ډولونو پرتله اییزه مطالعه وسي.

## ماخذونه (References)

اساسي قانون (۱۳۸۲ل). ۸۱۸ ګڼه رسمي جریده. ۴۸ ماده.

اڅکزی، عبدالرحمن، (۱۴۰۰ل.) جزا عمومي حقوق، لومړی ټوک، څېړندوی ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه – کندهار، ٦٥ مخ.

آزادۍ راډیو، ۱/۲/۱۳۹٦ل. (بېکاري در افغانستان؛ عوامل وراه کار های حکومت) – مرکز مطالعات ستراتیژیک و منطقوي. da.azadiradio.com

دانش، حفیظ الله (۱۳۹۵ل.) جزا عمومي حقوق، لومړی ټوک، مستقبل څېړندویه ټولنه کابل ۴۵ مخ.

صافی، هجرت الله، کریمنالوژي (۱۳۹٦ل). ګودر څېړندویه ټولنه – ننګرهار، ۱۴۳- ۱۴۵م م.

فاروقي، نور انور، بشري حقوق(۱۳۹۸ل). مسلم څېړندویه ټولنه- ننګرهار، ۲۲۷م.

کار قانون (۱۳۸۵ل). ۹۱۴ ګڼه رسمي جریده. ۲ ماده.

کندهار مرکزي تجارتي لیسه، ٦/۵/۲۰۱۷م. (عوامل اصلي فقر در افغانستان).

زاه، محمد اکبر، (۱۳۹۷ل)جرم او د هغه ډولونه، څېړونکي د دوامداره مسلکي پراختیا د ملاتړ پروګرام – IDLO، ۴ مخ.

Arezzo News ، ۲۰۲۱/ جنوري/ ۱۱م. تداوم نبردها در کندهار ۸۰ درصدر باشنده های این ولایت بېکار اند.

# The Effect of Unemployment on the Level of Crimes in Kandahar

Abdul Rahman Achakzai
Lecturer of the Faculty of Law and Political Science
abdulrahmanachakzai2019@gmail.com
Phone: 0704782018

## Abstract

When a person has the ability to work in society but does not get the opportunity to do any job, this situation is called unemployment. The crime is the action which is prohibited by the Islamic Sharia and Penal law and against which the punishment has been determined. Crimes have different factors, one of which is unemployment. The level of unemployment has a fundamental role in the increasing and decreasing of crimes. Unfortunately, today in Afghanistan and especially in Kandahar province, the unemployment rate is increasing due to various reasons such as changes in the governmental system, existence of illiteracy, lack of regular programs from the government and etc which pave the way for crimes and led the society towards chaos, disorder and isolation. This study was conducted to find out the effects of unemployment on the increase of crimes level in Kandahar. In this research primary data was collected through questionnaire and secondary data was collected from liberary and official records. 150 citizends of Kandahar province were selected randomly and the data was collected from them through 150 questionnaires. As a result of this research, it is clear that with the increase of unemployment in Kandahar, the level of crimes became higher especially the robbery crime. Also, the results of the research showed that the recruitment of illiterate and unprofessional people in governmental posts in Kandahar and the change of governmental system were other main factors which caused crimes. Finnally, it is also known that the elimination of unemployment will help to prevent and control crimes up to 75%.

**Keywords:** unemployment, crime, impact

# د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو له خدماتو څخه د زده‌کوونکو رضايت

خدای نور شريف زی
د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د حقوقو څانګې استاد
۰۷۸۲۹۱۵۷۴۶
sharifzai788@gmail.com

**لنډيز**

خصوصي مکاتب د (١٣٨٦ هـ ش) کال راهيسې په افغانستان کې فعاليت کوي او ټولنې ته تعليمي خدمات وړاندې کوي. د دې ډول مکاتبو فعاليت دا ښکارندويي کوي، چې خصوصي سکتور د تعليم د ترويج په برخه کې هم خورا زيات رول لوبولی دئ. دغه مکاتب چې شمېر يې زرګونو ته رسيږي او اکثره يې د هيواد په ښاري سيمو کې فعاليت کوي؛ د دې ادعا درلودونکي دي چې ټولنې ته غوره او باکيفيته تعليمي خدمات وړاندې کوي او د همدې لپاره په ګڼ شمېر اعلاناتو هم لاس پورې کوي، تر څو د خلکو توجه راجلب او خلک دې ته واداره کړي، چې خپل اولادونه د زده کړو په موخه خصوصي مکاتبو ته واستوي. په کندهار ښار کښې هم ګڼ شمېر خصوصي مکاتب فعاليت کوي، چې د غوره تعليمي خدماتو د وړاندې کولو ادعا هم لري. خو دا چې د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو خدمات څومره باکيفيته او زده کوونکي ور څخه په کومه کچه راضي دي؟ په دې اړوند کوم دقيق معلومات شتون نه درلود. همدې تشې ته په کتو سره دغه څېړنه په لاره واچول سوه، تر څو د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو له خدماتو څخه د زده‌کوونکو د رضايت کچه معلومه کړي. دا يوه کمي څېړنه ده چې د ترتيبي نمونې ټولونې له مخې ۱۵۰ تنه زده کوونکي پکښې ټاکل سوي دي. ډاټا د پوښتنليکونو په وسيله راټوله سوې او وروسته د MS Exel په واسطه تحليل سوې ده. د تحليل په نتيجه کې معلومه سوه چې د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو د تعليمي چاپېريال، د مکتب د تجهيزاتو، د استادانو له برخورد، ميتود او د کارمندانو له برخورد څخه زده‌کوونکي په زياته کچه راضي دي او په اکثره پوښتنليکونو کې ډېرې زياتې نمرې ورکول سوي دي. البته د ځينو زده‌کوونکو رضايت په متوسطه کچه او ډېرو کمو زده‌کوونکو خپل رضايت په ټيټه کچه ښودلی دئ، چې دا په خپله د دې ښکارنديي کوي، چې په کندهار ښار کې د خصوصي مکاتبو د تعليمي خدماتو له اکثره برخو څخه شاګردان په عموم کې په زياته کچه راضي دي.

**کليدي کلمات:** خصوصي مکاتب، تعليمي خدمات، رضايت، کندهار ښار

## پېژندنه (Introduction)

له یوې خوا تعلیم د اسلامي شریعت پر اساس د انسان له بنسټیزو حقوقو څخه ګڼل کیږي، او له بلې خوا تعلیم او تحصیل د هرې ټولنې د پرمختګ اساسي عامل او پرته له دې څخه د یوې ټولنې پرمختګ له واقعیت څخه ډېر لیرې ښکاري. الله تعالی فرمايي: « لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاً مِّنْ أَنفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ» (آل عمران، ایت۱۶۴). ژباړه، الله تعالی په خپلو بنده ګانو احسان وکړ، چې هغوی ته یې پیغمبر د خپل وجود او نفس ( د انسان له ذاته ) ورته راواستوه تر څو د الله آیتونه او نښانې دوی ته بیان کړي، تر څو هغوی پاک سي او هغوی ته کتاب او حکمت ور وښايي، په داسې حال کې چې مخکې له دې څخه دوی ښکاره په ګمراهۍ کې وو. همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: « طلب العلم فريضه على كل مسلم » یعنې د علم زده کړه پر هر مسلمان نارینه او ښځینه باندې فرض دی.

پر دې اساس د نړۍ په اکثره هیوادونو کې د دولت له اساسي وظایفو او موخو څخه یو هم خپلو اتباعو ته د تعلیم د زمینې برابرول دي. په افغانستان کې هم د دولت له اساسي وظایفو او موخو څخه یوه یې خپلو اتباعو ته د تعلیم د زمینې برابرول دي. همدې موخې ته د رسیدو لپاره د افغانستان په شمول د نړۍ ټولو دولتونو ګڼ شمېر دولتي او خصوصي علمي مراکز تاسیس کړي دي، تر څو له دې لارې خپلې ټولنې د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسوي.

زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې هم د مختلفو نظامونو د اساسي قوانینو پر اساس تعلیم د هر افغان اساسي حق ګڼل سوی او تر څنګ یې دولت په دې مکلف ګرځول سوی؛ تر څو خپلو اتباعو ته د تعلیم او تربیې زمینه برابره کړي. د افغانستان د ( ۱۳۰۳ هـ ش ) کال اساسي قانون په ۱۴ –مه ماده، د ( ۱۳۰۹ هـ ش ) کال اساسي قانون په ۲۰ـ مه ماده، د ( ۱۳۴۳ هـ ش ) کال اساسي قانون په ۳۴ـ ماده او بالاخره د ( ۱۳۸۲ هـ ش) اساسي قانون په ۴۳ـ مه ماده او د ( ۱۳۸۷ هـ ش ) کال د پوهنې د قانون په دریمه ماده کې تعلیم د هر افغان بنسټیز حق ګڼل سوی دئ.

د دې لپاره چې د افغانستان اتباع له دغه بنسټیز حق څخه برخمن سي، نو په مختلفو دورو کې د هیواد په مختلفو سیمو کې بېلابېل تعلیمي مراکز ایجاد سوي دي. په وروستیو کلونو کې د تعلیم د لا ترویج په موخه، خصوصي سکتور هم د هیواد په اکثره ښارونو کې د پوهنې د قانون د ۱۱ـ مادې پر اساس ګڼ شمېر تعلیمي مراکز او مکاتب ایجاد کړي، چې د اړوندو لوایحو پر اساس خپل فعالیتونه تنظیموي. په افغانستان کې تر (۳۳۰۰ ) بابه پورې خصوصي مکاتب فعالیت کوي، چې اکثره د هیواد په ښاري سیمو کې فعال دي. کندهار هم چې د افغانستان د تاریخي او فرهنګي ښارونو څخه ګڼل کیږي؛ په وروستیو کلونو کې پکښې د هیواد د نورو ښارونو په شان د تعلیم د ترویج او ټولنې ته د غوره تعلیمي خدماتو د وړاندې کولو په موخه زیات شمېر خصوصي مکاتب تأسیس سوي دي. د کندهار د پوهنې ریاست د معلوماتو پر اساس په کندهار ښار کې تر اوسه پورې په (۷۰) بابه خصوصي مکاتبو کې د (۵۰۰) څخه زیاتو ښوونکو له لوړي تر اوولس زره او پنځه سوه (۱۷۵۰۰) پورې زده کوونکو ته ښوونه او روزنه ورکول کیږي. په ښوونکو کې تر (۱۵۰) پورې ښځینه او زده کوونکو کې تر (۳۳۰۰) پورې ښځینه زده‌کوونکي شامل دي. په کندهار ښار کښې د خصوصي مکاتبو د خدماتو کیفیت د دولتي مکاتبو په نسبت لوړ ګڼل کیږي، خو دا چې خلک د دغو خدماتو څخه په کومه کچه رضایت لري؟ کوم دقیق معلومات او یا یوه مشخصه څېړنه شتون نه درلود. نو

د دې لپاره اړينه وه چې په دې برخه کې يوه څېړنه وسي، تر څو په کندهار ښار کې د خصوصي مکاتبو د خدماتو څخه د خلکو د رضايت د کچې د معلو مولو ترڅنګ په ټولنه کې د تعليم په ترويج کې د هغوی رول تر يوه حده معلوم سي. همدې موخي ته د رسېدو لپاره دا څېړنه تر سره سوې ده، تر څو په کندهار ښار کې د خصوصي مکاتبو له خدماتو څخه د خلکو د رضايت کچه معلومه سي. د څېړني د تر سره کولو په نتيجه کې مو د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو له خدماتو څخه د خلکو د رضايت کچه معلومه کړې ده چې د نتايج په برخه کې به وړاندي سي. د يادوني وړ ده، چې د دغه څېړني د لاسم وضاحت په خاطر د ځينو مفاهيمو پېژندنه اړينه بولو لکه: ښوونه او روزنه، د ښووني او روزني نظام او خصوصي مکاتب.

**ښوونه او روزنه:** ښوونه د ورزده کولو او وريادولو په معنا ده او پالنه يا روزنه د ودي ورکولو او آدابو او اخلاقو ورزده کولو مفهوم ورکوي. زموږ په فرهنګ او کلتور کې ښوونه او روزنه له تربيې سره مرادفه ده او اوږده تاريخچه لري. د ښووني او روزني اصطلاح چې (Education) سره سمون لري، په حقيقت کې د هماغه تربيې په معنا ده. اما معمولاً داسي تعبيرېږي، چې ښوونه او روزنه يو له بل څخه جلا دي؛ په دې معنا چې ښوونه يا ورزده کول زده کوونکو ته د ځانګړو موضوعګانو او مهارتونو ورښودل او روزنه يا تربيه د ديني او اخلاقي او داسي نورو چارو ورښودل دي. د ځينو په باور تربيه د هغه عمل څخه عبارت ده، چې بالغ نسلونه يې پر هغو نسلونو ترسره کوي چې لا تراوسه د ټولنيز ژوندانه بلوغ ته نه وي رسيدلي (شايق، ۱۴۰۰). يا تربيه؛ بدني، رواني، ټولنيز، فرهنګي، اقتصادي، ديني، سياسي، هر اړخيز، هميشني، هدف لرونکی او مسئولانه تغيير دئ. يا په بل عبارت تربيه؛ په معنوي، اخلاقي، ټولنيز، عاطفي او عقلاني اړخ کې د وګړو لارښوونه ده. د تربيې له ذکر سوو معناوو او تعريفونو څخه داسي معلوميږي، چې ښوونه او روزنه (تعليم او تربيه) يو داسي مفهوم دئ چې د دوو لفظونو په قالب کې اداء کيږي او د تربيې (پالني) کلمه داسي جامع کلمه ده چې د ښووني او روزني د علماوو د تاييد وړ ګرځيدلي ده (شايق، ۱۴۰۰).

**د ښووني او روزني نظام:** هغه نظام دئ، چې د ټولني د رسمي بنسټونو، مؤسسو او سازمانونو نمونه او بېلګه وي او د فرهنګ د انتقال، غوړيدنه او د وګړي د پالني او د پوهي او متخصصيـ انساني پياوړتيا پالنه په غاړه لري. د ښووني او روزني د نظام ارزښت په دې کې دئ، چې نن ورځ په هيوادونو کې د ټولنيزو تغيراتو د اړتياوو پر بنسټ يو له ټولنيزو، لويو او پېچلو سازمانو څخه ګڼل کيږي او د ټولنيزي، فرهنګي او اقتصادي ودي او پراختيا سره نه بېليدونکي اړيکي لري او په تدريجي توګه يې له يوه ساده ابتدايي حالت څخه يوه پېچلي حالت ته تغير موندلی دئ. د دې نظام حاصل او ثمره له يوه لوري څخه په سالمو، وده او نمو کوونکو انسانانو باندي د استعداد لرونکو انسانانو تبديلول دي او له بل لوري په بېلابيلو فرهنګي، ټولنيزو او اقتصادي برخو کې د انساني اړتياوو تأمينول دي. همدي ارزښت ته په کتو سره په اوسنۍ زمانه کې ټول هيوادونه ښووني او روزني ته مخه کول خپله اساسي دنده ګڼي او ان جبري يې بولي او په اساسي قوانينو کي يې لوړ مقام ورکړی دئ (شايق، ۱۴۰۰).

**خصوصي مکاتب:** د تعليمي خدماتو د وړاندي کولو بنسټونه دي، چې د خصوصي سکتور له لوري خپلي چاري پر مخ وړي. د تعليم په ترويج کې مهم رول اداکوي، چې په زياتو هيوادونو کې د دولتي مکاتبو تر څنګ فعاليت کوي. په افغانستان کي هم خصوصي مکاتب فعاليت کوي، چې شمېر يې (۳۳۰۰) بابو ته رسيږي، چې په دې برخه کې لومړنۍ خصوصي مکتب د « رياض » په نامه دئ، چې په هرات ولايت کې يې په ( ۱۳۸٦ هـ ش ) کال کې خپل فعاليت پيل

کېږي دئ. د خصوصي مکاتبو د چارو د تنظیم په موخه په افغانستان کې په ( ۱۳۹۵ هـ ش) کال کې د معارف وزارت په چوکاټ کې یو ریاست د « خصوصي مکاتبو ریاست » په نامه فعالیت پیل کړ. د دې ترڅنګ د خصوصي مکاتبو د چارو د ښه تنظیم په موخه یوه مقرره او ګڼ شمېر طرزالعملونه هم وضع سوي دي لکه د خصوصي ښوونیزو مؤسسو مقرره، د خصوصي ښوونیزو کورسونو لایحه، د خصوصي ښوونیزو مؤسسو د ثبت او جواز د صادرولو طرزالعمل، د خصوصي ښوونیزو مؤسسو د تدریسي- شخړو د هوارولو د کمیسون کړنلاره، د خصوصي ښوونیزو مؤسسو د جواز د تثبیت، حق الشمول او حق الاجرت د ټاکلو کړنلاره.

### د څېړني ستونزه (Research Problem)

څرنګه چي خصوصي مکاتب د تعلیم د ترویج په برخه کي ټولني ته غوره تعلیمي خدمات وړاندي کوي. خو په دې برخه کي ځیني ستونزي موجودي دي او ددې ادعا د صحت معلومول هم اړین دي چي ویل کیږي، خصوصي مکاتب یوازي د ګټي د لاسته راوړلو لپاره ایجادیږي او کیفیت ته په کي پاملرنه نه کیږي، د ځینو مکاتبو له لوري د بشپړ معیاري تعلیمي چاپېریال نه برابروالی، د استادانو له لوري د شاګردانو حاضري او نور زده کړه اییز کارونه په سمه توګه نه تعقیبول او داسي نور. د پورتنیو ادعاوو موجودیت د شاګردانو د سمي زده کړي په مخ کي لوی خنډ جوړیدلای سي او د زده‌کوونکو پر رضایت باندي ژور اغېز لري. ذکر سوي ستونزي د دې ایجاب کوي، چي د څېړنو په تر سره کولو سره دکندهار ښار د خصوصي مکاتبو د خدماتو څخه د زده‌کوونکو د رضایت کچه معلومه سي او د یوې باکیفیته او ګټوري څېړني په شکل ټولني ته د پورتنیو ادعاګانو د درستوالي یا ناسموالیي په اړه معلومات وړاندي سي.

### د څېړني اهمیت (Significance of the study)

تعلیم چي د ټولني د پرمختګ له بنسټیزو عواملو څخه ګڼل کیږي؛ په همدې موخه د افغانستان په اکثره ښارونو کي د دولتي مکاتبو تر څنګ ګڼ شمېر خصوصي مکاتب هم د تعلیم د ترویج په برخه کي خپل رول لري. په کندهار ښار کي هم د نورو ښارونو په شان ګڼ شمېر خصوصي مکاتب ټولني ته د خدمت په موخه فعالیت کوي. خو دا چي خصوصي مکاتب د خلکو اولادونو ته په کوم کیفیت زده کړي ورکوي او زده‌کوونکي ورڅخه په کومه کچه راضي دي؟ همدارنګه کومي ستونزي سته چي د زده‌کوونکو پر رضایت یې اغېز اچولی؟ دغه ستونزي په کومو لارو له منځه وړل کېدای سي؟ دا او دې ته ورته د نورو مهمو موضوعاتو په هکله اړتیا ده چي په دې برخه کي څېړني وسي او ټولني ته دقیق معلومات وړاندي سي. مونږ هم د موضوع دې اهمیت ته په کتو سره ذکر سوي څېړني ته ملا وتړله، تر څو په کندهار ښار کي د خصوصي مکاتبو له خدماتو څخه د زده‌کوونکو د رضایت کچه معلومه او هغه خنډونه چي د زده‌کوونکو پر رضایت یې اغیز اچولی په ښه او د له منځه وړلو لپاره یې لازمي حل لاري پیدا کړو. د دغه څېړني په ترسره کولو سره به له یوې خوا د خصوصي مکاتبو د کیفیت اړوند دقیق معلومات تر لاسه سوي وي او له بلي خوا څخه به خصوصي مکاتبو ته د هغوی د کیفیت د ښه والي لپاره مؤثر فکتورونه ور په ګوته سوي وي، تر څو هغو ته په پام سره د خپلو خدماتو کیفیت نور هم لوړ او په دې سره د خلکو توجه لا زیاته راجلب کړای سي.

### څېړني موخي (Research Objectives)

۱- په کندهار ښار کي د خصوصي مکاتبو د تعلیمي خدماتو څخه د شاګردانو د رضایت کچي معلومول.

۲- د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو له لوري د تعلیمي خدماتو د وړاندي کولو په برخه کي د شته نیمګړتیاوو پیژندل.

### د څېړني پوښتنه (Research Question)

د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو له خدماتو څخه زده‌کوونې تر کومي کچي راضي دي؟

### د څېړني فرضیه (Research Hypothesis)

داسي برېښي، چي د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو له خدماتو څخه زده‌کوونکي تر زياتي کچي پوري راضي دي.

## د څېړني اړوند پخوانيو آثارو ته کتنه (Literature Review)

د ذکر سوي موضوع په هکله تر اوسه داسي کومه ځانګړې څېړنه نه ده تر سره سوې، تر څو د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو د خدماتو څخه د زده‌کوونکو د رضايت کچه معلومه کړي. مګر بيا هم د خصوصي مکاتبو او تعليم په اړه ځيني معلومات د لاندي منابعو څخه تر لاسه سوي دي.

ايراني ليکوالانو ( فخرالسادات هاشميان، هادي زنديان او جواد آقا محمدي ) د ( فصلنامه سياست هاى راهبردي وکلان) په نوم يوه مجله کي په ( ۱۳/ ۱۱ / ۱۳۹۴ هـ ش ) نېټه د ( تحليل مشارکت بخش خصوصي در نظام اموزش و پرورش) تر عنوان لاندي يوه مقاله خپره کړې ده، چي په هغه کي د تعليمي نظام د خصوصي کولو په عواملو او خنډونو بحث سوی دئ. خو په پای کي دې نتيجې ته رسيدلي چي د دوی د څېړني له مخي د تعليم په برخه کي د عامه او خصوصي سکتور مشارکت د ايران په شمول ګڼو هيوادونو کي ګټور تمام سوی دئ. مګر دا يې نه ده واضح کړې چي په يوه هيواد يا ښار کي د خصوصي مکاتبو څخه خلک څه ډول راضي کيدلای سي.

د پوهني وزارت په ويب پاڼه کي رونا مسعودي د (نظرى بر فعاليت هاى مؤسسات تعليمي خصوصي در روشنى قانون معارف) تر عنوان لاندي ليکنه خپره کړې ده، چي په هغه کي د خصوصي مکاتبو په ايجاد او د هغوی پر فعاليتونو د نظارت په هکله بحث سوی دئ او ټينګار سوی، چي په خصوصي مکاتبو باندي جدي نظارت کولای سي، چي د تعليمي خدماتو کيفيت لوړ کړي. مګر د خصوصي مکاتبو د خدماتو څخه د خلکو د رضايت په اړه يې کوم بحث نه دئ کړی.

همدارنګه په دې هکله د ځينو رسنيو د راپورونو څخه هم يو څه معلومات تر لاسه سوي، چي په لاندي ډول ورته اشاره کيږي. DW په خپله ويبپاڼه کي د ۲۰۱۴م کال د مى په دويمه نېټه د (آيا مکاتب خصوصي تعليم و تربيه را طبقاتي مى کنند) تر عنوان لاندي يو مطلب خپور کړی دئ، چي په هغه کي د دولتي مکاتبو په نسبت د خصوصي مکاتبو د کيفيت د ښه والي په هکله بحث سوی دئ. خو تر څنګ يې دا يادونه هم سوې ده چي دغه ډول باکيفيته زده کړې د مالدارو خلکو په لاس کي دي او دا يې د تعليم د طبقاتي کولو لامل ګڼلی دئ.

BBC فارسي په ۲۰۱۱ م کال کي د سپتمبر په ۸-مه نېټه د (آموزش خصوصى در افغانستان؛ اميدها و چالش ها) تر عنوان لاندي د عبدالله شفايي په لاس يو راپور خپور کړی، چي په هغه کي د خصوصي مکاتبو پر ورانـدي د سته ستونزو او ننګونو اړوند بحث سوی دئ، چي په دغه راپور کي د دولتي ادارو له لوري همکاري نه کول او د والدينو له لوري د لازمي پاملرني نشتون مهمي ننګوني ګڼل سوي دي.

په پورته ذکر سوو لیکنو او سرچینو کي د خصوصي مکاتبو د فعالیت، نظارت، مؤثریت او د هغوی پر وړاندي د خنډونو په هکله بحث سوی دئ، اما په واضح توګه د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو د خدماتو څخه د خلکو د رضایت د کچي په هکله څه نه دي بیان سوي.

## مواد او میتودونه (Materials & Methods)

دا یوه کمي څېړنه ده، چي په کندهار ښار کي تقریباً د (۱۴۰۰هـ ش) کال د پنځو(عقرب- حوت) میاشتو په جریان کي په میداني شکل د خصوصي مکاتبو زده کوونکو ته د پوښتنلیکونو د ویشلو له لاري ترسره سوې ده. پوښتنلیکونه د شاګردانو له لوري ځواب سوي چي په دې سره د خصوصي مکاتبو د خدماتو په هکله کافي ډېټا راټوله سوې ده. په دغه څېړنه کي نفوس د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو زده کوونکي ټاکل سوي دي. د تصادفي نمونه ګیری پر اساس (۱۵) مکاتب انتخاب سوي، چي د ټولو مکاتبو (۲۱٪) برخه تشکیلوي. هر مکتب ته د لسو په تعداد پوښتنلیکونه وېشل سوي دي، چي ټول (۱۵۰) پوښتنلیکونه د مختلفو ټولګیو د نارینه او ښځینه زده کوونکو له خوا جواب سوي دي. د پوښتنلیکونو د جوابېدو په اړه د ښوونځیو د مسؤلینو څخه اجازه اخیستل سوې او هم زده کوونکو ته د پوښتنلیک د جوابېدو په اړه لارښووني سوي دي. ډاټا د هغه پوښتنلیک له لاري راټوله سوې، کوم چي په ترتیب سره د پوهنځي او پوهنتون د څېړني کمیټو د ارزوني څخه وروسته د تائید وړ ګرځیدلی دئ. راټوله سوې ډاټا د (MS.Excel) په واسطه تحلیل سوې ده.

## نتایج (Results)


د پوښتنلیک لمړۍ برخه د جواب ویونکو اړوند معلوماتو ته ځانګړې سوې ده، چي د هغه له مخي د پوښتنلیک د جوابوونکو د ځانګړتیاوو په اړه په لاندي جدول کي معلومات لیکل سوي دي.

**لومړی جدول: د جواب ویونکو ټولنیز معلومات**

**Table 1: Social Demographic characteristics of the respondents**


| د متحول نوم (Variable) | تعداد (Frequency) | فیصدي (Percentage %) |
|---|---|---|
| **جنسیت** | | |
| نارینه | ۱۰۷ | ۸۴ |
| ښځینه | ۲۱ | ۱٦ |
| **مدني حالت** | | |
| مجرد | ۹۰ | ۷۹ |
| متاهل | ۲۴ | ۲۱ |
| **عمر / سن** | | |
| ۱۸> | ۴۲ | ۴۸ |
| ۱۹ – ۲۵ | ۵۲ | ۳۹ |
| ۲٦ < | ۱۴ | ۱۳ |

لومړۍ پوښتنه په مکتب کې د تعلیمي چاپېریال د وضعیت په اړه سوې ده چې په پنځلس (۱۵) مکاتبو کې د (۱۵۰) تنو شاګردانو له جملې څخه (۹۳) تنو ډېرښه، (۴۰) تنو ښه، (۱۵) تنو متوسط او (۲) تنو ضعیف ښودلی دئ، دا د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو له تعلیمي چاپېریال څخه د شاګردانو د رضایت د ډېرې لوړې کچې ښکارندویي کوي.





(۱ــ چارټ)

دویمه پوښتنه څو جوابه ووه چې په مکتب کې د اسانتیاوو او تجهیزاتو اړوند سوې ده. دغه پوښتنې ته (۱۵۰) تنو شاګردانو له جملې څخه (۱۲۹) تنو جواب ویلی دئ، چې په لاندې اخدماتو کې (۱۷) ځلې کتابتون، (۴۲) ځلې لابراتوار، (٦٨) ځلې کمپیوټر لېب، (۱۲) ځلې برېښنا، (۴۴) ځلې لوبغالی، (۹) ځلې تشنابونه او لومړني روغتیایي اسانتیاوې (۲۷) ځلې انتخاب سوی دی. چې دا په خپله د دې ښکارندویي کوي، چې د اکثره مکاتبو له لوري د شاګردانو لپاره، ذکر سوي اسانتیاوې او خدمات اماده سوي دي او د کمو مکاتبو له لوري ځینې یې نه دي برابر سوي. په لاندې (۲-چارټ) کې د زده کوونکو ټاکنې ښودل کیږي.





(۲ــ چارټ)

دریېمه پوښتنه هم څو جوابه وه چې د معلمانو له خوا د زده‌کوونکو درسي مشکلاتو ته د رسیدګي او حلېدو په اړه سوې ده چې (۱۴٦) تنو زده‌کوونکو له خوا جواب سوې ده. په جوابونو کي (۷۱) تنو ډېر زيات، (۴٦) تنو زيات، (۲۵) تنو متوسط او (۴) تنو ضعيف برخي انتخاب کړي دي؛ چې دا دې ښکارندويي کوي، چې د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو معلمان د خپلو شاګردانو سره د هغوی د درسي مشکلاتو په حلولو کي په لوړه کچه همکاري کوي.





(۳ــ چارټ)

څلورمه پوښتنه د معلمانو له خوا په ټولګي کي د درسي اهداف د بیانولو په اړه سوې وه چې (۷۷) تنو ډېر ښه، (۵۰) تنو ښه، (۲۱) تنو متوسط او يوازې (۲) تنو کمزوری بللی وو؛ چې دا د دې ښکارندويي کوي، چې د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو معلمان خپلو شاګردانو ته له تدريس څخه مخکي د درس اهداف بیانوي چې دا کړنه د زده کوونکو پر فعالیت او زده کړو خورا مثبت اثر کوي.





(۴ــ چارټ)

پنځمه پوښتنه د معلمانو د تدریس د میتودونو څخه د زده‌کوونکو د راضیت په اړه سوې ده، چې (۹۱ ) تنو ډېر زیات، (۳۵ ) تنو زیات، (۱۷) تنو متوسط او (۵) تنو کم رضایت ښودلی دئ. له دې څخه څرګندېږي چې د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو د معلمانو د تدریس له میتودونو څخه اکثریت شاګردان راضي دي.





(۵ــ چارټ)

شپږمه پوښتنه په دې اړه پوښتل سوې ده چې د زده‌کوونکو والدین په مکتب کې جوړو سوو غونډو ته خومره بلل سوي دي؟ د ټولو زده‌کوونکو څخه (۴۴) تنو ویلي چې ډېر زیات، (۵۳) تنو ویلي چې زیات، (۳) تنو ویلي چې کله نا کله او (۲۰) تنو زده‌کوونکو ویلي چې د هغوی والدین ډېر کم جوړو سوو غونډو ته دعوت سوې دي.





(٦ــ چارټ)

اوومه پوښتنه په دې اړه پوښتل سوې ده چې د زده‌کوونکو والدین د هغوی د اولادونو د مشکلاتو د حل په موخه مکتب ته څومره مراجعه کړې ده؟ د ټولو زده‌کوونکو له جملې څخه (۵٦) تنو ویلي چې ډېر زیات، (۴۱) تنو ویلي چې زیات، (۳۴) تنو ویلي چې کله نا کله او (۱۸) تنو ویلي چې د هغوی والدین یې مکتب ته ډېر کم مراجعه کوي.




(۷ــ چارټ)


اتمه پوښتنه د زده‌کوونکو سره د ښوونځی د معلمانو او نورو کارمندانو د برخورد په اړه سوې ده، (۷۲) تنو زده‌کوونکو ویلي چې د هغو سره یې رویه ډېره ښه ده، (۵۱) تنو ویلي چې ښه ده، (۲۲) تنو ویلي متوسطه او یوازې (۴) زده‌کوونکي ویلي چې د هغوی سره یې رویه کمزورې ده. چې دا په خپله د دې ښکارندویي کوي، چې د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو د معلمانو او کارمندانو له برخورد څخه اکثریت شاګردان راضي دي.




( ۸ ــ چارټ)

نهمه پوښتنه د مکتب د استادانو د حاضري اړوند سوې وه چې هغوی د حاضرۍ څومره پابند دي، چې د لاندې نهم چارټ څخه جوتیږي چې (۹۷) تنو ډېر زیات، (۲۹) تنو زیات، (۱۹) تنو متوسط او (۵) تنو کم تاکلې چې دا په خپله د دې ښکارندويي کوي چې د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو اکثریت استادان خپلې حاضرۍ ته پابند دي. د استادانو منظمه حاضري په خپله پر تعلیمي کیفیت مثبت اغېز کوي.


**حاضرۍ ته د استادانو پابندي**




( ۹ ــ چارټ)


لسمه پوښتنه په دې موخه سوې تر څو معلومه کړي چې د استادانو له خوا د زده‌کوونکو صنفي فعالیتونه او کورنۍ دندې په څومره کچه ارزیابي کیږي. لکه څرنګه چې په چارټ کې معلومیږي (۸۲) تنو زده‌کوونکو ډېر زیات، (۴۴) تنو زیات، (۱۹) تنو متوسط او (۵) تنو کم انتخاب کړی دئ. دا د دې ښکارندويي کوي، چې د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو اکثریت استادان د خپلو شاګردانو صنفي فعالیتونه او کورنۍ دندې دوامداره ارزیابي کوي.

**د استادانو له خوا د زده‌کوونکو کورني کارونه کتنه**




(۱۰ ــ چارټ)

یوولسمه پوښتنه په دې اړه سوې ده چې په مجموع کې د خصوصي مکتب له خدماتو څخه د زده‌کوونکو رضایت معلوم کړي. د زده کوونکو له جملې (٦٧) تنو زده کوونکو سل فیصده رضایت ښولی دئ، (٦٠) تنو پنځه اویا فیصده، (١٦ ) تنو پنځوس فیصده او (٧) تنو چې ډېره کمه شمېره ده پنځه ویشت فیصده رضایت ښولی دئ.




(١١ ــ چارټ)

د پوښتنلیک په آخیر کې یوه خلاصه پوښتنه راوړل سوې وه ترڅو زده کوونکي په آزاد ډول د خصوصي مکاتبو د خدماتو د کیفیت د ښه والي په اړه خپل وړاندیزونه ولیکي؛ چې اکثریت زده‌کوونکو په لاندې ډول خپل وړاندیزونه لیکلي دي: د لوبو میدانونه دې برابر سي. کورسونه او نور علمي پروګرامونه دې دایر سي. د پوهنې د وزارت له لوري دې د خصوصي مکاتبو ښه څارنه وسي. د مکاتبو اداري دې د زده‌کوونکو مشکلاتو ته پر وخت رسیده ګي وکړي. فیسونه دې راکم کړل سي. یتیمانو او ډیرو بې وزله کسانو ته دې فیسونه معاف سي. د امتحانو څخه وروسته دې د آرام په خاطر رخصتي راکړل سي. هر کال دې د استادانو ارزیابي وسي. د زده کوونکو درسونه دې وکتل سي، چې څومره ښه والی په کې راغلی دئ. د زده‌کوونکو ترمنځ دې بېلابېلي سیالۍ په لاره واچول سي. د ټرانسپورت اسانتیاوې دې راته برابرې سي. هغه مکتبونه چې ابتدائیه او متوسطه دي د هغو یو شمېر زده‌کوونکو غوښتنه کړې ده چې ښوونځی یې تر دولسم ټولګي سي.

## مباحثه/ مناقشه (Discussion)

په مکاتبو کې د باکیفته زده کړو لپاره د داسي مناسب تعلیمي چاپېریال شتون یو اړین امر ګڼل کیږي، چې په هغه کې د شاګردانو مهارتونه او ظرفیتونه لوړ او یو له بل سره د هغوی متقابل برخورد او روش ښه والی پیدا کړي. له همدې کبله د خصوصي مکاتبو تعلیمي چاپېریال د زده‌کوونکو په رضایت باندې هم ژور اغېز ښندلی سي، ځکه که یو مکتب هر څومره ښه تعلیمي چاپېریال ولري، په هماغه اندازه به زده‌کوونکي هم ور څخه راضي وي. د دې څېړنې د نتایجو څخه معلومېږي چې د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو له تعلیمي چاپېریال څخه شاګردان په ډېره لوړه کچه راضي دي.

د مکتب تجهيزات چې د شاګردانو د پرمختګ لپاره غوره زمينه برابرولی سي د تعليم او تربيې له ضروري او مخکښو شرطونو څخه ګڼل کيږي، چې بايد مکاتب هغه آماده کړي. د منظم درسي چاپيريال شتون چې په هغه کې مېز، چوکۍ، کتابتون، لابراتوار، کمپيوټرلېب، د ښباک پاکي اوبه، د بحث اطاق، لوبغالي، مجهز کلينکونه، مجهز او پاک تشنابونه د يو مکتب له ضروري تجهيزاتو او اړتياوو څخه ګڼل کيږي. په پورته دوهم چارټ کې معلومه سول چې د دغو تجهيزاتو د اکثره برخو څخه زده‌کوونکو رضايت ښودلی دئ. اما په مکاتبو کې د برېښنا، کتابتون او مجهز تشنابو کمښت هغه آسانتياوي وې چې اکثريت زده‌کوونکو کمزوي بللي ول.

د معلمانو له لوري د شاګردانو درسي مشکلاتو ته پر وخت رسيده ګي کول؛ پرته له شکه د شاګردانو د زده‌کړي د ښه والي په برخه کې لوی بدلون راوستلی سي او شاګردانو ته د درس د سمي زده کړي لپاره د انګېزې ورکولو زمينه برابرولی سي. لکه څرنګه چې په تېر درېيم چارټ کې معلومېږي چې زيات شمېر زده‌کوونکي په دې اړه رضايت لري او ويلي يې دي چې استادان د دوی درسي مشکلاتو ته پر وخت رسيدګي کوي.

د معلمانو د تدريس ميتود هم په مکاتبو کې د شاګردانو د سمي زده کړي او رشد لپاره له مهمو او کليدي موضوعاتو څخه ګڼل کيږي. نو ځکه بايد د مکاتبو معلمان د شاګردانو د سمي زده کړي په موخه مختلف تدريسي- ميتودونه په لاره واچوي. په دې برخه کي هم زيات زده‌کوونکي د استادانو له تدريسي ميتودونو څخه خوښ ول.

د څېړني له موندنو څخه معلومه سول چې د زده‌کوونکو سره استادان ښه چلند کوي او هم دا معلومه سول چې د خصوصي مکاتبو مسؤلين وخت پر وخت د زده‌کوونکو د والدينو سره د هغوی د زده‌کړو د ښه والي په موخه غونډې کوي چې دا کړنه د زده‌کوونکو پر درسونو اغېزمن مثبت تاثير کوي. سربېره پردې، د استادانو منظمه حاضري او په منظمه توګه د استادانو له خوا د زده کوونکو د کورني کارونو ارزيابي کول هغه څه وه چې زياتو زده کوونکو يې په اړه رضايت درلود.

که پورته ذکر سوو ټکو ته په غور سره پام وکړو، نو معلومېږي چې ددغه څېړني په نتيجه کې معلومېږي چې په مجموع کې د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو له خدماتو څخه زيات شمېر زده‌کوونکي راضي دي. البته د ځينو زده‌کوونکو رضايت په متوسطه کچه او ډېر کم شمېر زده‌کوونکو په ټيټه کچه رضايت ښودلی وو.

د څېړني پر مهال يو شمېر تهديدونه او محدويتونه هم ول چې يو شمېر يې په دې ډول دي: د ځينو مکاتبو له لوري د لازمي همکارۍ نه شتون چې مونږ مجبور سو، تر څو د هغه پر ځای بل مکتب د نمونې په ډول وټاکو. د کډونوالو کمه علاقه ښودل، چې حتی ځيني پو ښتنليکونه تر وېشلو وروسته مياشتي وخت ونيوه، چې مونږ ته بيرته راوسپارل سول.

## پایله (Conclusion)

ذکر سوي څېړنه د دې لپاره په لاره اچول سوې ده، تر څو د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو له خدماتو څخه د زده‌کوونکو د رضایت کچه معلومه سي. د څېړني د راټولو سوو معلوماتو له تحلیل څخه وروسته دې پایلي ته رسیږو، چي په مجموع کي د کندهار ښار د خصوصي مکاتبو له خدماتو څخه زده‌کوونکي په زیاته کچه راضي دي. په دغو خدماتو کي د غوره تعلیمي چاپیریال، مکتب د تجهیزاتو ( کتابتون، بریښنا، کمپیوټر لیب....)، د معلمانو له لوري د شاګردانو د درسي مشکلاتو د رسیده ګۍ څرنګوالی، په ټولګي کي د معلمانو تدریسي- میتود، د والدینو په اداري شورا ګانو کي د والدینو ګډون، د مکتب د معلمانو او کارمندانو د برخورد طرز، د استادانو حاضري، د صنفي فعالیتونو د ارزیابۍ له ټولو برخو څخه د زده‌کوونکو زیات شمېر یې رضایت ښودلی دئ. د دې تر څنګ د ځینو خلکو رضایت به متوسطه کچه کي وو، چي د هغو لامل د خصوصي مکاتبو له لوري د ځینو تجهیزاتو نه برابرول لکه لوبغالی، کمپیوټرلېب او داسي نور ګڼل کیږي. د زده‌کوونکو د رضایت د کچي دغه لوړالی د دې ښکارندويي کوي، چي د کندهار ښار اکثره خصوصي مکاتب غوره او باکیفیته تعلیمي خدمات ټولني ته وړاندي کوي. البته د دې څېړني د معلوماتو پر اساس ځیني داسي خصوصي مکاتب هم سته، چي د تعلیمي خدماتو د کیفیت کچه یې متوسطه یا ټیټه ده، چي په هغو کي هم یوازي د تجهیزاتو او سانتیاو کمښت اصلي لامل ګڼل کیږي. خو په عموم کي کندهار ښار د خصوصي مکاتبو له خدماتو څخه د زده‌کوونکو د رضایت کچه لوړه ده او دا د ټولني لپاره په خاص ډول د تعلیمي خصوصي سکتور له پاره یو ښه حالت ګڼل کیږي.

**وړاندیزونه:** په دغه څېړنه کي ډاټا د پوښتنلیکونو له لاري راټوله سوې ده؛ که په راتلونکي کي په دې اړه کومه څېړنه کیږي، که چیري د پوښتنلیکونو ترڅنګ د مشاهدې میتود هم وکارول سي ډېر به مؤثر وي. دا څېړنه یوازي د خصوصي مکاتبو په شاګردانو تر سره سوې ده، که په راتلونکو څېړنو کي دي دولتي مکاتب هم په څېړنه کي شامل کړل سي. د خصوصي مکاتبو لپاره یو شمېر وړاندیزونه لرو، چي په لاندي ډول دي: خصوصي مکاتب دي وړ او مسلکي استادان انتخاب کړي، ترڅو په ریښتیني ډول باکیفیته خدمات وړاندي کړای سي. د خپلو استادانو په امتیازاتو کي زیاتوالی راولي، تر څو د هغوی ژوند بهبود پیدا کړي او د ستونزو د کموالي په نتیجه کي یې خپلي دندي ته توجه لا زیاته سي، چي دا خپله د تعلیم په کیفیت غوره اغیزه کولی سي. د استادانو د ظرفیت لوړوني په موخه لازم پروګرامونه دایرول، تر څو د هغوی ظرفیت لوړ او باالاخره د تعلیمي کیفیت په لوړوالي کي مهم رول ادا کړای سي. په صنفونو کي د شاګردانو تعداد معیاري کول، تر څو د شاګردانو ښوونه او روزنه په سمه توګه تر سره کړای سي. د پوهني ریاست ته دا وړاندیز کیږي، چي د کندهار ښار په خصوصي مکاتبو باندي هر اړخیز نظارت زیات کړي، تر څو په دې برخه کي د سوء استفادي مخه نیول سوې وي. په پای کي د کندهار ښار عامو خلکو ته وړاندیز کیږي؛ چي د خصوصي مکاتبو سره پوره همکاري ته چمتو واوسي، له هغو مکاتبو سره، چي د دوی اولادونه په کي زده کړي کوي همیشه په تماس کي وي، تر څو ستونزو ته په وخت رسیده ګي سوې وي.

## ماخذونه (References)


1) قرآن كريم.

2) هاشميان، فخرالسادات، هادي زنديان، جواد اقا محمدي( ۱۳۹۴ هـ ش ). تحليل مشاركت بخش خصوصي در نظام اموزش و پرورش، فصلنامه سياست هاى راهبردى و كلان، جلد دوازدهم.

3) شايق، ګل آقا ، پوهني وزارت سايټ. د ښووني او روزني د نظام په هكله كلي مفهوم او هدفونه يي، (٦/ ۵ / ۱۴۰۰ هـ ش).

4) د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت اساسي قانون(۱۳۸۲ل). ۸۱۸ رسمي جريده.

5) د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د پوهني قانون (۱۳۸۷ ل). ۹۵۵ رسمي جريده.

6) د افغانستان د دولت اساسي نظامنامه ( ۱۳۰۵ هـ ش ). ماده ۱۴.

7) د افغانستان د دولت اساسي اصول ( ۱۳۳۰ هـ ش ). ماده ۲۰.

8) د افغانستان اساسي قانون( ۱۳۴۳ هـ ش ). ماده ۳۴، ۱۲ رسمي جريده.

9) https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2011/09/110908_as_art_2sep.amp)

10) https://amp.dw.com/faaf/%D8%A2%DB%8C%D8%A7%D9%85%DA%A9%D8%A7%D8%AA%D8%A8D8%AE%D8%B5%D9%88%D8%B5%DB%8C-%D8%AA%D8%B9%D9%84%DB%8C%D9%85--D9%88D8%AA%D8%B1%D8%A8%DB%8C%D9%87-D8%B1%D8%A7D8%B7%D8%A8%D9%82%D8%A7%D8%AA%DB%8C%D9%85%DB%8C%DA%A9%D9%86%D9%86%D8%AF/a-17609113%)

# Students’ Satisfaction of Services Provided by Private Schools in Kandahar City

Khudaay Noor Sharifzai
Lecturer of Law and Political Science Faculty
sharifzai788@gmail.com
0782915746

## Abstract

Private schools have been operating in Afghanistan since 1386 and they provide educational services to the community. The activity of such schools shows that the private educational sector has played a key role in the promotion of education. The number provate schools reaches to thousands, most of them locate in the urban areas of the country. The owners of those schools claim that they provide the best quality education services to the society. Their services quality was not evident and students’ satisfication level was not clear. This study was conductied to find out the level of satisfaction of students from the services of private schools in Kandahar city. This study is based on quantitative research design. 150 students were selected through systematic random sampling method. The data was collected by questionnaires and later analyzed by Ms Excel programe. As a result of the analysis, it was found that students are highly satisfied from the services provided by private schools in Kandahar city. Besides, the satisfaction level of some students is in medium level and very few students have shown their satisfaction at a low level. Finally, the high satisfication of students shows that private schools are in good situation and they have key role in the promotion of community.

**Keywords:** education, private schools, students’ satisfication

# د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د طب پوهنځي په محصلانو کښي د خوب کیفیت

ډاکټر احمد شاه عمر (MD,MPH)
د طب پوهنځي رئيس
dr.ahmadshah31@gmail.com
0093700302681

## لنډيز (Abstract)

د نړۍ په سطحه د طبابت د عملي پرکټيس (مشق) په جريان کي چي کله روغتياپالانو په ناروغانو کي د خوب اړوند زيات تشوشات د اعراضو او علايمو په بڼه ثبت کړل نو لازمه وبلل سول چي په دې برخه کي علمي او تحقيقي توجه زياته سي. د دغه علمي سروې هدف دادئ ترڅو د ملالۍ لوړو زده‌کړو مؤسسې د طب پوهنځي په نارينه او ښځينه محصلانو کي د خوب کيفيت، د خوب د تشوشاتو او ګډوډۍ علتونه واضح او مناسبي علمي طريقې تعين سي چي وقوعات يې را کم سي. تر څو په محصلانو کښي د ښه خوب او خراب خوب د کيفيت فرق په اوو (٧) برخو کي معلوم کړي: (د فردي خوب کيفيت، د خوب ځنډ، د خوب اندازه، د عادتي خوب موثريت، د خوب ګډوډي، د خوب د درملو استعمال او په تېره يوه مياشت کي د ورځني کارونو سستوالی). دغه سروي د کندهار ښار د ملالی لوړو زده کړو موسسي د طب پوهنځي د پارا کلينيک او کلينيک څانګو د مختلفو سميسترونو د نارينه او ښځينه محصلانو څخه د ځانګړي پوښتنپاڼي له لاري په cross- sectional سروې ډيزان سره ترسره سوې ده. په دغه سرې کي له ۱۴۴ تنو محصلانو څخه د پوښتنليک په واسطه ډاټا راټوله سوې او د SPSS v.26 په مرسته تحليل سوې ده. ددې سروې د نتايجو څخه دا معلومه سول چي د اکثره محصلانو د خوب کيفيت خراب دئ، هغوی په کافي اندازه خوب نه کوي، د شپې ناوخته بيديږي او سهار وختي پاڅيږي چي په دې سره ئې د خوب تشوشات پر ورځني ژوند او زده‌کړو منفي اغېزې کوي. د دغه ستونزي د حل لپاره هره شپه وختي بيدېدل، د تليفون او کمپيوټر څخه د شپې ترناوخته استفاده نه کول، د خوب د خوني مناسبه رڼا او د تودوخي درجې مناسب ساتل د خوب د کيفيت په ښه کولو کي مرسته کولای سي. ددې ترڅنګ، ددغه ستونزي د حل له پاره دي اړوند تحصيلي او روغتيايي اداري د ځانګړو پاليسيو له مخي لازم اجرآت وکړي.

**کليدي کلمې:** خوب کيفيت، تشوشات، روغتيا، محصلان

## پېژندنه (Introduction)

خوب يو داسي چلند دئ چي د بېهوښه حالت په توګه تعريف سوی دئ او په غير حرکي خوبوړي حالت باندي چي په پټو سترګو وي مشخص کېږي. خوب په ټولو ژونديو موجوداتو کي واقع کېږي، خوب د بيا رغوني يوه داسي پديده ده چي د Synaptic پروسې د ثبات او اعادې له پاره ډېر زيات اهميت لري. خوب ته د ډېر پخوا وختونو څخه د عالمانو توجه سته چي ځينو وظايفو ته يې په لاندي ډول اشاره کړې ده:

۱. يوه دنده يې د انرژۍ ساتنه ده چي د خوب په وخت کي د لږ اکسېجن په مصرف سره په بدن کي لږ انرژي مصرفيږي چي په دماغ کي د (ATP) انرژي د پاته کېدو سبب ګرځي. همدارنګه خوب د ټول وجود پر وده او نمو تاثير لري چي د ودې د هورمون ترشح يې ښه مثال ياديږي.

۲. ښه خوب کول د انسان د حافظې د زياتوالي، د دفاعي سيستم د قوي کېدو او د ډېر وخت له پاره د ژوندي پاته کېدو سبب ګرځي.

۳. د خوب په وخت کي د دماغ او د ويني د دوران ترمنځ ارتباط لا قوي کيږي چي په نتيجه کي د دماغ څخه زهري او مضر مواد (ß amyloids) خارجيږي. دغه د مضر موادو د تخليې سيستم يوازي د خوب په وخت کي صورت نيسي (۱۰).

د عمر په زياتېدو سره په کم او زيات عمر لرونکو کسانو کي د خوب اندازه فرق کوي. په نوو زېږېدلو ماشومانو کي چي عمر يې د ۳۸ څخه تر ۴۸ هفتو پوري وي په يوه شپه او ورځ کي ۱٦ ساعته خوب کوي. څومره چي عمر زياتيږي د خوب اندازه کميږي. زياتره ځوانان د ډول ډول مصروفيتو له امله ټاکلی اندازه خوب چي له ۷ څخه تر ۹ ساعته دئ نه سي پوره کولای. ډېر زيات عمر لرونکو کسانو ته د خوب ډول ډول تشوشات پيداکيږي او په يوه شپه او ورځ کي لږ اندازه خوب کوي.

د مختلفو پوهنتونونو د محصلانو د خوب کيفيت اړوند مطالعات او څېړني سوي دي، دغو مطالعاتو په محصلانو کي د خوب دکيفيت کموالی ښودلي دئ، په خاص ډول د طب پوهنځی د ليسانس برنامې محصلانو کي د خوب کيفيت لا ډېر کم او خراب دئ (۵). کم چي زيات او سخت مضامين او اکاډميک مسؤليتونه ور دغاړي دي، چي دا ټوله د خوب پر کيفيت مشخص تاثيرات لري (۹-٦). د پوهنتون محصلان د خپل اکاډميک محيط د فشار له کبله په درسي او ورځنيو چارو کي يوه اندازه ګډوډي تجربه کوي (۱). کم چي د ځينو عادتونو په واسطه نور هم دا تشوشات زياتيږي لکه د انټرنيټ او ټولنيزو رسنيو سره زيات مصروفيت، تلويزيون کتل (۲). سګرېټ څکول او د الکهولو استعمال، په ټولنه کي عام عادتونه دي (۴). د خوب د کيفيت سموالی د ورزش او تر نصاب بهر فعاليتونو سره تړاو لري (۸). د خوب د کيفيت خرابوالی په مستقيم ډول اکاډميکي کړني متاثره کوي (۴). همداشان احساساتي اړخونه هم لري (٦). موږ د طبي پوهنتونونو د محصلانو د خوب د کيفيت پر اندازه کولو او د تحصيلي دورې په جريان کي د خوب اړوند د مشاهدې او کتني پر اهميت ډېر ټينګار کوو.

### د سروې اهداف (Goals)

۱- د طب پوهنځی د محصلينو د خوب د کيفيت ارزونه کول.

۲- د پاليسي جوړونکو او طب پوهنځی محصلينو سره د خوب د کيفيت اړوند مرسته کول:

- په پوهنتونو کي د خوب د کيفيت اړوند عامه پوهاوي زياتول.
- په محصلانو کي د خوب د کيفيت د تشوشاتو عوامل په ګوته کول.

### فرضيه (Survey Hypothesis)

د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د طب پوهنځي د محصلانو رواني حالت، د هغوی درسي او ټولنيزو فعاليتونو ته په کتو داسي معلوميږي چي د هغوی د خوب کيفيت خراب دئ، چي لوی علت ئې د شپې ناوخته بيدېدل او سهار وختي له خوبه پاڅېدل دي.

### مواد او ميتودونه (Materials & Methods)

دغه سروې د cross-sectional study ډيزاين پر اساس د افغانستان د کندهار ولايت د يوې خصوصي مؤسسې (ملالۍ د لوړو زده‌کړو مؤسسه) د طب پوهنځي د پاراکلينيک او کلينيک ځانګو د ۱۴۴ نارينه او ښځينه محصلينو څخه د ۱۴۰۱ هـ ل کال د دوو (عقرب او قوس) مياشـتو په جريان کي ترسره سـوې ده. د طب پوهنځي څلور سـمسـترونه د سـاده ناټاکلي نمونې اخيسـتني (random sampling) ميتود په مرسته او ۱۴۴ تنه محصلان د ترتيبي نمونې ټولوني (systematic) ميتود په مرسته ټاکل سوي دي. د سروې ډاټا د ځانګړي پو ښتنپاڼي (PSQI) په وا سطه چي د خوب د کيفيت او تشو شاتو يوه نړۍ‌واله منل سوې ارزونکي وسـيله ده، د څېړني عمومي کميټي د مجربو غړو تر کتني او تائيد وروسـته له ۱۴۴ تنو نارينه او ښـځينه محصـلانو څخه چي په سروې کي ئې په خپله خوښـه او رضـاء ګډون کړی وو راټوله سـوې ده. د ياد پوښـتنليک اعتبار د لاندي (اول جدول) له مخي (.703) دئ، او دا ددې ښـودنه کوي چي پوښـتنليک د اعتبار وړ دئ. راټوله سـوې ډاټا د SPSS v. 26 پروګرام ته داخل او وروسته د همدې پروګرام په مرسته د فريکونسي او فيصدي له مخي تحليل سوې ده.

اول جدول: د پوښتنليک اعتبار

Reliability Statistics

| Cronbach's Alpha | N of Items |
|---|---|
| .703 | 19 |

### نتايج (Results)

دغه سروې چي د ملالۍ لوړو زده‌کړو مؤسسې د طب پوهنځي په محصلانو کي د خوب کيفيت په اړه ترسره سوې، چي اول څلور مختلف سمسترونه په ناټاکلي ډول (randomly) ټاکل سوي او له هغه وروسته ۱۴۴ تنه محصلان د ترتيبي نمونې ټولوني ميتود په کارولو سره انتخاب سوي چي ۸۱ تنه نارينه محصلان او ٦٣ تني ئې ښځينه محصلاني دي. دوی څه کم ٦٠ سلنه د کندهار او نور ټول د نورو ولايتو اوسېدونکي دي. ډاټا د پوښتنليکو په واسطه راټوله سوې چي د پورته شمېر ۱۴۴ تنو محصلانو له خوا جواب سوي دي. داچي د پوښتنليکو د جوابولو پر وخت سروې کوونکی حاضر وو او د پوښتنليکو په اړه يې محصلانو ته بشپړ معلومات او لارښوونې ورکړي نو له همدې کبله ميسينګ ډاټا شتون نه لري. ډيموګرافيک معلومات او د څېړني د پوښتنو اړوند راټوله سوې ډاټا د SPSS v. 26 پروګرام په مرسته تحليل سوې ده.

د پوهنتنليک لمړۍ برخه د جواب ويونکو اړوند معلوماتو ته ځانګړې سوې ده، چې د هغه له مخې د پوهنتنليک د جوابوونکو د ځانګړتياوو په اړه په لاندې جدول کې معلومات ليکل سوي دي.

دوهم جدول: د جواب ويونکو ټولنيز معلومات (د نمونې اندازه = ۱۴۴)

Table 1: Social Demographic characteristics of the respondents (n=144)

| د متحول نوم (Variable) | تعداد (Frequency) | فيصدي (Percentage %) |
|---|---|---|
| **عمر** | | |
| ۲۵-۱٦ | 117 | 81.3 |
| ۳۰-۲٦ | 22 | 15.3 |
| ۳۱-۳۵ | 4 | 2.8 |
| له ۳۵ پورته | 1 | 0.7 |
| **جنسيت** | | |
| نارينه | 81 | 56.3 |
| ښځينه | 63 | 43.8 |
| **مدني حالت** | | |
| مجرد | 110 | 76.4 |
| متاهل | 34 | 23.6 |
| **د اوسېدو ځای** | | |
| کور | 118 | 81.9 |
| ليليه | 26 | 18.1 |
| **سمستر** | | |
| اول | 29 | 20.1 |
| پنځم | 54 | 37.5 |
| شپږم | 29 | 20.1 |
| اووم | 32 | 22.2 |
| **په ټولګي کي درجه** | | |
| لوړه | 46 | 31.9 |
| منځنۍ | 89 | 61.8 |
| کښته | 9 | 6.3 |

| | | |
|---|---|---|
| **فزيکي فعاليت/ورزش** | | |
| هو | 72 | 50.0 |
| نه/يا | 72 | 50.0 |
| **د زړه‌کړو ترخنګ وظیفه** | | |
| هو | 46 | 31.9 |
| نه/يا | 98 | 68.1 |
| **د زړه‌کړو ترخنګ د وظیفې ډول** | | |
| روغتيايي | 22 | 48 |
| غير روغتيايي | 24 | 52 |

د پوښتنلیک دوهمه برخه د سروې اړوند څلور جوابه پوښتنو ته ځانګړې سوې وه چې تحلیل یې په لاندې ډول په (دربیم جدول) کې ښودل کیږي.

| پوښتنه | جواب | تعداد | فيصدي |
|---|---|---|---|
| د خوب ځای (بسترې) ته د تللو وخت | 07:00-08:00 PM | 1 | .7 |
| | 09:00-10:00 PM | 44 | 30.6 |
| | 11:00-11:59 PM | 81 | 56.3 |
| | له 12:00 PM وروسته | 18 | 12.5 |
| په بستره کې څومره وخت وروسته تاسو ته خوب درتلی یعني بیدېداست؟ | ۱-۵ دقیقې | 57 | 39.6 |
| | ۱٦-۳۰ دقیقې | 49 | 34.0 |
| | ۳۰-٦۰ دقیقې | 20 | 13.9 |
| | تر یوه ساعت زیات | 18 | 12.5 |
| سهار له خوب څخه د راکښېنستو/راپاڅېدو وخت | 03:00-04:00 AM | 48 | 33.3 |
| | 05:00-06:00 AM | 68 | 47.2 |
| | 07:00-08:00 AM | 21 | 14.6 |
| | 09:00-10:00 AM | 7 | 4.9 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| تاسو په شپه کي په صحیح ډول څو ساعته خوب کوئ؟ | ۵ ساعتونه | 56 | 38.9 |
| | ٦ ساعتونه | 33 | 22.9 |
| | ۷ ساعتونه | 27 | 18.8 |
| | ۸ ساعتونه | 17 | 11.8 |
| | له ۸ ساعتو زیات | 11 | 7.6 |
| په تېره میاشت کي مو د خوب درمل خوړلي دي؟ | په تېره میاشت کي مي نه درلودل | 120 | 83.3 |
| | په یوه هفته کي تر یو ځل کم | 11 | 7.6 |
| | په یوه هفته کي یو یا دوه ځلي | 10 | 6.9 |
| | په یوه هفته کي ۳ ځلې یا تر ۳ اظافه | 3 | 2.1 |
| په تېره میاشت کي چي کله تاسي ټولنیز کارونه کول څومره اندازه مو د ویښتیا په حالت کي ستونزي درلودې، یعني خوب درتلی؟ | په تېره میاشت کي مي نه درلودل | 22 | 15.3 |
| | په یوه هفته کي تر یو ځل کم | 38 | 26.4 |
| | په یوه هفته کي یو یا دوه ځلي | 43 | 29.9 |
| | په یوه هفته کي ۳ ځلې یا تر ۳ اظافه | 41 | 28.5 |
| د کارونو د ترسره کولو په لېوالتیا کي مو څومره ستونزي درلودې؟ | په تېره میاشت کي مي نه درلودل | 28 | 19.4 |
| | په یوه هفته کي تر یو ځل کم | 35 | 24.3 |
| | په یوه هفته کي یو یا دوه ځلي | 37 | 25.7 |
| | په یوه هفته کي ۳ ځلې یا تر ۳ اظافه | 44 | 30.6 |
| د تیري میاشتي په جریان کي په کُلي ډول تاسي خپل خوب څنګه ارزوی؟ | ډېر ښه | 27 | 18.8 |
| | مناسب | 50 | 34.7 |
| | لږ خراب | 47 | 32.6 |
| | ډېر خراب | 20 | 13.9 |


د پورته درېیم جدول د لمړی پوښتني په جواب کي (٥٦,٣) سلنه محصلانو ویلي چي د شپې له خوا د ١١ او ١٢ بجو په منځ کي د خوب بستر ته ځي او د درېیمي پوښتني په جواب کي (٨٥,٥) سلنه محصلان سهار وختي د ٣ او ٦ بجو په منځ کي راویښیږي چي په دې سره معلومیږي چي طب پوهنځي محصلان ناوخته بیدیږي او سهار وختي راویښیږي چي په دې سره دوی په سم ډول پوره خوب نه کوي. د پنځمي پوښتني له جواب څخه معلومیږي چي (١٦,٦) سلنه محصلان د خوب ګولۍ خوري او (٨٣,٣) سلنه محصلان هیڅ د خوب ګولۍ نه خوري. د شپږمي پوښتني له جواب څخه معلومیږي چي زیات شمېر محصلان د مطالعې، ډوډۍ خوړلو یا ټولنیزو کارونو د کولو پرمهال د ویښتیا په حالت کي ستونزي لري او د شپې له خوا د لږ خوب کولو له کبله به د ورځنۍ چارو د اجراء پر وخت خوب ورتلی. د پورته درېیم جدول د آخیرنۍ پوښتني له جواب څخه چي په کُلي ډول په محصلانو کي د خوب

کیفیت په اړه سوې ځرګندیږي چې د (۵۳,۵) سلنه محصلانو د خوب کیفیت ډېرښه او مناسب دئ او د (۴٦,۵) سلنه محصلانو د خوب کیفیت لږ او ډېر خراب ښودل سوی دئ.

**څلورم جدول: د تیري میاشتي په جریان کي د خوب ستونزي، شمېر (فیصدي)**

| په تیره میاشت کي مو په څومره اندازه د خوب ستونزه درلودل؟ | ۱- په تیره میاشت کي مي نه درلودل | ۲- په یوه هفته کي تر یو ځل کم | ۳- په یوه هفته کي یو یا دوه ځلي | ۴- په یوه هفته کي درې ځلي یا تر درو اظافه |
|---|---|---|---|---|
| A: د ۳۰ دقیقو په جریان کي خوب نه راتلی | (30.6) 44 | (12.5) 18 | (23.6) 34 | (33.3) 48 |
| B: د شپې په منځ کي یا سهار وختي راکښېنستم | (34.7) 50 | (27.1) 39 | (23.6) 34 | (13.6) 21 |
| C: تشناب ته د تګ ضرورت مي د خوب څخه راکښېنوي | (58.3) 84 | (22.2) 32 | (13.2) 19 | (6.3) 9 |
| D: په خوب کي صحیح یا ارام تنفس نه سم کولای | (80.6) 116 | (9.0) 13 | (7.6) 11 | (2.8) 4 |
| E: په خوب کي لوړ خرهاری یا ټوخ کوم | (84.7) 122 | (6.9) 10 | (4.9) 7 | (3.5) 5 |
| F: ډېر یخ مي کیدی | (71.5) 103 | (16.7) 24 | (7.6) 11 | (4.2) 6 |
| G: ډېره ګرمي مي کیدل | (46.5) 67 | (16.0) 23 | (19.4) 28 | (18.1) 26 |
| H: بد خوبونه مي لیدل | (52.8) 76 | (24.3) 35 | (13.2) 19 | (9.7) 14 |
| I: درد مي درلودی | (50.7) 73 | (21.5) 31 | (18.1) 26 | (9.0) 13 |

له پورته څلورم جدول څخه معلومیږي چې د A په مورد کي (۳۳,۳) سلنه محصلانو ته په یوه هفته کي تر ۳ ځلي یا له هغه څخه اظافه د ۳۰ دقیقو په جریان کي خوب نه ورتلی. د B په مورد کي (۲۳,٦) سلنه محصلانو ویلي چي دوی په یوه هفته کي یو یا دوه ځلي د شپې په منځ کي له خوبه راپاڅېدل. د H له مورد څخه ځرګندیږي چي (۵۲,۸) سلنه محصلانو د یوې میاشتي په جریان کي بد خوبونه نه لیدل.




اول چارټ

## د سروې قوي او ضعیف نقاط:

**الف: د قوت ټکي:**

۱. د ډاټا راټولولو له پاره ترتیب سوی پوښتنلیک د مجرب استادانو تر کتنې وروسته د اعتبار وړ وګرځېد.

۲. د سروې پر مهال د ډاټا ټولولو په برخه کي ستونزه نه وه، ځکه چي د سروې کوونکو له خوا محصلانو ته بشپړ معلومات ورکول کېدل.

۳. محصلین د ډاټا ټولونکو سره همکاره وه او په خپله خوښه ئې په سروې کي ګډون وکړ.

۴. د طب پوهنځی د اداري کارمندانو او استادانو پوره همکاري د ډاټا ټولولو پروسه آسانه کړل.

۵. ډاټا د اوسني پرمختللي ډاټا تحلیلونکي پروګرام SPSS په واسطه تحلیل سوې ده.

**باء: د ضعف ټکي:**

۱. د سروې له پاره ډاټا په یوه طبي پوهنځی کي را جمع سوې ده.

۲. زیات شمېر محصلانو ته په سروې کي ونډه نه ده ورکول سوې.

## پایله (Conclusion)

دغه سروې ددې هڅه وکړل چي د ملالۍ لوړو زده کړو مؤسسې د طب پوهنځي په محصلانو کي د خوب کیفیت معلوم کړئ. په دې کي هیڅ شک نسته چي د انسان له پاره په کافي اندازه خوب ډېر اړین دئ، ځکه چي د ټولي ورځي د بوختیا او فشارونو له کبله چي د انسان بدن د کومي ستړیا ښکار سوی وي، خوب نه یوازي دغه ستړیا له منځه وړي، بلکي د انسان بدن ته انرژي ورکوي چي د بلي ورځي فعالیتونو او ننګونو ته چمتو سي. که د شپې تر ناوخته بیدار پاتي سي او پوره خوب ونه کړي، امکان لري په بېلابېلو رواني او فزیکي ناروغیو اخته سي.

د سروې موندني ښیي چي د سروې له ګډونوالو څخه د (۱۸,۸) سلنه محصلانو د خوب کیفیت ډېر ښه، د (۳۴,۷) سلنه محصلانو د خوب کیفیت مناسب، د (۳۲,٦) سلنه محصلانو د خوب کیفیت لږ خراب او د (۱۳,۹) سلنه محصلانو د خوب کیفیت ډېر خراب دئ. د پورته فیصدي څخه معلومېږي چي تقریباً د (۵۰٪) محصلانو خوب خراب دئ چي دغه حالت د سروې فرضیه پنځوس سلنه په اثبات رسوي چي پکښي ویل سوي، د ملالۍ لوړو زده‌کړو مؤسسې په محصلانو کي د خوب کیفیت خراب دئ او د ټولو ګډونوالو له جملې څخه (٦۸,۸) سلنه محصلان د شپې له ۱۱ بجو وروسته بیدیږي او (۸۰,۵) سلنه محصلان د سهار له ۳ تر ٦ بجو پوري راویښیږي، چي دا هم د فرضیې پاته برخه په اثبات رسوي چي هلته د محصلانو د خوب د خرابوالي لوی علت د شپې ناوخته بیدېدل او سهار وختي له خوبه راپاڅېدل ښودل سوي دي.

## سپارښتني (Recommendations)

۱- هره شپه وختي بیدېدل، د شپې تر ناوخته د تلیفون او کمپیوټر نه کارول، د خوب مناسب بستر، د خوب د خوني مناسبه رڼا او د تودوخي درجې مناسب ساتل د خوب د کیفیت په ښه کولو کي مرسته کولای سي.

۲- ټول وګړي په خاص ډول محصلان دي په یوه شپه او ورځ کي د ۷ څخه تر ۹ ساعتونو پوري خوب وکړي، ترڅو ښه روغتیا ولري.

۳- خوب راوړونکي درمل دي د ډاکټر د مشورې بغیر نه استعمالوي.

۴- د شپې له خوا دي د زیات خوراک کولو څخه ډډه وسي.

## ماخذونه (References)


1. Benavente SB, Silva RM, Higashi AB, Guido Lde A, Costa AL. Influence of stress factors and socio-demographic characteristics on the sleep quality of nursing students [Article in Portuguese]. Rev Esc Enferm USP. 2014;48 (3):514-20. https://doi.org/10.1590/S0080- 623420140000300018

2. Mesquita G, Reimão R. Quality of sleep among university students: effects of nighttime computer and television use. Arq Neuropsiquiatr. 2010;68(5):720-5. https://doi.org/10.1590/S0004-282X2010000500009

3. Araújo MF, Feritas RW, Lima AC, Pereira DC, Zanetti ML, Damasceno MM. Health indicators associated with poor sleep quality among university students [Article in Portuguese]. Rev Esc Enferm USP. 2014;48(6):1085-92. https://doi.org/10.1590/S0080- 623420140000700017

4. Lemma S, Berhane Y, Worku A, Gelaye B, Williams MA. Good quality sleep is associated with better academic performance among university students in Ethiopia. Sleep Breath. 2014;18(2):257-63. https://doi.org/10.1007/s11325-013-0874-8

5. Preišegolavičiūtė E, Leskauskas D, Adomaitienė V. Associations of quality of sleep with lifestyle factors and profile of studies among Lithuanian students. Medicina (Kaunas). 2010;46(7):482-9.

6. Pagnin D, de Queiroz V, Carvalho YT, Dutra AS, Amaral MB, Queiroz TT. The relation between burnout and sleep disorders in medical students. Acad Psychiatry. 2014;38(4):438-44. https://doi.org/10.1007/s40596-014-0093-z

7. Ribeiro CR, Oliveira SM, Silva YM. The impact of sleep quality in medical education [Article in Portuguese]. Rev Soc Bras Clin Med. 2014;12(1):8-14.

8. Cardoso HC, Bueno FC, Mata JC, Alves AP, Jochims I, Vaz Filho IH, et al. Assessing quality of sleep in medical students [Article in Portuguese]. Rev Bras Educ Med. 2009;33(3):349-55. https://doi.org/10.1590/S0100-55022009000300005

9. Ohayon MM, Carskadon MA, et al. Meta-analysis of quantitative sleep parameters from childhood to old age in healthy individuals: developing normative sleep values across the human lifespan. Sleep 2004;27:1255–1273.

# Sleep Quality in Medical Faculty Students of Malalay Institute of Higher Education

Dr. Ahmad Shah Umar (MD, MPH)

Dean of the Faculty of Medicine

dr.ahmadshah31@gmail.com

0093700302681

## Abstract

During the practice of medicine at the world level, when health professionals confronted more problems related to sleep in patients in the form of signs and symptoms, it was called necessary to increase scientific research attention to this aspect. The purpose of this scientific survey is to clarify the state of sleep quality, sleep disorders and disturbances among male and female students of the Faculty of Medicine of Malalay Institute of Higher Education, and also to point out appropriate scientific methods to reduce the level of these incidences. This survey determines the difference between the quality of good sleep and bad sleep of students in seven aspects: individual sleep quality, sleep latency, sleeping time, habitual sleep efficiency, sleep disturbance, usage of sleep medication and physical laziness during daily activities in the past month. This survey was conducted with a cross-sectional design on male and female students of different semesters of the para-clinic and clinic departments of Malalay Institution of Higher Education in Kandahar city. In this survey, data was collected from 144 students through a questionnaire and analyzed with SPSS v.26. As the result, it was found that the sleep quality of most students is bad, they do not sleep enough. They go to bed late at night and get up early in the morning, which has negative effects on their daily life activities and studies. In order to solve this problem, going to bed early every night, not using the phone and computer until late at night, keeping the proper lighting and temperature in the bedroom can help improve the quality of sleep. In addition, to solve this problem, the related education and health institutions should take necessary actions according to the special policies.

**Keywords:** sleep quality, sleep disorders, health practitioners, students

# د کندهار ښار له خصوصي روغتونو څخه د ناروغانو رضايت

**سروې کوونکي:** روح الله، الله يار، نصير احمد، امين الله، عبدالمحيط، صفيه، ماريا، خالده، زحل، حميده، صالحه او تمنا

د طب پوهنځي محصلان

**لارښود استادان:**

استاد وکيل احمد هيوادمل، د پارا کلنيک ځانګي امر

+93 70 63 400 63

W.hewadmal@gmail.com

ډاکټر محمد ايمل رحيمي، د کلينيک ځانګي امر

+93 700 90 61 16

aimal.rahemi786@gmail.com

**لنډيز**

د ناروغ رضايت يوه نسبي پديده ده، چي د روغتيايي سيستم څخه د ده اړتياوي، صحت او توقعات تظمينوي. ددې سروې هدف د ناروغانو سره د روغتيايي کارکوونکو برخورد، روغتيايي لګښت، صحيح تشخيص، د ډاکټرانو ورتيا او د روغتون ټولو روغتيايي سهولتونو ته په پام سره د سراپا او بستر خدماتو په اړه د ناروغانو د رضايت کچه معلومول دي. دغه سروې د Descriptive cross sectional study په توګه د کندهار ښار په اتوخصوصي روغتونو کي د يوې مياشتي (۱۴۰۱ هـ ل سرطان) کي ترسره سوې ده. د سرطان مياشتي په جريان کي د مراجعه کوونکو ناروغانو څخه ۲۱۵ تنه randomly انتخاب سوي دي او د ټولو څخه ډاټا د پوښتنليک له لاري راټوله سول او د يوې احصايوي بستې SPSS په واسطه تحليل سوه. ډاټا د ارقامو په شکل په جدولونو کي ترتيب سوې او د فريکونسيو او فيصديو په کارولو سره تشريح سوې ده.ددې سروې په نتيجه کي ومونډل سول چي د 215 ناروغانو له جملې څخه په مجموعي ډول (43.7%) 94 د خصوصي روغتونو له طبي خدماتو څخه خوښ او (56.3%) 121 ناروغان ناخوښ ول. د اړوند روغتونو د طبي خدماتو له کيفيت څخه (91.2%) 190 ناروغان خوښ او (7%) 15 ناروغان ناخوښ ول. (53.9%) 116 ناروغانو ويل چي د شخصي روغتونونو د طبي خدماتو لګښت د دوی تر توان لوړ دی او (39%) 84 ناروغانو ويل کولای سو چي روغتيايي لګښتونه يې تمويل کړو. ددې سروې په مرسته جوته سول چي د ناروغانو تر نيم زيات شمېر (56.3%) 121 د خصوصي روغتونو له طبي خدماتو څخه ناخوښه دي. د دې له پاره چي د ناروغانو رضايت زيات سوی وي بايد روغتونونه او روغتيايي کارکوونکي دغه نقاطو(د طبي خدماتو کيفيت، د خدماتو لګښت، د ناروغانو سره چلند او د روغتيايي پرسونل ورتيا) ته د سمون په موخه پوره توجه وکړي.

**کليدي کلمې:** ناروغ، ډاکټر، روغتون، رضايت، روغتيايي خدمات

## پېژندنه

ناروغ هغه څوک دی چې طبي مراقبت یا درملنه تر لاسه کوي او رضایت یې د یوې هیلې یا اړتیا پوره کول دي په مجموع کې د ناروغ رضایت هغه حالت دی چې ناروغان د روغتون له خدماتو څخه د روغتون دننه او بهر دواړو څخه راضي وي. په دې سروې کې هڅه سوې ده تر څو په کندهار کې د موجود روغتونو د روغتیایي خدماتو له کیفیت څخه د ناروغانو د رضایت کچه معلومه او اندازه کړي. د خصوصي روغتونو د طبي خدماتو وړاندي کوونکي مشران، ډاکټران، نرسان او د روغتون نور کارکوونکي ټول په دې آند دي چې د ناروغانو اعظمي رضایت د روغتون د پرمختګ او ځان بسیا کولو له پاره د دوی له مهمو اهدافو څخه دي ځکه نني روغتیایي سازمانونه همېشه هڅه کوي چې ناروغان یې باید د دوی د روغتیایي خدماتو او لاسته راوړنو څخه بشپړ رضایت ولري(4,2).

په روغتونو کې له طبي خدماتو څخه د ناروغانو رضایت یوه نسبي پدیده ده چې له 1969 لسیزي را روانه ده خو د دې موضوع په اړه فعاله څېړني او سروې ګاني د 1970 لسیزو په وروستیو او د 1980 لسیزي په لومړیو کې پیل سوي دي. دا ډول څېړني د مختلفو هیوادونو (پاکستان، هندوستان، چین، جرمني او داسي نور...) په روغتونو کې د روغتون د کیفیت د بهبود او د هغوی له طبي خدماتو څخه د ناروغانو د رضایت په اړه تر سره سوي دي په دې څېړونو سره د ټولني د مختلفو اقشارو څخه د معلوماتو راټولولو او تحلیل وروسته هڅه سوې ده چې په روغتونونو کې په ناروغانو زیات تمرکز وکړي او د هغوی د "ژوند مقدار" مفکوره د "ژوند کیفیت" مفکورې سره بدله کړي(4).

د ناروغانو د رضایت شالید موږ ته هغه فکټورونه رابښیي چې د ناروغانو پر رضایت اغېزه کوي دا تأثیر کوونکي فکټورونه کېدای سي په ناروغ یا د روغتیایي خدماتو په وړاندي کوونکي پوري اړه ولري. د روغتیایي خدماتو وړاندي کوونکي پوري اړوند فکټورونه د ډاکټر مهارت، د خپلمنځي اړیکو مهارتونه، د روغتیایي خدماتو کیفیت، د روغتون د کارمندانو چلند، مراقبت ته لاسرسی، بنسټیز امکانات او زیربناوي دي. په ناروغ پوري اړوند فکټورونو کې د ناروغ ټولنیز ډیموګرافیک ځانګړتیاوي د ناروغۍ مرحلې او د ډاکټر سره د اړیکو په اړه د ناروغ احساس او باور شامل دي.

د نن ورځي ناروغ د پخوا په پرتله ډېر لوستی او باخبره دئ، معلوماتو ته لاسرسی لري او هم د روغتیایي سیستم څخه زیات توقعات لري نو په داسي شرایطو کې اړینه ده چې ناروغانو ته د بشپړ صحي خدماتو وړاندي کولو اړوند مسائلو ته د یوې سروې له لاري رسیده ګي وسي په خدماتو کې نیمګړتیاوي په نښه او روغتیایي مراکز یې د اصلاح له پاره اړین امکانات په کار واچوي.

## میتودولوژي

د ۱۴۰۱ ل. کال سرطان میاشت په شروع کې د کندهار ښار په اتو (۸) خصوصي روغتونو(البلال، ارغندابي، میوند، سیدال، سیال، مهمند، نادري او نعمت روغتون) کې د ناروغانو د رضایت کچې معلومولو اړوند یوه سروې تر سره سول هغه ناروغان چې د روغتون OPD ته به یې مراجعه کول او یا به په داخل د روغتون کې بستر ول. د Descriptive Cross sectional study په واسطه 250 ناروغان او د هر روغتون په سطحه 30 ناروغان انتخاب سول چې له دې جملې څخه هر درېیم کس د پوښتنلیک جوابولو له پاره انتخاب سول. د معلوماتو راټولولو له پاره په نوموړي پوښتنلیک کې د ناروغ نوم، عمر، سکونت، ناروغي، طبي خدماتو لګښت، کیفیت، خدماتو ته په اساني لاسرسی، د ناروغ سره د کارمندانو چلند، د ناروغ رضایت او د طبي پرسونل د وړتیا اړوند

پوښتني شاملي وې. پوښتنلیک په ازمایښتي توګه یو ځل په څو محصلینو وازمایل سو، او د مناسبو تعدیلاتو وروسته د ناروغانو څخه د معلوماتو راټولولو له پاره وکارول سو. راټوله سوې ډاټا د ټولنیز ساینس پروګرام د احصایوي بستې SPSS په واسطه تحلیل سوه، ټوله ډاټا د ارقام په ډول په جدولونو کي اماده سوې ده، د فریکونسیو او فیصدیو په کارولو سره تشریح سوې ده.


## نتایج

نوموړې سروې چي د کندهار ښار په اته(8) خصوصي روغتونو کي تر سر سوې ده په مجموعي ډول د 250 ناروغانو له خوا پوښتنلیکونه جواب سوي وه. په 35 پوښتنلیکونه کي د ناروغانو عمرونه تر 18 کلونو کم وه نو د سروې له پاره نېمګړې وبلل سول. پاته 215 پوښتنلیکونه ډاټا تحلیل کوونکي پروګرام ته انتړې او تحلیل سوي دي په دې سروې کي (60.9%) 130 نارینه وو او 85 (39.5%) ښځینه وو ګډون درلودی. چي بشپړ ډیموګرافیک معلومات یې په اوله ګڼه جدول کي ښودل سوي دي.

جدول(1): په سروې کي د ګډونو کوونکو ناروغانو ټولنیزي ډیموګرافیک ځانګړتیاوي.

| متغیرونه | د ناروغانو شمېر او سلنه | |
|---|---|---|
| **جنس** | **فریکونسي** | **فیصدي** |
| نارینه | 130 | 60.5% |
| ښځینه | 85 | 39.5% |
| **عمر په کال** | | |
| 25-18 | 63 | 29.3% |
| 30-26 | 39 | 18.1% |
| 40-31 | 57 | 26.5% |
| 50-41 | 27 | 12.5% |
| 60-51 | 15 | 6.9% |
| 70-61 | 14 | 6.5% |
| **سکونت** | | |
| ښار | 107 | 49.7% |
| ولسوالی | 108 | 50.3% |
| **ناروغي** | | |
| بستر | 151 | 70.2% |
| سراپا | 64 | 29.8% |

په مجموعي توګه د 215 ناروغانو له جملې څخه چې مورډ د سروې له پاره انتخاب کړې وه (43.7%) 94 ناروغان د خصوصي روغتونو له طبي خدماتو څخه راضي او پاته (56.3%) 121 ناروغان ناراضه ول.




چارټ(1): د خصوصي روغتونو له طبي خدماتو څخه د ناروغانو رضایت کچه

**د ناروغ د جنسیت له مخې رضایت**

د جنس په اساس د نارینه وو رضایت نسبتاً ښځینه وو ته زیات وو. د (60.4%) 130 نارینه ناروغانو له جملې څخه 60 (27.9%) ناروغان د خصوصي روغتونو له طبي خدماتو څخه راضي او (32.5%) 70 ناروغان ناراضه ول او د (43.7%) 94 ښځینه ناروغانو له جملې څخه (15.8%) 34 د خصوصي روغتونو له طبي خدماتو څخه راضي او (23.7%) 51 ناراضه ول.

جدول(2): د جنسیت په اساس د روغتون له طبي خدماتو څخه د ناروغانو رضایت.

| د رضایت ډول | جنسیت | | مجموعه |
|---|---|---|---|
| | نارینه | ښځینه | |
| راضي | 60 | 34 | 94 |
| ناراضي | 70 | 51 | 121 |
| **مجموعه** | 130 | 85 | 215 |

**د ناروغ د عمر له مخې رضایت**

د عمر په اساس اکثریت نوي ځوانان د خصوصي روغتونو له طبي خدماتو څخه راضي او زیات پاخه عمره او زاړه اشخاص د روغتونو له طبي خدماتو څخه ناراضه ول.

جدول(3): د عمر په اساس د روغتون له طبي خدماتو څخه د ناروغانو رضایت.

| عمر | | 18-25 | 26-30 | 31-40 | 41-50 | 51-60 | 61-70 | مجموعه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د رضایت ډول | راضي | 27 | 15 | 29 | 9 | 7 | 7 | 94 |
| | ناراضي | 36 | 24 | 28 | 18 | 8 | 7 | 121 |
| **مجموعه** | | 63 | 39 | 57 | 27 | 15 | 14 | 215 |

## د ناروغ د سکونت له مخي رضايت

د سکونت په اساس ښاري خلک د ولسوالی په پرتله د خصوصي روغتونونو له طبي خدماتو څخه زيات راضي ول. د ښار د (49.7%) 107 ناروغانو له جملي څخه (24.1%) 52 ناروغان د روغتون له طبي خدماتو څخه راضي او (25.5) 55 ناروغان ناراضه ول او په ولسوالی کي د (50.2%) 108 ناروغانو له جملې څخه (19.5%) 42 ناروغان راضي او (30.6%) 66 ناروغان ناراضه ول.

جدول(4): د سکونت په اساس د روغتون له طبي خدماتو څخه د ناروغانو رضايت.

| د رضايت ډول | سکونت | | مجموعه |
|---|---|---|---|
| | ښار | ولسوالی | |
| راضي | 52 | 42 | 94 |
| ناراضي | 55 | 66 | 121 |
| مجموعه | 107 | 108 | 215 |

## د ناروغ ډول

د ناروغ د ډول په اساس د (70.2) 151 بستر ناروغانو له جملې څخه (29.3) 63 ناروغان د روغتون له طبي خدماتو څخه راضي او (40.9) 88 ناراضه ول. او د (29.7)64 سراپا نارغانو له جملې څخه (14.4) 31 ناروغان راضي او (15.3) 33 ناروغان ناراضه ول.

جدول(5): د ناروغ ډول په اساس د روغتون له طبي خدماتو څخه د ناروغانو رضايت

| د رضايت ډول | د ناروغ ډول | | مجموعه |
|---|---|---|---|
| | بستر | سراپا | |
| راضي | 63 | 31 | 94 |
| ناراضي | 88 | 33 | 121 |
| مجموعه | 151 | 64 | 215 |

جدول(6): د روغتیايي خدماتو د مختلفو اړخونو په اړه د ناروغانو نظرونه، (فیصدي) تعداد

| شمېره | متغیرونه | 1 ډېر موافق | 2 موافق | 3 نظر نلرم | 4 مخالف | 5 ډېر مخالف |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | ډاکټران د طبي معایناتو دلایل واضح کولای سي. | 120(55.8) | 50(25.3) | 14(6.5) | 18(8.4) | 13(6.0) |
| 2 | د ډاکټر په معاینخانه کي د طبي خدماتو اړین توکي موجود دي. | 131(60.9) | 68(31.6) | 8(3.7) | 5(2.3) | 3(1.4) |
| 3 | طبي خدمات په ډېره ښه توګه وړاندي کیږي | 130(60.5) | 66(30.7) | 4(1.9) | 9(4.2) | 6(2.8) |
| 4 | آیا ډاکټر ناروغ د ناروغۍ د تشخیص په اړه په فکر کي اچوي. | 17(7.9) | 59(27.4 | 42(19.5) | 68(31.6) | 29(13.5) |
| 5 | ناروغان طبي خدمات تمويلولی سي. | 56(26.0) | 87(40.5) | 43(20.0) | 22(10.2) | 7(3.3) |
| 6 | ډاکټر د ناروغۍ تشخیص او تداوي په احتیاط سره کوي. | 128(59.5) | 61(28.4) | 10(4.7) | 7(3.3) | 9(4.2) |
| 7 | د طبي خدماتو لګښت د ناروغ تر توان لوړ دی. | 51(23.7) | 65(30.2) | 15(7.0) | 62(28.8) | 22(10.2) |
| 8 | ډاکټران د اړتیا په وخت  په ډېره اسانۍ د لاسرسي وړ دي. | 106(49.3) | 62(28.8) | 9(4.2) | 24(11.2) | 14(6.5) |
| 9 | عاجل ناروغان باید په قطار کي ودریږي او ډېر انتظار وکړي. | 20(9.3) | 29(13.5) | 14(6.5) | 49(22.8) | 103(47.9) |
| 10 | ډاکټران د ناروغانو سره سوداګریز چلند کوي. | 29(13.5) | 65(30.2) | 18(8.4) | 62(28.8) | 41(19.1) |
| 11 | ډاکټران د ناروغ تداوي په دوستانه طریقه کوي. | 127(59.1) | 53(24.7) | 8(3.7) | 16(7.4) | 11(5.1) |
| 12 | ډاکټران د ناروغ په تداوي کي له تلوار څخه کار اخلي. | 23(10.7) | 64(28.8) | 17(7.9) | 73(34.0) | 38(17.7) |
| 13 | ډاکټران د ناروغ  خبري صرف نظر ګرځوي. | 34(15.8) | 52(24.2) | 7(3.3) | 74(34.4) | 48(22.3) |
| 14 | زه د ډاکټرانو پر وړتیا شکمن یم چي زما تداوي کوي. | 23(10.7) | 32(14.9) | 15(7.0) | 67(31.2) | 78(36.3) |
| 15 | ډاکټر د ناروغ سره زیات وخت تیروي. | 73(34.0) | 65(30.2) | 10(4.7) | 48(22.3) | 19(8.8) |
| 16 | د ناروغ له پاره د ډاکټر سره مخامخ لیدنه سخته ده. | 27(12.6) | 33(15.3) | 15(7.0) | 72(33.5) | 68(31.6) |
| 17 | زه د روغتون له طبي خدماتو څخه ناراضه یم. | 51(23.7) | 45(20.9) | 6(2.8) | 51(23.7) | 62(28.8) |
| 18 | د اړتیا په وخت کي طبي خدماتو ته بشپړ لاسرسي لرم. | 118(54.9) | 73(34.0) | 9(4.2) | 9(4.2) | 6(2.8) |

## مثبت او منفي نقاط

### مثبت نقاط

- د کندهار ښار د خصوصي روغتونو د رضايت کچې ارزولو په برخه کې اول لاس معلومات دي.
- د جنس، عمر، سکونت او د ناروغ د ډول په اساس د ناروغانو د رضايت کچه ارزول سوې ده.
- د روغتونو د کيفيت او لګښت په اړه د ناروغانو نظرونه تحليل سوي دي.
- د روغتونونو طبي پرسونل د ډاټا راټولونکو سره پوره همکاري کړې ده.
- ډاټا ټولونکي ټول ترېن او روغتون ته له تګ څخه مخکي يو ځل ارزيابي سوې وه.
- ډاټا د اوسني پرمختللي ډاټا تحليلونکي پروګرام SPSS په واسطه تحليل سوې ده.

### منفي نقاط

- د څېړنو او سروې ګانو د پوښتنليک جوابولو سره د کندهار ښار د خلکو زياته نااشنايي او نابلديت.
- د خصوصي روغتونو په اړه د مراجعه کوونکو ناروغانو غلط باور درلودل چې پر ډاټا يې اغېز کاوه.

## پایله

د سروې د پایلو په ترځ کې څرګنده سول چې د 215 ناروغانو له جملې څخه 94 تنه ناروغان چې د ټولو ناروغانو 43.7% کېږي د خصوصي روغتونو له طبي خدماتو څخه یې رضایت درلودی که د څېړني پایلي د نورو ورته څېړونو له پایلو سره پرتله سي نو لیدل کیږي چې د څېړني پایلي د نورو څېړنو له پایلو سره ډېر توپیر لري لکه: ډاکټر فاطمه مختار او نورو ملګرو یې په 2013 م کال په لاهور کې ورته څېړنه تر سره کړې وه، چې د 250 ناروغانو له جملې څخه (94%) 232 تنو ناروغانو رضایت درلودی همدارنګه مهوېش حسین او ملګرو یې په 2014 م کال د پاکستان په ښاري روغتونو کې چې کومه څېړنه تر سره کړې وه د 710 ناروغانو له جملې څخه (67%) 475 ناروغانو د روغتونونو له طبي خدماتو څخه رضایت درلودی نو له دې ارقامو څخه داسي معلومیږي چې په شخصي روغتونونو کې د ناروغانو د رضایت کچه په افغانستان کې په ځانګړې توګه په کندهار ولایت کې د پاکستان او نورو هیوادونو په پرتله ټیټه ده(4,1).

د دغه سروې په مرسته جوته سول چې په کندهار کې د ناروغانو تر نیم زیات (56.3%) 121 د خصوصي روغتونو له طبي خدماتو څخه ناخوښه دي. د دې له پاره چې د ناروغانو رضایت زیات سوی وي باید روغتونونه او روغتیایي کارکوونکي دغه نقاطو (د طبي خدماتو کیفیت، د خدماتو لګښت، د ناروغانو سره چلند او د روغتیایي پرسونل وړتیا) ته د سمون په موخه پوره توجه وکړي.

## سپارښتني

- د زیاتو مطالعاتو له پاره د خصوصي روغتونو ترڅنګ په دولتي روغتیایي مرکزونو کې هم نوري سروې ګاني د ناروغانو د رضایت کچې ارزولو له پاره ترسره سي.
- د هر طبي پروسیجر او یا معایناتو د تجویز کولو څخه مخکې ناروغ ته باید د هغه په اړوند پوره معلومات ورکول سي.
- د طبي خدماتو د کیفیت په برخه کې باید ټول روغتونونه د وخت سره سم په نوي او عصري وسایلو سمبال سي.
- د طبي خدماتو د لګښت په برخه کې باید پوره سهولت وسي ځکه چې ترڅېړني لاندي روغتونو کې هیڅ یوه روغتون د غریب اشخاصو له پاره ځانګړې برنامه نه درلودل.
- ډاکټران باید د هر ناروغ تشخیص او تداوي ته کافي وخت ورکړي او د تلوار څخه کار وانخلي.
- ډاکټران باید د عملیاتو یا نورو طبي پروسیجرونو په تر سره کولو کې له ډېر احتیاط څخه کار واخلي.
- ډاکټران باید د ناروغ مشکل په دقت واوري او د ناروغ خبري صرف نظر نه کړي.
- د روغتونو د معلومات په څانګو کې داسي کسان وګمارل سي چې په دواړو (پښتو او دري) ملي ژبو خبري وکولای سي.
- په روغتونونو کې باید د نارینه او ښځینه ناروغانو له پاره منظم انتظار ځایونه جوړ سي.
- د روغتیا ریاست دي په منظم ډول د خصوصي روغتونو د خدماتو څخه له نزدې لیدنه او ارزونه وکړي.

# مأخذونه

Ekram S, Rahman F. (2006). The Concept of patient Satisfaction as it relates to contemporary health care. Taj Journal of Teachers Association. TAJ: ISSN 1019-8555. Doi: 10.33.29/taj. v19i1.3159

Faiza Manzoor, Longbao Wei, Abid Hussain, Muhammad Asif, Syed Irshad, Ali Shah. (2019) Patient Satisfaction with Health Care Services; An Application of Physician 's Behavior as a Moderator, Department of Agricultural Economics and Management, Zhejiang University, China. Doi: 10.3390/ijerph16183318.

Muhammad Afzal, Ahmad khan, Farwa Rizvi, Abrar Hussain. (2011). Patient Satisfaction Levels in out Patient Department of a Teaching Hospital. Community Medicine department, Islamabad Medical and Dental College, Islamabad. (JIMDC); 1211(1):26-29.

Mukhtar F, Anjum A, Bajwa MA, Shahzad S, Hamid S, Masood Z, Mustafa R. (2013). Patient Satisfaction; OPD Services in a Tertiary Care Hospital of Lahore. Professional Med J2013;20(6): 973-980. Doi: 10.29309/TPNJ/2013.20.06.1831

# Patients' Satisfaction towards Private Hospitals in Kandahar City

**Surveyors:**

*Students of Medical Faculty*

Rohullah, Allah Yar, Nasir Ahmad, Aminullah, Abdul Muhit, Sufia, Marya, Khalida, Zuhal, Hamida, Saliha and Tamana

**Advisors:**

Wakil Ahmad Hewadmal, Head of Para Clinic Department
+93 70 63 400 63
W.hewadmal@gmail.com
Doctor Mohammad Aimal Rahemi, Head of Clinic Department
+93 700 90 61 16
Aimal.rahemi786@gmail.com

## Abstract

Patient satisfaction is a relative phenomenon, which warrant the patient's needs which he or she expectation from the health system, and experience of health care. The Objective of this survey is to determine the level of patients' satisfaction towards IPD and OPD services with reference to doctor-patient interaction, fees, diagnosis, doctor ability and overall health facilities. The Study Design is based on descriptive cross-sectional study and it is conducted in eight private hospitals of Kandahar province during June 2022. A sample size of 215 patients was selected randomly by descriptive cross-sectional study and collected data with questionnaire from all patients. Data was analyzed by statistical package for social sciences (SPSS). The analyzed data is presented in figures and tables. It is described by using frequencies and percentages. It results shows that from 215 patients 94(43.7%) were satisfied and 121(56.3%) were Dissatisfied from hospitals health care system. 190(91.2%) patients were satisfied and 15(7%) patients were dissatisfied from hospital health care quality and 116(53.9%) patients were satisfied and 84(39%) were dissatisfied from health care costs. In the conclusion with the help of this survey, it was determined that more than half of the patients 121(56.3%) are dissatisfied from medical services of private hospitals in Kandahar. In order to increase patient satisfaction, hospitals and medical staff should do full attention for correcting to improve medical care quality, costs, interaction and medical staffs' ability.

**Keywords**: Patient, Doctor, Hospital, Satisfaction, Health care

# د کندهار په ولایت کې لوړو زده‌کړو ته د دوولسم ټولګي زده‌کوونکو دلېوالتیا کچه

**سروې کوونکي محصلان:**

اشفاق احمد، سیف الله، نجیب احمد، محمد، ذبیح الله، احسان الله، سمیع الله، رفیع الله

د حقوق او سیاسي علومو پوهنځي محصلان

**لارښود استادان:**

شجاع آرین او محب الله شبیر

**لنډیز (Abstract)**

په دې وروستیو کې افغانستان د ژورو تغیراتو شاهد وو، چې د همدې تغیراتو له کبله په هیواد کې ډېر بدلونونه رامنځته سول چې یو له هغو څخه د لوړو زده سره د زده کوونکو د علاقې موضوع وه. په همدې اساس دا مهمه وبلل سوه چې د یادي ستونزي د سپړني او روښانه کولو له پاره یوه سروې ترسره سي. دغه سروې د دوولسم ټولګی د زده کوونکو د علاقې کچه راښيي. ددې سروې څخه هدف دا دی، تر څو په کندهار ولایت کې له لوړو زده کړو سره د دوولسم ټولګي زده کوونکو علاقه معلومه سي. دا سروې د کندهار ښار او د کم شمېر والسوالیو په ښوونځیو کې د ځانګړې پوښتنپاڼي له لاري د دوولسم ټولګي  زده کوونکو څخه په داسې حال کې ترسره سوې ده چې د ښوونځیو کلنیو ازموینو جریان درلودی. ددې سروې  په پایله کې معلومه سوه چې اوس هم په زیاته کچه ځوانانو د لوړو زده کړو سره علاقه لري اما بیا هم ځیني لاملونه لکه: د کورنۍ د مشرانو بې سوادې، د درس تر څنګ د زده کوونکو کاري مصروفیت، د کانکور آماده ګي نه تعقیبول، د لوړو زده کړو د اهمیت په اړه عامه پوهاوې نشتون د زده کوونکو د نه علاقمندې هغه لاملونه دي چې د دوی پر علاقه يې منفي اغېز کړی دئ.

**کلیدي کلمې:** دوولسم ټولګی، زده‌کوونکي، علاقه، لوړې زده‌کړې

## پېژندنه

اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ﴿١﴾ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ ﴿٢﴾ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ ﴿٣﴾الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ﴿٤﴾ عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ﴿٥﴾ (الایه، سوره الاعلق)

له هغه ځایه چې علم یو اللهي نعمت دي چې تري برخمن خلګ نېک بخته یادیږي. نن نري په یو نوي عصر کې قرار لري او د هر پرمختګ بنسټ د علومو له پیچلو پراوونو څخه په بریالی توګه تېرېدل تشکیلوي. افغانستان یوه مذهبي ټولنه ده او دلته د علم د زده کړي ارزښت خورا پخوانی ریښې لري. د اسلام دریځ هم د علم او زده کړي تر لاسه کولو اړوند واضح دئ او خلګ هم دې نتیجې ته رسیدلي دي چې د ټولني د ښې بقاء او پرمختګ لپاره باید د علم لاري پیروي وسي. د همدې لپاره د علومو زده کړي مراکزو د تقویې لپاره له کلونو کار روان دئ، ترڅو نارینه او ښځینه وکولای سي په ښو درجو زده کړي ترسره او د ټولني د یوه پوه عنصر په توګه د ټولني د پرمختګ لپاره ګټور تمام سئ. په افغانستان کې تر دوولسم ټولګي را وروسته زده کړیالان د کانکور آزموینه ورکوي تر څو د خپلي خوښي مسلک ته بریالي او د خپلي خوښي رشته په مسلکي شکل د پوهنتون په اړانه کې ولولي چې دا چاره له کلونو راهیسې دوام لري.

د ۱۳۸۲ اساسي قانون ۴۳ ماده کې راغلي چې (زده کړه د افغانستان د ټولو اتباعو حق دئ چې د لیسانس تر درجې پوري وړیا د دولت له خوا تامینیږي. بل اړخ ته ډیري داسي پدیدې سته چې دا د زده کړو دا سلسله تقویه او یا هم ټکني کولای سئ، سیاسي او اقتصادي حالات پر زده کړو مستقیم او غیر مستقیم اغېز لرونکي فکټورنو حسابل کیږي. داچې په افغانستان کې تیر کال سیاسي تحولات رامنځته سول د زده کړو دا روان بهیر به حتما تري آغیزمن سوی وي، ددې سروې په مټ غواړو څرګنده کړو چې د ښوونځیو څومره فارغ زده کوونکي علاقه لري چې لوړې زده کړي وکړي. په همدې موخه ددې سروې عنوان (په کندهار ولایت کې لوړو زده کړو ته د دولسم ټولګي زده کوونکو د لیوالتیا کچه) ټاکل سوې ده. ددې سروې په ترسره کولو کې پوره هڅه سوې ده ترڅو د څېړنیزو اصولو په رڼا کې کره معلومات را ټول او تر اړوند ادارو او هیوادوالو ورسیږي.

## د سروې موخه

د کندهار ولایت د ښاري مکاتبو د دوولسم ټولګیو د زده کوونکو د لوړو زده کړو سره د علاقې کچه معلومول

## تېرو آثارو ته کتنه

که څه هم مشخصاً د یادي موضوع اړوند په کندهار ولایت کي تر اوسه کومه سروې نه ده ترسره سوې، خو د موضوع اړوند تیرو وختونو کي بېلابیلي ورته سروې ګاني او لیکني سوي دي چي په لنډ ډول سره یې یادونه کیږي.
صادقی، حسین (۱۳۹۸) ایراني لیکوال تر (عوامل موثر بر علاقه مندی دانش آموزان به مطالعه و کتابخوانی) عنوان لاندي لیکنه کړې ده چي په نتیجه کي یې د والدینو همکاري او درسي توکو ته لاسرسي د زده کړو سره د علاقمندي مهم لاملونه یاد کړي دي.
د باختر آژانس راپور چي د ۱۴۰۱ د حمل پر ۱۳ نېټه تر (علاقه مندی جوانان به فرهنګ مطالعه نسبت به سال‌های ګذشته در کندز افزایش یافته است) عنوان لاندي له کتابتونونو سره یې د مرکو له لاري نشر کړئ چي عمده دلایل یې امنیت او د ځوانانو ویښتیا یاد کړې ده.

د محمود امرائی ایراني لیکوال څیړنه د (میزان علاقه دانشجویان به رشته تحصیلی خود) په پایله کي ښودلې چي د زده کړیالانو علاقمندي له خپلي تحصیلي رشتې سره ډېره کمه ده او دلایل یې د پوهنتون او رشتې په اړه د زده کوونکو د معلومات نشتون، د کورنۍ خوښې ته ترجیح ورکول او د علاقې پرځای فراغت سند او کاري فرصتونو ته توجه کول بلل سوي دي.
پورتنیو آثارو ته په کتو هڅه سوې ده ترڅو په دغه سروې کي دکندهار ولایت د ښار او ولسوالیو د ښوونځیو د دوولسم ټولګیو زده کوونکو علاقه د لوړو زده کړو سره د لمړنۍ کره ډاټا په راغونډولو او تحلیل سره معلومه سي چي د نورو څېړنو او سروې ګانو په پرتله ټولني ته نوي معلومات وړاندي کوي.

## د سروې میتودولوژي

دغه سروې د کندهار ښار او ولسوالیو په ښوونځیو کي د دوو میاشتو په موده کي ترسره سوې ده. د ښوونځیو له دوولسم ټولګي څخه ۱۴۷ تنه زده کوونکي د ترتیبي (Systematic) نمونې اخیستني پراساس ټاکل سوي او ډاټا د پوښتنلیک په وسیله راټوله سوې ده. د دوولسم ټولګیو ۱۴۷ ټاکل سوو زده کوونکو ته پوښتنلیکونه ووېشل سوي، د پوښتنلیک د جوابولو په اړه زده کوونکي پوه سوې دي. راټوله سوې ډاټا د مایکرو سافټ اکسل پروګرام په مرسته تحلیل سوې ده. د ډاټا راټولولو لپاره د ښوونځیو د ادارو او زده کوونکو رضایت اخیستل سوی دئ، د ښوونځیو او زده کوونکو نومونه د سروې په تحلیلي راپور کي د جواب ویونکو د حقوقي اړخه نه دي لیکل سوي.

## د سروې نتایج

نوموړي سروې چي د کندهار په ښار او ولسوالیو کي ترسره سوې ټول ټال ۱۴۷ سمپلونه ټاکل سوي چي ۷۸ فیصده پوښتنلیکونه د ښاري ښوونځیو د دوولسم ټولګي د زده کوونکو له خوا جواب سوي او پاته نور په ولسوالیو کي د موجوده ښوونځیو د دوولسم ټولګیو د زده کوونکو له خوا جواب سوي دي. پوښتنلیک درې برخي درلودې چي اوله برخه ئې لنډه مقدمه، دوهمه برخه ئې د جواب ویونکو زده کوونکو ځانګړتیاوو (معلومات) او درېیمه برخه ئې مستقیماً د سروې پوښتنو ته ځانګړې سوې ول.

لومړی جدول: د زده کوونکو ټولنیز معلومات


Table 1: Social Demographic characteristics of the respondents (n=۱۴۷)

| متحولونه | شمېر | فیصدي |
|---|---|---|
| **جنسیت** | | |
| نارینه | ۱۴۷ | ۱۰۰ |
| ښځینه | ۰ | ۰ |
| **مدني حالت** | | |
| متاهل | ۱۸ | ۱۳ |
| مجرد | ۱۱۹ | ۸۷ |
| **د زده کړو ځای** | | |
| ښار | ۱۱۵ | ۷۸ |
| ولسوالي | ۳۲ | ۲۲ |


دوهم جدول: د هو او نه پوښتني او جوابونه

| پوښتنه | جواب | تعداد (Frequency) | فیصدي (Percentage %) |
|---|---|---|---|
| ۱- د لوړو زده کړو سره د زده کوونکو علاقه | هو | ۱۳۸ | ۹۴ |
| | نه | ۹ | ۴ |
| ۲- د زده کوونکو د کورنۍ د مشر زده کړي | هو | ۷۷ | ۵۲ |
| | نه | ۷۰ | ۴۸ |
| ۳- په ښوونځي کي د استادانو له خوا د لوړو زده کړو د اهمیت بیانول | هو | ۱۰۷ | ۷۳ |
| | نه | ۴۰ | ۲۷ |
| ۴- د پوهنتون د محصلانو سره د زده کوونکو اړیکه | هو | ۱۱۱ | ۷٦ |
| | نه | ۳٦ | ۲۴ |
| ۵- د کانکور د امادګۍ کورس تعقیبول | هو | ۵٦ | ۳۸ |
| | نه | ۹۱ | ٦۲ |
| ٦- د زده‌کړو ترڅنګ په بل کار مصروفیت | هو | ۸۷ | ۵۹ |
| | نه | ٦۰ | ۴۱ |
| ۷- لوړو زده کړو ته په رسېدو کي د تدریس سوي مضامینو مرسته | هو | ۱۱۸ | ۸۰ |
| | نه | ۲۹ | ۲۰ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۸- په دې پوهېدل چې د لوړو زده کړو په مراکزو کې څه زده کیږي | هو | ۹۸ | ٦۷ |
| | نه | ۴۹ | ۳۳ |
| ۹- له نژدې څخه د لوړو زده کړو مرکز لیدنه | هو | ۸۳ | ٥٦ |
| | نه | ٦۴ | ۴۴ |
| ۱۰- د مسلکي لوړو زده کړو سره د زده کوونکو علاقه | هو | ۱۲۲ | ۸۳ |
| | نه | ۲۵ | ۱۷ |




اول چارټ: د استادانو له خوا د لوړو زده کړو اهمیت بیانول




دوهم چارټ: د لوړو زده کړو سره د زده کوونکو علاقه

درېیم جدول: د هو او نه جوابونو مجموعه فیصدي

| (Percentage100 %) | |
|---|---|
| هو | نه |
| 94 | 6 |
| 52 | 48 |
| 73 | 27 |
| 76 | 24 |
| 38 | 62 |
| 59 | 41 |
| 80 | 20 |
| 67 | 33 |
| 56 | 44 |
| 83 | 17 |
| **67.80%** | **32.20%** |

**الف قوي نقاط:**

۱ـ د سروې لپاره ډاټا اسانه په لاس راغله.

۲ـ زده کوونکو په داوطلب شکل له ډاټا ټولوونکو سره خپل معلومات شریکول.

۳ـ د ښوونځي مدیرانو او کارکوونکو له ډاټا ټولونکو سره پوره همکاري کړېده.

۴- ټوله پروسه د محصلانو په توسط ترسره سول.

**ب ضعیف نقاط:**

۱ـ د پوښتنلیک سره زده کوونکي آشنا نه ول.

۲- د سروې کوونکو محصلانو نوې تجربه ول.

۳- د سمپل شمېر د نفوس له مخي لږ ټاکل سوی دئ.

## مناقشه

د هغه زده کونکو د کورنۍ مشران چي د لوړو زده کړو څخه بې برخي وه فیصدي یې ۴۸ ده چي دا یو لوړ رقم دئ او د زده کوونکو پر درسي علاقې مستقیم تاثیر لري. همدارنګه د کانکور آماده ګي کورسونو نه تعقیب ٦٢ فیصده وو چي خپله ددې ښکارندویي کوي چي زده کوونکي پوره امادګي نه لري او نه سي کولای لوړو زده کړو ته لار پیداکړي او چي زیاتره محصلان یوازي د اټکل له مخي د بخت ازمایلو سره په کانکور ازموینه کي ګډون کوي. د زده کونکو کاري مصروفیت ۴۱ فیصده وو چي زده کوونکي د درس علاوه په دندو بوخت دي او دا چاره ممکن د دوی پر درسي علاقه قوي تاثیر ولري. د لوړو زده کړو مراکزو اړوند معلومات یا هم له هغوی سره اړیکه نه درلودل او یا هم په ټولنه کي منفي ذهنیت نور هغه عوامل دي چي د زده کوونکو پر علاقه یې اثر کړی دئ.

## پایله

د کندهار ښار او یو شمېر ولسوالیو له مېشتو (۱۴۷) د دولسم ټولګي زده کوونکو له خوا د جواب سوو پوښتنلیکونو څخه دا پایله ترلاسه سوه چي ٦۴ فیصده زده کوونکي له لوړو زده کړو سره علاقه لري. په مجموع کي د کورنۍ د مشرانو بې سوادي، د درس تر څنګ د زده کوونکو کاري مصروفیت، د کانکور آماده ګي نه تعقیبول، د لوړو زده کړو د مراکزو سره نه علاقه او د لوړو زده کړو د اهمیت په اړه عامه پوهاوي نشتون د زده کوونکو د نه علاقمندي لاملونه یادولای سو.

## ماخذونه

قرآن الکریم، سوره علق، ۱-۵، آیتونه

اساسي قانون (۱۳۸۲ل). ۸۱۸ ګڼه رسمي جریده. ۴۳ ماده.

صادقی، حسین (۱۳۹۸). عوامل موثر بر علاقه مندی دانش آموزان به مطالعه و کتابخوانی

https://hawzah.net/fa/LifeStyle/View/70195/%D8%B9%D9%88%D8%A7%D9%85%D9%84-%D9%85%D9%88%D8%AB%D8%B1-%D8%A8%D8%B1-%D8%B9%D9%84%D8%A7%D9%82%D9%87-%D9%85%D9%86%D8%AF%DB%8C-%D8%AF%D8%A7%D9%86%D8%B4-%D8%A2%D9%85%D9%88%D8%B2%D8%A7%D9%86-%D8%A8%D9%87-%D9%85%D8%B7%D8%A7%D9%84%D8%B9%D9%87-%D9%88-%DA%A9%D8%AA%D8%A7%D8%A8%D8%AE%D9%88%D8%A7%D9%86%DB%8C

د باختر آژانس راپور ( ۱۴۰۱/۱/۱۳). علاقه مندی جوانان به فرهنگ مطالعه نسبت به سال‌های گذشته در کندز افزایش یافته است

https://bakhtarnews.af/dr/%D8%B9%D9%84%D8%A7%D9%82%D9%87-%D9%85%D9%86%D8%AF%DB%8C-%D8%AC%D9%88%D8%A7%D9%86%D8%A7%D9%86-%D8%A8%D9%87-%D9%81%D8%B1%D9%87%D9%86%DA%AF-%D9%85%D8%B7%D8%A7%D9%84%D8%B9%D9%87-%D9%86%D8%B3/

ارزو نیوز (۱۴۰۰ جوزا). کاهش‌علاقه جوانان به فرهنگ کتاب‌خوانی در کندهار

https://arezo.news/%D8%A7%D9%81%D9%81%D8%A7%D9%86%D8%B3%D8%AA%D8%A7%D9%86/%DA%A9%D8%A7%D9%87%D8%B4%E2%80%8C%D8%B9%D9%84%D8%A7%D9%82%D9%87-%D8%AC%D9%88%D8%A7%D9%86%D8%A7%D9%86-%D8%A8%D9%87-%D9%81%D8%B1%D9%87%D9%86%DA%AF-%DA%A9%D8%AA%D8%A7%D8%A8%E2%80%8C%D8%AE%D9%88%D8%A7/

محمود، امرائی، میزان علاقه دانشجویان به رشته تحصیلی خود

# The Interest Level of Twelfth Grade Students with Higher Education in Kandahar

**Surveyors:**

Ishfaq Ahmed, Saifullah, Najeeb Ahmed, Muhammad, Zabihullah, Ehsanullah, Samiullah, Rafiullah, Amir Arsalan

*Students of Law and Political Science Faculty*

**Advisors:**

Shuja Arian and Muhibullah Shubair

**Abstract**

Recently, Afghanistan has witnessed a big political revolution. Due to that change, many problems have arisen in the country, one of that is the lack of students' interest with higher education. Based on this, it was considered important to conduct a survey to explore and clarify this problem. This survey shows the level of interest and solution of the twelfth-grade students with higher education. The purpose of this research is to find out the interest of twelfth grade students in higher education in Kandahar province. This research was conducted at urban schools of Kandahar. The data was collected through questionnaires from the twelfth-grade students while the annual exams were going on. As a result of this survey, it was found that majority students were interested in getting higher education. On the other hand, illiterate elders in family, part time jobs, unpreparedness for entrance exam (Kankoor), lack of knowledge about the importance of higher education are the factors which are identified in the research which causes the lack of interest of some students with higher education.

**Keywords:** higher education, interest, twelfth grade, students

ملالی د لوړو زده کړو مؤسسه

Malalay Institute of Higher Education

# Malalay

Academic Research Journal

2nd Year, Issue No: 2, 2023

Editorial Board Members:

- Associate Prof. Mohammad Muzamil Islami (Ph.D)
- Associate Prof. Misbahullah Abdul Baqi (Ph.D)
- Associate Prof. Bilal Ahmad Rahimi (Ph.D)
- Assistant Prof. Najibullah Salih (Ph.D)
- Senior Teaching Assistant. MD. M. Haroon Stanikzai
- Teaching Assistant. Habiburahman Rahmani
- Teaching Assistant. Hikmatullah Mulki
- Mr. Abdulrahman Saeed